فتوضأ ورفع یدیہ فقال اللھم اغفر لعبید ابی عامر اللھم اجعلہ یوم القیٰمة فوق کثیر من خلقک فقلت ولی فقال اللھم اغفر لعبد اللہ بن قیس ذنبہ وادخلہ یوم القیٰمة مدخلا کریما ۔ (بخاری ص ۶۱۹) معلومہ شوہ چہ جہر او رفعہ دید پہ دعا دَ تعزیت کښے جائز دہ ۔

شرکاء متشاکسون ورجلا سلما لرجل هل یستویان مثلا۔ (زمر: ۲۹)

(۳) وحدة التصرف یعنی محکمے د حکومت نے تقسیم کړی شوی چه الا ء الله الا هو دے۔ نو ځکه بنده احتیاج صرف باری تعالی ته دے په حاجت روائی کښې خاص د باری تعالی نه یه غواړو څه چه غواړو۔ ان هذا لهو الفضل المبین ورنه نوبکوم کوم دربه ککی وهل د مشرکانو پیشان لو۔ یارب لک الحمد کما ینبغی لجلال وجهک وعظیم سلطانک۔ نو ځکه باری تعالی فرمائی بطور د تعلیم بنده ته ایاک نعبد وایاک نستعین۔ ای قولوا۔

(۴) کثرت رحمت په الرحمن کښې یعنی تمام مخلوق معدود او محدود دی او رحم د باری تعالی لا معدود او لا محدود دے۔

(۵) رحمت طبعی په الرحیم کښې۔ یعنی رحم خوئی د باری تعالی دے غضب ئے خوئی نه دے یعنی هر وخت رحم کوی او غضب هله کوی چه بنده نافرمانی او کړی۔ نو ځکه باری تعالی فرمائی۔ ان رحمتی سبقت غضبی۔

ولو یری الذین ظلموا: ۱۶۵

(۱) لو شرطیه یری فعل شرط الذین ظلموا فاعل مفعول حذف دے چه حال انفسهم دے اذ یرون العذاب ظرف متعلق دے په حال انفسهم پورے۔ جزائے محذوفه ده چه ما فعلوا الشرک دے ان القوة په تقدیر د جار دسره متعلق دے په عذاب پورے

ترجمه:۔ که چرے معلوم کړی وے دے ظالمانو ربه دنیا کښې) حال د نفسو نو خپلو کله چه او وینی عذاب (اخروی) ځکه چه طاقت خدائے لره دے ټول او خدائے سخت عذاب ورکونکے دے (نو شرک به ئے نه وے کړے)

(۲) لو تمنائیه اذ یرون متعلق دے په یری پورے۔ او د عذاب نه مراد دنیوی دے۔ ان القوة الخ قائم دے په مقام د مفعولین د یری۔ ترجمه:۔ ارمان که معلوم کړے دے ظالمانو کله چه او وینی عذاب (دنیوی داخبره) چه طاقت خدائے لره دے ټول الخ۔ یعنی

اولئک علیهم صلوٰة من ربهم ورحمة واولئک هم المهتدون (۱۵۷) او وے عمره خه دوه انړوی د ثواب او خه غوټه ده د ثواب بخاری ۱۷۰ ص ۱۷۲

(۱) اول منهج دے دویم منهج دا دے چه مفعول ثانی حذف دے چه حاصل دے او دویم منهج دا دے چه مفعول ثانی نه غواړی (نحو) جواهر ۸۲

... عليك حقا وان لنفسك عليك حقا وان لاهلك عليك حقا فاعط كل ذى حق حقه، فقال صدق سلمان - (الرحيق المختوم)

عذاب دينوى او دينى او بيا هم د بارى تعالىٰ طاقت نه معلوموى يعنى كه د دوى د معبودانو په لاس كښې څه طاقت وے نو دوى به ئے (د عذاب دينوى نه) بچ كړى وو - (شيخ رح).

(۳) لَوْ تمانيه د يرى د پاره مفعول حذف دے چه امرا دے - او د اذ يرون العذاب د پاره متعلق محذوف دے چه يرون دے او دا يرون د امرا محذوف د پاره صفت دے - او ان القوة لله الخ خبر دے د پاره د مبتدا محذوف چه هو دے - ترجمه :- ارمان كه معلوم كړے وے ظالمانو ربه دنيا كښې يو كار چه معلوم به كى كله چه او وينى عذاب (اخروى هغه كار دا دے) چه طاقت خدائے لره دے - (ترجمان القرآن)

(۴) لَوْ شرطيه - اذ يرون متعلق دے په يرى پورے - او د عذاب نه مراد اخروى دے - ان القوة الخ قائم دے په مقام د مفعولين د يرى او جزا حذف ده چه لندموا اشد الندامة ده - ترجمه :- كه چرے او وينى ظالمان كله چه او وينى عذاب (اخروى دا خبره) چه طاقت خدائے لره دے الخ نو سخت به خيمان شى - (بيضاوى)

(۱) إِے ا يتبعون ا ٰباءهم لو كان آباؤهم يعقلون شيئا و يهتدون	اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ : ۱۷۰

ولو كان ا ٰباؤهم لا يعقلون شيئا ولا يهتدون - نو واو عاطفه دے او لو شرطيه دے او معطوف عليه محذوف دے او ا يتبعون دال بالجزاء دے -

(۲) ا يتبعون ا ٰباءهم حال كون ا ٰباءهم لا يعقلون الخ - نو واو حاليه او لو مصدريه دے يعنى دواړو تقديرونو د عقل او د عدم عقل كښې تقليد د پلار او نيكه كوى دا خبره غلط ده - نو دا خو تقليد مذموم دے - تقليد خو صرف په تقدير د عقل او د اهتداء كښې دے چه تقليد محمود دے -

نو معلومه شوه چه صاحب تقليد هغه كوؤ چه علم او عقل ولري ده - عبدالله بن مبارك فرمائى : لقد زين البلاد ومن عليها امام المسلمين ابو حنيفة بآثار وفقه في حديث كآثار الزبور على الصحيفة

۳ مقام ابى حنيفة رح

فلعنة الله عدد رمل على من رد قول ابى حنيفة

عبدالله بن مبارك امير المؤمنين فى الحديث : فما فى المشرقين له نظير ، ولا بالمغربين ولا بالكوفة

ان الهدایه کالقرآن قد نسخت ما صنفوا قبلها من الشرع من کتب . (هدایه لما نکه هدالت پی ملک) یعنی هدایه کے باوجود اور کتب فقہ کی ضرورت

دَ دویم ترکیب حاصل دا دے چه اتباع دَ با وُ کوئ په دے حال کښے چه پلار او نیکه خوئے لا یعقل دی په دے حال کښے تقلید مذموم دے (۳) او که وَاو وصله شی نو همزه خوانکاری دے نو حاصل به دا وی چه آیا اتباع دَ پلار نیکه کوئ په دے حال کښے چه لا یعقل دی؟ یعنی په دے حال کښے اتباع نه ده پکار ۔ نو په نقیض دَ واوُ وصله کښے خو حکم په طریق اولیٰ سره وی ۸ لهٰذا دے وجے نه دا دریم ترکیب محل دَ فکر دے ۔

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ : ۱۷۳

انما راجح دَ پاره دَ قصر نو قصر دَ حرمة خو په دے مذکورا شیاء کښے غلط دے ۔ نو بعض وائی چه دا مذکورا شیاء به حرمة پورے مقصور دی لیکن دا جواب خو دَ قانون دَ انما خلاف دے ځکه چه په انما کښے قصر دَ ماقبل وی په مابعد پورے نو ماقبل خو حرمة دے نو بعض وائی چه دا قصر اضافی دے په نسبت سره بحیرے سائبے وغیره ته ۔ او درتنی والا وائی چه دا انما دَ پاره دَ تاکید دے نهٔ دَ پاره دَ قصر نو اعتراض دَ سره وارد نه شو ۔

المیتة دا هغه ته وائی چه ذبح شرعی سره نه وی مړه ۔ ذبح شرعی یو ده اختیاری بلهٔ اضطراری ده ۔ ذبح اضطراری دیته وائی چه لاس ئے نه رسی دَ ذبحے اختیاری ۔ نو چه دَ هر جز دَ حیوان نه په بسم الله سره وینه او باسی په هغه شی سره چه په هغه سره زخم کیږی او وینه بے وُځی خو چه قائم نوک نه وی برا بره خبره ده چه کټه وی او که لرګے تیره ۔ په خلاف دَ مړدکی نه چه دے خو جرحه کوی نه پچ پا بلکه به طاقت دَ بار و دُ سره ۔ نو دَ توپک په مړدکی سره ذبحه نه شی راتلے (معارف) ۔

الدم ۔ نه مراد مسفوحه ده ۔

عه وَمَا اهلّ بهِ لغیر الله (۱) هغه مذبوحه چه په نوم دَ غیر الله ذکر شی (۲) هغه شے چه په نوم دَ غیر الله ذکر شی ۔ (۳) هغه

ع ۔ نه رہی جیسا کہ قرآن ناسخ ہے کتب منزلہ من اسماء کی ۔ فافہم)

۸ : نو په تقدیر دَ یعقل سره په طریق اولیٰ اتباع مه کوئ حال دا چه په تقدیر دَ عقل سره خو اتباع پکار ده

عه دَ ما یؤخذ من الدراهم والشمع و الزیت وغیرها مما ینقل الی ضرائح (قبرو) الاولیاء الکرام تقربًا الیهم فحرام باجماع المسلمین (در المختار)

۱۲ ۱۲ ۱۲

یعنی په نیت د تحریمات د غیر الله .

علمه چه په هغې آواز پورته کړے شی د پاره د تعظیم د غیر الله رشیخ)

امام شوکانیؒ فرمائی چه د نبی علیه السلام د تقرب د پاره ذبح د اهل سنت والجماعت په نزد کفر دے۔ نو د نورو امواتو د پاره به څنګه جائز شی؟ د بعض مفسرینو قول دے چه د معتقدینو د امواتو نه د نفع او د ضرر په خیال په قبر و نو ملاند ذبحه په ما اهل لغیر الله کښې داخله ده (اعظم التفاسیر ص۲۳)

البته ایصال ثواب جائز دے نه تقرب۔ فرق په مابین د ایصال د ثواب او د تقرب کښې دا دے۔ چا ته چه ثواب بخی نو هغه ورته عاجز ښکاره شی لکه خپل مورو پلار نو دا ایصال ثواب جائز دے۔ او کله هغه ورته عاجز نه ښکاری بلکه خپل ځان ورته په یو کار کښې مجبور او عاجز ښکاره شی نو دا ذبح وغیره اوکی د یو کس د پاره چه هغه لره سره پدغه مقصد کښې امداد یا د دهٔ د پاره دعا اوکی۔ لکه یو ولی ته ثواب او بخی چه هغه به لره سره څه امداد اوکی یا به ورلره دعا وکی دا تقرب غیر نا جائز دے (یعنی جائز نه دے) که یو سړے او وائی چه ځما خو د دغه دلیا ر د ولی مرده مریضانو مقصود دی هغوی لره دعوت کوم نو ته ورته او وایه چه په طلباء د علم باندې خیرات کښې ډیر ثواب دے۔ نو که دهٔ د خپلے ارادے نه رجوع وکړه نو نیت صحیح دے او که وُوے چه نا زهٔ خو پدغه مریضانو د ډزکه باندې خیرات کوم۔ نو معلومه شوه چه د دهٔ د دغه ولی نه طمع ده۔

او که ایصال ثواب کوی نو تعین د یو وخت بے د دلیل شرعی نه په هغه وخت کښې ثواب زیات ګنړل بدعت دے۔

غیر باغ ولا عاد۔ چه نه وی باغی د سلطان نه۔ او نه وی تجاوز کونکے د حد نه۔ چه د وخت نه مخکښې او د حد نه ډیر نه خوری

(۱) که منذور معین وه د غیر الله نو دا خو حرام دے رشاه عبد العزیز صاحب) فرمائی چه په دے منذور کښې خبث پیدا شو زاید مخنزیر نه نو دے په ذبح سره په اسم د خدائے سره نه حلالیږی (۲) او که غیر معین وه او د غیر الله په نوم ذبحه شو نو هم حرام دے (۳) او که غیر معین وه او دا نا ذر تائب شو او د خدائے تعالیٰ په نوم باندې ئے حلال که نو حلال دے رشیخ سر حد)

رخصتونه د شوی عاصی لره نشته - (شافعیؒ)

(۱) نه وه باغی چه د وخت نه مخکښې نه خوری او نه د زیاتی کونکی چه د حد نه زیاتی نه خوری -

(۲) یا نه وی باغی چه طلب د لذت نه کوی - په اکل د میتتے سره او نه وه زیاتی کونکے چه د وخت نه مخکښې او د حد نه زیاتی نه خوری -

بغا یبغوا ای تعدی - بَغَیٰ یَبْغِیْ - طلب -

ان اللہ غفور رحیم - امام شافعی صاحبؒ او امام یوسف صاحبؒ فرمائی چه حرمت په حالت د اضطرار کښې د مردار نه ساقط نه دے - البته ماخذه پے نشته د وجے د دے قول د باری تعالیٰ نه چه ان اللہ غفور رحیم - امام صاحبؒ فرمائی چه حرمت تے ساقط دے تائید:

قد فصل لکم ما حرم علیکم الا ما اضطر تم الیه - (انعام: ۱۲۰)

حکم د مستثنی مغائر وی د مستثنی منه نه - او دلته غفور الخ د پاره د دے دے چه کله د دهٔ نه غلطی راغلے وی چه د ده کنداره په یو د چهاڼکے کیده - او دهٔ به لږه څیره خوړلے وی نو دا معاف ده -

اُولٰٓئِکَ مَا یَاْکُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ: ۱۷۴

اکل فی بطنه ای ملاءهٔ -

:۸: یعنی عثمانؒ سورۂ کرد -

و اکل فی بعض بطنه ۽ الا النار - ای ما یأکلون فی بطونهم شیئًا الا النار - استثناء مفرغه ده -

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا کُتِبَ عَلَیْکُمُ الْقِصَاصُ: ۱۷۸

دا دویمه حصه ده په دے حصه کښې بحث د جهاد دے - او چونکه په جهاد کښے مال ته ضرورت دے - نو مسئله د انفاق به ذکر شی - او په جهاد کښے انتظام ته ضرورت دے - نو امور انتظامیه به ذکر کیږی - نو په دے کښے تبه مضامین دی -

القصاص دا حکم اول دے دَ امورِ انتظامیو ش - دا متعلق دَ سیاست مدینه دے - یعنی قصاص قائم کی -

، الحر بالحر الخ دَ دے مقابلے ته مقصود بیان دَ مساوات دے دَ پاره دَ رد دَ قانون دَ جاهلیت چه دَ معزز فریقے عبد به دَ غریبے فریقے دَ حُر سره او مؤنث به ئے دَ هغوی دَ مذکر سره برابر وه - او حکم دَ قتل دَ حُر به بدل دَ عبد کیبے او دَ مؤنث په بدلے دَ مذکر کیبے معلومیږی -

وکتبنا علیهم فیها ان النفس بالنفس نه (مائده: ۵۹) یا الحر بالحر الخ ته مراد قصاص فی الاطراف دے - او دَ قصاص معنی لغوی مراد ده یعنی کشتن را باز کشتن وجراحت کردن عوض جراحت (صراح)

او دَ کتبنا علیهم فیها ان النفس الخ ته مراد قصاص فی النفس دے (احکام القرآن للجصاص) -

او چونکه امام شافعی صاحبؒ مفهوم مخالف معتبره وی - نو هغه قایل دے په نسخ دَ مفهوم مخالف دَ الانثی بالانثی باندے په حدیث سره - او په حدیث سره دے نسخ دَ قرآن ته منی او دَ مفهوم مخالف نسخ په حدیث سره منی -

فمن عفی له من اخیه شیئ (۱) پس هغه چا ته (چه قاتل دے) عفوه اوشوه (دَ جانبه دَ ورور دَ مقتول ته) دَ ورور ده (چه اسلامی رورړئ دے) دَ څه شی - فاتباع - یعنی بیا به ورته په خه سلوک سره دیت غواړی - او قاتل به په ښه سلوک سره دیت ادا کوی -

(۲) پس هغه چا ته (چه وارث دَ مقتول دی) ورکړے شو دَ ورور دَ ده نه (چه نسبی دے دَ ورور ته معنی عامه مراد ده) یو شے (دَ دیت ته) الخ (عینی)

ذالك تخفيف - دا حکم مذکوره چه قصاص دے يا ديت دے - په يهو دو صرف قصاص وه - ځکه چه دَ موسى عليه السلام په دين کښې سختى وه دَ وجے دَ جلاليت دَ دهٔ نه - او په نصارا ؤ صرف ديت وه - ځکه چه دَ عيسى عليه السلام په دين کښې نرمى وه دَ وجے دَ رأفت دَ عيسى عليه السلام نه - او نبى عليه الصلوٰة والسلام خو جامع وه دَ جلاليت او دَ جماليت نه - نو دين دَ دهٔ هم جامع شه قصاص لره چه په کښې جلاليت دے او ديت لره چه په کښې جماليت دے -

| وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ ؛ ۱۷۹ |

اى حيوة عظيمة - مثلاً زيد عمرو لره مړ کړ نو دَ زيد قبيله او دَ عمرو قبيله جنګ ته پورته شوے - نو په قصاص دَ زيد سره دواړه قبيلے ژوندئ پاتے شوے - او تر قيامته پورے به خلق ځان دَ قتل نه ساتى دَ وجے دَ يرے دَ قصاص نه - او په پښله زيد ته هم حيوه اخروى ملاؤ شو. ورنه دے خو دوزخى وه -

فائده :- دَ جاهليت په وخت کښې يو بليغ قول وه "(۱) القتل انفى للقتل" دَ دغه عبارت په مقابله کښې راغے دا عبارت - (۲) فى القصاص حيوٰة - دَ دے دواړو عبارتو نو مقابله مذکور فى الجدول ده -

مقابله

(۱)	(۲)
فى القصاص حيوٰة -	القتل انفى للقتل -
(۱) احروف (۱۱)	حروف (۱۴)
(۲) النص على المطلوب - يعنى حيوٰة -	په دې کښې نص على المطلوب نشته. بلکه ضمنى دے -
(۳) تعظيم دَ حيوة چه معلوميږى دَ تنوين نه	په دے کښې تعظيم نشته -
(۴) چرته چه قصاص وى نو حيوة به وى -	قتل کبعضې وى نو بيخې حيوة نشته ورنه نو ادعى دے - قتلة
(۵) تکرار په کښې نشته -	تکرار په کښې شته قتل په کښې دوه ځله مذکور دے -
(۶) استغناء عن التقدير متعلق دَ جار رعايت لفظى دے -	تقدير دَ مفضل عليه ته ضرورت دے او دا ضرورت معنوى دے -
(۷) مطابقه چه ذکر دَ ضدين دے په کښې	صنعت مطابقه په کښې نشته -

(۱۸۰)
كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ

(۱) بعض وائی چه داو ارث ته منسوخ دے (۲) بعض ئی داحکم مستحب دے دوتو دپاره (۳) شیخ علیه الرحمة فرمائی چه: اد دوصیت نه دادے چه وصیت اوکی چه ټول مال به موافق دقرآن تقسیم کیږی داخه توجیه ده - (۴) بعض وائی چه مراد هغه والدین دی چه یو مانع دموانع دارث نه پکې د هغوی کښې موجود وی - داحکم ثانی دے متعلق په تدبیرالمنزل - یعنی وارثو ته میراث ورکول موافق د قانونِ شرعی سره -

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ :۱۸۳

داحکم ثالث دے متعلق په تهذیب الاخلاق - یعنی روژه اونیسئ چه اخلاق موښۀ شی - ده ته امرِ مصلح هم وائی - كما كتب على الذين من قبلكم - تشبیه په نفس وجوب کښې ده نو شیخ ته ضرورت رانشی - دابیان تخفیف دے -

(۱) اول یعنی روژه یواځې په تاسو نه ده لازم -

(۲) ایامامعدودات تخفیف دویم دے - یعنی په تمام کال کښې یوه میاشت ده -

(۳) فمن كان منكم مريضا - دادریم تخفیف دے یعنی مریض په مرض کښې چه سړی ته مرض په سبب د روژے سره تکلیف رسوی - یعنی مرض زیاتیږی یا اوکه پیری اومریض تنګیږی نو روجه دے ماته کړی بیا که جوړ شو نو قضا دِ راوړی - اوکه قضائے رانه وړه نو په وصیت سره پس د مرګ نه فدیه د روجے په مقدار د نیم اوګی غنمو (شرعی) مسکین ته به ورکه ورکوی وجوباً - اوکه وصیت ئے نه وه کړے نو ورکول مستحب دی اوچونکه دانص معقول المعنی نه دے لهٰذا قیاس د مانځه په صحیح نه دے البته که ورته فدیه د مانځه تبرعاً ورکوی نو امید د ثواب شته - خو چه د کتا نه قیود اورسومات په نه جوړه وی - یعنی داخته لازمه ده چه مرے

قال ۲ من صام رمضان ایماناً واحتساباً فغفر له ما تقدم من ذنبه ۲ قال ۲ اذا دخل رمضان فتحت ابواب الجنة وغلقت ابواب الجهنم وسلسلت الشیاطین ۲ قال ۲ فی الجنة ثمانیة ابواب منها باب یسمی الریان لایدخله الاالصائمون مشکوة ۲ قال ۲ ما حق امرء مسلم له شئ یوصی فیه یبیت لیلة اولیلتین الا دوصیته مکتوب عنده (بخاری)

۲ صبری کښې روژه فرض شوه (ابن کثیر) او مدینه منوره کښې لنه تنفع نو اختلاف وشوه په اسقاط سره او په نکه مقطر کیدا اسقاط او په مانځه سره -

دے پہ وت ویلا و فدیہ دے تقسیمیږی؟ پہ دفن دَمرِی کِنبے خو سُرعت ماموربہ دے۔ چہ مړے چرے بے عزتہ نہ شی۔

او مسافر دِ پہ سفر کِنبے خوری خو چہ دَ بیگا نہ ئے نیت دَ ما تولو کړے وی او دَ صباختو نہ مخکبنے دَ کور نہ اوځی۔ ځکہ سفر اختیاری دے۔ پہ خلاف دَ مرض نہ۔ کہ دَ سړی دروژہ وہ او مرض پرے راغے او دہ تہ تکلیف وہ زیات نو روژہ دے ماتہ کی۔ او قضا دِ راوړی۔ کہ یو سړی روژہ ماتہ کړہ او جوړ وہ او روستو مرض راغے نو کفارہ ساقطیږی۔ او پہ روستو سفر سرہ کفارہ نہ ساقطیږی۔

فعدۃ ای فعلیکم محذوف دے ځکہ چہ فعدۃ جزاء دہ او جزا جملہ وی۔

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ ۱۸۴ (۱) اول حکم دَ صوم عاشورہ (۲) بیا ایام بیض (۳) بیا رمضان تخیرا چہ روژہ نیسی او کہ فدیہ ورکوی (۴) بیا تشدید راغے پہ رمضان کِنبے یعنی دَ شپے دَ خپلے بی بی سرہ تعلق بند شہ۔ او پس دَ خواب نہ خوراک او سکل ھم بند شو (۵) بیا تسہیل اوشہ پہ رمضان کِنبے یعنی جماع پہ شپہ کَ رمضان کِنبے جائزہ شوہ۔ او خوراک او سکاک پس دَ خواب نہ ھم جائزشو۔

(۲) لا مقید دے (ابن عباسؓ)

(۳) ھمزہ دَ پارہ دَ کلفت مشقت دے (انورشاہ)

(۴) یا ھمزہ دَ پارہ دَ سلب دے (عام) شاید دا جوړ دَ ابن عباسؓ مراد دے

بھرحال دَ دوی مال یو دے چہ دا حکم دَ شیخ فانی دے۔

(۵) دَ یطیقونہ ضمیر فدئے تہ راجع دے فدیہ مقدم دہ رتبۃً ځکہ مبتدا دہ۔ فدیہ مصدر ذو تاء دے تذکیر او تانیث دَ ضمیر پہ کِنبے جائز دے۔ نو دا حکم دَ سرسائے دے۔ او چونکہ دا نص محتمل دے لهذا سرسایہ واجب دہ۔

ان تصوموا ښه مراد شپږ روژې دَعید الفطر دی۔ چه نبی علیه الصلوة والسلام فرمائی چه څوک شپږ روژې دَعید الفطر او نیسی که متصل وی او که منفصل او منفصل بهتر دی خو چه په عید الفطر کښې و نه نو دا به ده لکه چه ټول کال روژه کی ئی۔ ځکه نیکی دَمسلمان کم از کم په لس ده۔ (شاه ولی الله رح) (مشکوٰة ص۱۷۹)

(۶) کتب علیکم الصیام۔ ښه مراد ایام بیض دی نو په دغې کښې خو تخیر دے۔ بنا په دے په فعدة من ایام اخر کښې تکرار برائے تاکید راښه غے۔ ځکه درېم عمل ښه مراد رمضان دے او تاسیس اولٰی دے دَتاکید ښه ځکه چه تاسیس کښې افاده وی او په تاکید کښې اعاده وی (شاه انورشاه)

فائده:۔ اصحاب ظواهر په تخیر عمل کوی په رمضان کښې۔ موږ ورته وایو چه تاویل شوے نو تاسو به روژه هم نیسئ او فدیه به هم ورکوئے ځکه چه په قرآن کښې دَافطار حکم نشته۔ (انورشاه کشمیری صاحب رح)

(۷) دا حکم استحبابی دے چه روژه دِ نیسی او خیرات څخیل خوراک ښه دِ هم اوکی۔ (شیخ سرحد علیه الرحمة)

وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ۱۸۵	دا و معطوف

علیه او لام متعلق غواړی نو تقدیر دا شو۔ شرع لکم ذلک لیسهل الامر علیکم و لتکملوا العدة - وعلى ما هدٰکم ښه معلومه شوه چه لوئی بیا نول په هغه طریقه سره وی چه په هغه سره باری تعالیٰ هدایت کړے وی - نه په هغه طریقه سره چه دَځانه ئے پخپل عقل سره دغه طریقه جوړه کړے وی - په دے کښې رد دے دَبدعاتو۔ په نزد دَاحنافو عقل معرف دَاحکامو دے او موجب دَاحکامو دَپاره شرعه ده۔ او معتزله وا جبوی هغه شے چه په کښې عقل ثواب وګڼړی او حراموی هغه چه په کښې عذاب وګڼړی۔ دَ اشاعره په نزد هیڅ اعتبار دَعقل نشته بے دَسمع ښه (نورالانوار ص۲۸۱)

قال ۱ من صام رمضان ثم اتبعه ستا من الشوال کان کصیام الدهر (مشکوٰة ص۱۷۹)
۲ له نو عقلاً حاکم کیدے شی ځکه حاکم جاعل کیدے شی او عقل مفتی نه شی کیدے ۱۲
۳ له حسن ملائم دَطبع سره لکه سخا او قبح غیر ملایم دَطبع سره لکه بخل یا حسن مدار دَکمال لکه علم او قبح مدار دَنقصان لکه جهل دا اتفاق عقلی دے او حسن مدار دَثواب او قبح مدار دَعذاب په دے کښې اختلاف دے چه منکور دے ۳
۴ نو عقل حاکم کیدے شی ځکه حاکم جاعل دے او عقل مفتی نشی کیدے۔
چون غرض آمد ہنر پوشیده شد
صد حجاب از دل بسوئے دیده شد
(مسئله دعا وغیره)

وَاِذَا سَأَلَكَ عِبَادِیْ : ۱۸۶

داجمله معترضه ده ترغیب دے دعا ته په سبب دَ قرب دَ باری تعالیٰ سره - او روژه هم سبب دَ قرب دے الله تعالیٰ ته په یوے روژے سره دَ اَدْنیا کالوسافت لرے شی سرے الله تعالیٰ ته نزدے کیږی -

اذا دعانِ یعنی چه یوازے باری تعالیٰ لره اوبلی" قال علیه الصلوٰة و السلام من لم یسئل الله یغضب علیه" - قال علیه الصلوٰة والسلام لیس شئ اکرم علی الله من الدعاء" - "قال علیه الصلوٰة والسلام لا یرد القضآء الا الدعآء ولا یزید فی العمر الا البر" - مشکوٰة ص۱۹۵

اُحِلَّ لَکُمْ لَیْلَةَ الصِّیَامِ : ۱۸۷

دَ دینه مخکښے په شپه دَ رمضان کښے جماع دَ خپلے ښځی سره بند وه - عمر رض دَ شپے په رمضان کښے دَ خپلے ښځی سره تعلق اوکړه - او تائباً ئے نبی علیه السلام ته حال بیان کړ - نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته او فرمایل "ماکنت بذلك جدیرا یا عمر" - داحکم راغے - داعلامه دَ عدالت ده دَ اصحابو رضوان الله تعالیٰ علیهم - اصحاب رض عدول دی گناه شکوی اوکړ او کی نو زر تائب کیږی - (التائب من الذنب کمن لا ذنب له)* روافض هسے طعنو نه لږدی او (الله الله فی اصحابی) ته نه گوری -

هنّ لباس لکم - داکنایه ده دَ احتیاج دَ هر یو بل ته - نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائی" لا خیر فی النساء ولا صبر عنهن یغلبن کریما ویغلبهن لئیم فاحب ان اکون کریما مغلوبا ولا احب ان اکون لئیما غالبا" (کمالین) -

وابتغوا ما کتب الله لکم - داتصحیح دَ نیت ده یعنی په جماع سره طلب کړئ نیک اولاد - یا ځان بچ کول دَ بد فعلئ نه -

وکلوا واشربوا حتی یتبین لکم الخیط الابیض - حتی دَ پاره دَ انتهٰی دے یعنی اکل اوشرب به تر صبا صادقه پورے وی - نه چه په صبا صادق کښے - لَدے وجے نه نبی علیه السلام فرمائی" اذا سمع النداء

احدکم والاناء فی یده فلا یضعه حتی یقضی حاجته منه (مشکوۃ ص۱۷۴)
یعنی انتهاء د اکل او شرب پہ آذان نہ دہ نو کہ سہری آذان واوریدو او علم ئے پہ صبا نہ وہ نو خوراک او سکاک دِ کوی ترصبا پورے نہ پہ صبا کیبنے۔

پہ تفہیم القرآن کیبنے دی "اگر عین طلوع فجر کے وقت اسکی آنکھیں کھلی ہوتو جلدی سے اٹھ کر کچھ کھا پی لے"۔ (دغه محکیتے حدیث تا ئید کیبنے پیش کوی (ببین تفاوت راہ از کجا ست تا بہ کجا)

ثم اتموا الصیام الی اللیل۔ یعنی افطار بہ کوی پہ لیل باندے۔

تفہیم ص۱۴۶ والا وائی۔ دن کی روشنی ختم ہونے کا انتظار کرتے رہنے کی کوئی ضرورت نہیں۔

دا څلورم حکم دے اموالکم۔ مالونہ دیوبل	وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ۱۸۸

وَتُدْلُوا۔ ای لا تدلوا۔ الی الحکام۔ جمع دَ حاکم دہ ازنص معنی ئے حکم کونکے دے۔ حکیم جمع ئے حکماء دہ از شرف۔ دَ حکمۃ نه نه دے معنی د انشمندی دہ۔ لِتَأْكُلُوا ای لتأخذوا ذکر الاکل لانه المقصود (شیخ سرحدی)

قال ابن عربی "الرشوۃ کل مال دفع یبتغی به من ذی جاہ عونا علی مالا یحل" (فتح الباری) جابر بن زید فرمائی "ما وجدنا شیئا هو انفع من الرشاۃ" فیض الباری: ج ۳: ص۲۴۹)

نو رشوۃ اغستونکے ملعون دے مطلقا۔ او ورکونکے او دلال هله ملعون دی چہ پردے مال اخلی نہ چہ خپل مال بچ کوی۔ دَ خپل مال بچ کولو دَ پارہ ورکول دَ رشوۃ او دلالی جائزہ دہ۔ دَا دَ لتاکلوا هم معلومیږی۔

تتمہ حکم ثالث۔ "عام مفسرین وائی چہ دا جواب دے سائل لره	يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۱۸۹

وَانتم عاکفون فی المساجد (۱۸۷) قال فی المعتکف هو یعتکف الذنوب (ای تحتبس عن الذنوب) ویجری له من الحسنات کعامل الحسنات کلها (مشکوۃ ص۱۸۳)

۸ فائدہ زیادہ۔

پغیر د سوال د دے پہ سبب د نازلولو د سوال د دے پہ منزلہ د غیر
بانی ځکہ چہ دا غیر ورلوہ تہ پیر مناسب وی یعنی دوی سوال کړے
وو چہ سپوږمئ ولے نرے کیږی بیا غټیږی؟ نو باری تعالیٰ ورته
جواب ورکړ د سبب تپوس مکوئ بلکہ د فائدے تپوس تاسو لره پکار
دے۔ نو فائدہ ئے دا دہ چہ دا وقتونہ دی د پارہ د خلقو۔

(۲) حضرت صاحبؒ فرمائی چہ دوی تپوس کړے وہ چہ رمضان تہ
څۂ حاجت دے مونږ بہ دیرش روژے پورہ کوو۔ نو باری تعالیٰ
فرمائی چہ د روژے د پارہ خاص وخت مقرر دے او ستاسو دا سوال
دا ہم بے فائدے دے۔ لکہ چہ ستاسو دا رسم بے فائدے دے چہ
احرام او تړے او نو تہ د شا د طرفہ ځئ۔ او دروازہ پریدئے بلکہ
وأتوا البیوت من ابوابہا۔

د باری تعالیٰ قانون دے چہ احکام ذکر کی نو د ھغے نہ روستو
اعلان کوی واتقوا اللہ۔ چہ پہ احکام کښے نقصان اونشی۔ لعلکم
تفلحون۔ باعث علی التقوی دے۔

کہ دا عام مخصوص البعض دے بیہ وان احد من المشرکین استجارک الایۃ (توبۃ) خو ځکہ تر بہ خبر واحد سرہ زنانہ او بہ قیاس سرہ شیخ فانی وتلے دے ۱۲

وَقَاتِلُوْا فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ : ۱۹۰	د امورو انتظامیو نہ بعد اعلان جہاد دے۔ ولا تعتدوا۔ ہمی او بنځے

مہ وژنئ۔

وَاَنْفِقُوْا فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ : ۱۹۵	مسئلہ جہاد نہ بعد مسئلہ د انفاق۔ وَلَا تلقوا بایدیکم الی

التہلکۃ۔ ځان مہ ہلاک کوئ پہ سبب د نہ انفاق او د قتال
واحسنوا۔

فینا معشر الانصار نزلت ۱۲ ابو ایوب الانصاری

عمل
- فرمان برداری
  - اطاعت: کول د مامور بہ باعث خوف د امر نہ۔
  - احسان: کول د مامور بہ کمال سرہ باعث محبت دے د آمر سرہ
- نافرمانی
  - عملی: عصیان
  - اعتقادی: کفر
  - اعتقاد د حکمران: طغیان دے

ـه مکتبی رمضان دے بیاج دے ځکه سره په رمضان سره پاک شی نو قابل شی د حضور دلبار المص ۱۲ از نامه
انعامات

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۱۹۶

دا امر مصلح دے۔

(۱) اتمام د حج او د عمرے دا دی چه
یو په مستقل سفر سره او کی۔ نو دا فرا د علی وجه العزیمة شو
نو د فمن تمتع بالعمرة الی الحج نه تمتع لغوی مراد ده۔ یعنی چا چه
فائده واغستله په عمرے سره د حج نه۔ یعنی دواړه ئے په یو
سفر سره ادا کړه بیا احرام وا حده وی نو قران شو یا احرامین وی
نو تمتع اصطلاحی شوه۔

(۲) چه حج او عمره په یو احرام سره ادا کړی نو دا قران شو۔ نو د
فمن تمتع الخ ترجمه دا شوه چا چه فائده واغستله په سبب د فراغ
سره د عمرے نه تر احرامه د حج پورے دا تمتع اصطلاحی شوه۔ او د افراد
ذکر په حدیث شریف کښے دے۔

فان احصرتم۔ په دشمن سره وی او کښ په مرض سره۔ په
دے عموم دلالت کوی لفظ د احصار چه افعال دے۔ دا مذهب
د امام صاحبؒ دے۔ او امام شافعی صاحبؒ یواځے په دشمن سره
احصار منی نه په مرض سره ځکه چه نبی علیه السلام بند شوے
وه په دشمن سره۔ او امام صاحب مرض قیاس کوی په دشمن بانې۔
حتی یبلغ الهدی محله۔ مراد د محل نه حرم دے په نزد د امام
صاحبؒ[۱] تائید: ثم محلها الی البیت العتیق (حج: ۳۳) (۲) هدیا
بالغ الکعبة (مائده: ۹۵)۔

او د امام شافعی صاحبؒ په نزد مراد د محل نه ځائے د احصار
دے۔ ځکه نبی علیه الصلوٰة والسلام په حدیبیه کښے ذبحه کړے وه
او حدیبیة زمین حل دے۔ امام صاحب فرمائی چه حدیبیه بعض
حرم دے۔ ما په دوران د حج کښے اولیده چه علامہ د حرم د حدیبیے
لاوس ورته شمیسیه وائی) په درمیان کښے ده۔ (غریب)
من صیام۔ د درے ورځے دی۔ او صدقة۔ شپږ مسکینا نو

اتمامهما ان یحرم بهما من دویرة اهله کذا قاله علی وابن مسعود رضی الله تعالی عنهما ۱۲

تہ نیم نیم اوکے خلم بہ ورکوی - او نسلک - ذبحہ کہ هغه ځاروی چہ قربانی پہ کیږی - فما استیسر من الهدی دادم کہ شکرئے دے چہ دوه نسکونه پہ یو سفر کښے ادا کړه - نو بچپله او غنی تے نه خوښے شی -

فصیام ثلثۃ ایام - اخیره روژه بہ ئے عرفه وی - کہ عرفے روژه نورو حاجیانو لره مکروه ده - کہ بنی علیه الصلوٰة والسلام پہ حجۃ الوداع کښے کہ عرفے روژه نه وه -

اذا رجعتم - (۱) اذا فرغتم - ځکه فراغ سبب کہ رجوع دے یعنی چہ ایام منهیه ختم شی - تلک عشرة کاملة - دا کہ دے وهم رفعه ده چہ چا به وے چہ کہ حاجی اختیار به وی - (۱) یا به دریے اوّلے روژے اونیسی (۲) او یا به اوه آخیرے - (۲) او دویم وهم داوه چہ دا روژے به کہ هدی کہ پاره پوره نه وی - نو باری تعالیٰ فرمائی چہ لس روژے دی - او کہ هدی کہ پاره پوره دی -

ذٰلک لمن لم یکن اهله حاضری المسجد الحرام - دا رخصت چہ په یو سفر کښے حج او عمره کوی کہ هغه چا دپاره دی چہ کورونه ئے کہ میقات نه بهر وی - او کہ میقات نه دننه سړے به حج او عمره په مستقل سفر کوی - کہ هغه کہ پاره رخصت نشته - دا کہ امام صاحب مذهب دے او په دے رخصت باندے لام دلالت کوی چہ کہ پاره کہ انتفاع دے -

شافعی صاحب فرمائی چہ دا دم او که دم نه وی نو بیا صیام کہ پاره کہ هغه چا دی چہ بهر وه کہ میقات نه او میقاتی سړے به تمتع او قران کولے شی خو په هغه دم او صیام نشته - شافعی صاحب په مذهب بیا علیٰ من پکار وه -

الْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ: ۱۹۷	ای وقت الحج - چہ حمل صحیح شی فهو ضمیر اشهر ته راجع دے - یا ورته ضمیر شهرت ته راجع کوی بیا اعتراض کوی چہ راجع مرجع کښے موا فقت نشته (حاشیه احمقه) -

(روح المعانی تفسیر حقانی ج صلا)

فلا رفث ۔ اخبار په معنی د نهی دے رفث خو په صراحئے کښې غلط دی خو په ځ کښې هم خطا دے ۔ لکه یو سړے وائی چه په ... جدکښې زوره مه خاندہ ۔ رفث وائی فحش خبرو ته ۔ یا ؟. و د زنا نو ته ۔ په حضور د دوی کښې ته ئیده ابن عباسؓ په احرام کښې وے ... بنا همیسا ... ان یصدق الطیر ننک لیسا ... نو حصین ابن قیسؓ ور ته او وے لا ترفث وانت محرم) نو ابن عباس وا ... وے چه رفث ... حلہ وی چه په حضور د زنا نو کښې وی ۔ ...

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ١٩٨ ... عرفات ... د ... دے ۔ چه په اصل کښې ... د ... او عرفات ور ته ځکه وائی چه آدم و حوا علیهما السلام په دے مقام کښې تعارف کړے وه د یو بل سره او په مزدلفه کښې ... یو ځائے شوی وو ۔ اِذْ لَافْ جُمِعَ ته وائی ۔

مختصر بیان د حج

د میقات نه به احرام د حج او تړی نو طواف به اوکی او سعی به اوکی نو بیا به محرم ناست وی او که احرام ئے د عمرے د پاره کړے وه نو ځان به حلال کی ۔ که متمتع وو نو ... اتم شپے د لوئے اختر به احرام او تړی د حج د پاره ۔ او په دے شپه که ئے طواف اوکړ او سعی هم اوکړه ۔ نو د اختر په ورځ به سعی په ده پاتے نه شی ۔ او د اختر په ورځ سعی ډیره ګرانه وی نو منا ته به لاړ شی نهمه شپه به هلته تیره کی ۔ په نهمه ورځ به روان شی عرفات ته که جمعه ئے ... نه کړه نو ظهر او عصر به یو ځائے ادا کړی بیا به دعا ګانے کوی عرفات ئے ټول موقف دے نبی علیه الصلوة والسلام فرمائی ۔ "وقفت ههنا وعرفة کلها موقف" ۔ په دغه شکل منا کل منحر دے ۔ ماښام به واپس شی مزدلفے ته به د مغرب او د عشا نمانځه ادا کی ۔ او ... به د رمی د پاره تیارے کی ۔ د سحر نماز به په تیاره کښې اوکی ۔ ... صبا وی ۔ بیا به

عرفات، وقیل من ان الناس یعترفون بذنوبهم فی ذلک الموقف او سمی بذلک لا یعمل الناس فی هذا الموقف من معرفة الله الخ . تکمیل ص ۲۹۰
منهم من یقول الخ . قال واجعل الحیوة زیادة لی فی کل خیر واجعل الموت راحة لی من کل شر . مشکوٰة ص ۲۱۸

دعا کاے کوی - ۵ بیا به راشی منیٰ ته حلته صرف جمره عقبه به اولوی بیا به
ذبح اوکی بیا به سر او خرئی بیا به جامے بدلے کړی او مکے معظمے ته به راشی
۱۰ طواف زیارت به اوکی - او که سعیٔ مخکښے نه وه کړے نو سعیٔ به هم
اوکی - بیا به منیٰ ته واپس شی حلته د نماز ظهرنه بعد به درے واړه
جمرے اوُ لی کی د وړلے او دویے جمرے نه روسته قیام او دعا شته - او د
دریے جمرے نه روسته دلته دعا بدعت ده - ولے؟ ځکه چه نبی علیه
الصلوٰة والسلام نه ده کړے - سره د حرص د هغه نه په عبادة سره
او ـه د مطلق نص نه - چه "قال ربکم ادعونی" په دولسمه پس د
رمیٔ نه یا په دیارلسمه به واپس راشی مکے معظمے ته او طواف وخصت
به اوکی - د حائضے نه دا طواف ساقط دے - بیا به ځی مدینے منورے
ته - که د حج نه مخکښے نه وی تلے - دا تلل بهتر دی - حج خو ختم شوے
دے - دا ځانله ثواب کار دے - بعض خلق افراط یا تفریط
کوی - یا دا تلل د حج تتمه گرزوی - یا دا تله ثواب نه گڼړی -
دا دواړه خبرے غلطے دی -

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ : ۲۰۳	ایام تشریق مراد دی (ابن عباس) فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ الخ بعض

کسانو وے چه په تعجیل کښے گناه ده او بعض وے چه په تاخیر کښے
گناه ده - نو دا رد دے په دے دواړو فریقو باندے - چه په دواړو
کارو نو کښے گناه نشته - البته تاخیر بهتر دے ځکه چه د اول نه
تعبیر شوے دے په تعجیل سره چه ممدوح نه دے بخلاف د سرعت نه
چه ممدوح دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ : ۲۰۸	بعضے یهود مسلمانا ن شو نو هغوی او وے

چه موږ به د شنبے تعظیم کوو - او هم د جمعے او د اونبانو پی او غوښے
به نه سکوو نه خورو - نو باری تعالیٰ په هغوی باندے رد او کړ - نو

په دے کښے رد دے په بدعتیانو - ځکه چه بدعت هم احداث فی الدین دے - یعنی یو کار ته ثواب ویل بے دَ دلیل شرعی نه (شیخ)

کَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَبَعَثَ الخ ۲۱۳	دلته محذوف دے فاختلفوا په قرینے

دَ یونس (۱۹) باندے چه ما کان الناس الا امة واحدة فاختلفوا ؛ او هلته فبعث الله محذوف دے په قرینے دَ دے ایت سره - نو دا صنعت الاحتباک دے -

لیحکم بین الناس فیما اختلفوا فیه - معلومه شوه دا خبره چه انزال دَ کتب دَ پاره دَ فیصلے دے په اختلاف فی مسئله کښے - دَ اتفاق مسئلے ثواب یا عذاب خوځانله خلقو ته معلوم وی هلته خو صرف ترغیب او ترهیب ته ضرورت وی - هلته ډیر شور وَ غوغا نه وی - په خلاف دَ اختلاف فی نه او هم دغسے ارسال دَ رسل دے ؛ تائید : ولما جاء عیسیٰ بالبینٰت قال قد جئتکم بالحکمة ولاُبیّن لکم بعض الذی تختلفون فیه (زخرف : ۶۳)

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ : ۲۱۴	لَمَّا راځی دَ پاره دَ استغراق فی الماضی او دَ توقع فی

الاستقبال بخلاف دَ لم نه او دَ لما نه حذف دَ مدخول جائز دے بخلاف دَ لم نه "لما یخرج الامیر" لا نه دے راوتے امیر "لم یخرج الامیر" نه دے راوتے امیر - حتی یقول الرسول والذین اٰمنوا معه متیٰ نصرالله الا ان نصرالله قریب - (۱) دا استعجال دَ نصرت دَ انبیاء امر طبعی غیر اختیاری دے (شیخ الهند) رومی فرمائی ۔

در گمان افتادجان انبیاء ۔۔۔ زاتفاق منکرین اشقیاء

(۲) متیٰ نصرالله مقوله دَ مؤمنانو ده - الا ان نصر الله قریب مقوله دَ انبیاءؑ ده - فلا ورود لدخل (شیخ سوحه)

یَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ : ۲۱۷	یعنی دَ قتال دَ پاره

مانع یو ځے او اسبا د پنځه دی - قتال فیه بدل اشتمال دے -
ومن یرتدد منکم عن دینه فیمت وهو کافر - تقیید بالموت شه معلومیږی
که دے واپس شو اسلام ته نو شه باطیږی عمل دده نو اعاده د
اعمالو په لا شغله په نزد د شافعی صاحب - او امام صاحب وائی چه
مجرد ارتداد حبط دے ځکه چه باری تعالیٰ فرمائی ومن یکفر بالایمان
فقد حبط عمله رمائده : ۵) او حمل نه شو مطلق په مقید او حال 8
داچه دواړه په حادثه یوه کښے دی ځکه چه دواړه په سبب کښے دی
در مختار والا جواب کوی په دے ایات کښے دوه عمله دی او دوه جزائے
کلائے دی - نو په ارتداد باندی مرتب دے حبط او په امتداد ئے
مرتب دے خلود فی النار - رکمالین -

فاولئك حبطت اعمالهم فی الدنیا - ځکه چه فوت شو دوی
شه په ارتداد سره فوائد دنیوی - د اسلام - والاخرة - او فوت
شوے نه ثواب د اخرة - اصحٰب النار - دوزخیان -

(۱) یَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَیْسِرِ : ۲۱۹	: مادهٔ امور انتظامیه په شهر حرام کښے قتال

طعام العادة اشتد من طعام الرضاعة.

ذو جهتین وو - او س پنځه مسئلے ذو جهتین دی او اهمیت د
جهاد تے شه هم معلومیږی - په شراب کښے نفع بدنی دا او په کښے
نشه او کنځل دی - او په جوارے کښے نفع مالی ده خو په کښے بدلی تا
نقصان مالی وی لهذا دواړه حرام شو - ځکه چه په دے بندوالی کښے
د خلقو اصلاح ده - لیکن که شرک وه نو مال خو در کنار روح
تے نه واخلی -

(۲) یسئلونك ماذا ینفقون - په خیرات کښے ثواب دے او نقصان
مالی دے نو لهذا خیرات لازم نه دے - او که شرک وه نو مال خرچ
کول ورلازم دی - رترکیب) ما مبتدا ذا د صلیه ئے خبر دے - یا
ماذا استفهامیه ینفقون صفت په دواړه د منه محذو - دا مفعول ئے

دَ پاره دَ یسئلونک -
العفو یعنی زائد دَ ضرورت ستا نه دا معنیٰ نه ده چه زائد خرچ کول لازم دی - بلکه معنیٰ داده چه مجمل دَ خیرات حقه مال دے چه زائد وی دَ ضرورت نه څکه چه ضرورت فرض دے او ثواب په کښے زیات دے او خیرات نفل دے - او که زیاتی مال خرچ کول لازم وے نو الله تعالیٰ به بیا میراث وَلے لازمه ؤ - او عبدالرحمن بن عوف ولی دومره مالداره ؤ چه حقه دَ عشره مبشره ؤ نه دے -

(۳) یَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡیَتٰمٰی : ۲۲۰ — دَ یتیم مال که جدا کوی نو دَ خرابی احتمال دے او که یو ځائے کوی نو دَ ظلم احتمال دے نو باری تعالیٰ فرمائی چه دَ یتیم مال کښے نقصان مه کوئے او دَ خپل مال انفاق په تاسو لازم نه دے او که شرک وُ نو انفاق لازم دے دَ پاره دَ دفع دَ شرک -

(۴) وَلَا تَنۡكِحُوا الۡمُشۡرِكٰتِ حَتّٰی یُؤۡمِنَّ : ۲۲۱ — یو طرفته دَ ښځے حُسن دے او مال دے او بل طرفته ئے شرک دے - نو باری تعالیٰ فرمائی چه دَ شرک په مقابله کښے دَ هغے حُسن او مال له لته ورکه او مسلمانه وینځه واخله - شرک دا چه غیر الله ته کارسازا و غیب دان او وائی (شاه عبدالقادرؒ)

اُولٰٓئِكَ یَدۡعُوۡنَ اِلَی النَّارِ - تفصیله : تدعو ننی لاکفر بالله (مؤمن : ۴۲)

(۵) وَیَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡمَحِیۡضِ : ۲۲۲ — ۲۲۳ دَ حائضے په جماع کښے یو طرفته خواهش پوره کیده دی او بل طرف گندگی ده - نو باری تعالیٰ فرمائی چه په دوران دَ گندگی کښے ځان دَ حیض دَ گندگئ نه بچ کی - لیکن سبحان الله که شرک وه نو د غه ښځه به پریدے -

ولا تقربوهن حتی یطهرن - دلته تشدید معلوم میږی -

ملے عن ابی هریرۃؓ قال جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال عندی دینار قال انفقه علی نفسك قال عندی اٰخر قال انفقه علی ولدك قال عندی اٰخر قال انفقه علی اهلك قال عندی اٰخر قال انفقه علی خادمك قال عندی اٰخر قال انت اعلم (ابوداؤد ۳) مشکوٰۃ ص۱۷۱

ملے قالؐ من اتی حائضا او امرأة فی دبرها او کاهنا فقد کفر بما نزل علی محمدؐ (ترمذی)

قالؐ تنکح المرأة لاربع لمالها ولحسبها ولجمالها ولدینها فاظفر بذات الدین - مشکوٰۃ ۲۶۵


دَ فاذا تطهّرن ش - او هلته تخفیف معلومیږی لدینه - نو پس د ے کښې صنعت الاحتباک دے -

کہ وینه وُچه شوه په لسمه نو عمل دے پس تخفیف با ندِ - نو بے دَ غسل ش هم جماع جائزه ده اګرکہ غسل مستحب دے مخکښې دَ جماع ش - اوکہ وُچه شوه کم دَ لسو ش نو غسل لازم دے یا چه دومره وخت تیر وُځی چه په کښې غسل ځائیږی او تکبیر تحریمه او اداءِ فرض ئے په ذمه راشی - 8

فأتوهنّ من حیث امرکم الله - چه موضع دَ حرث د ے

انّٰی شئتم - ای کیف شئتم خواتیان به کوی حرث ته د فرث ته نطفه تخم شو - رحم پټے شو - حرث فصل اولاد شو -

وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً ۲۲۴:



فائده :- یمین فور په لفظ کښې مطلق او په معنی کښې مقید دے - دا ده مستخرج امام صاحبؒ دے -

لِّلَّذِیۡنَ یُؤۡلُوۡنَ مِنۡ نِّسَآئِهِمۡ ۲۲۶ ب ۲۲۷ — کۍ سرې قسم اوکړي چه خپلې ښځې ته به نهٔ نزدې کیږم

خلو رمیاشتې یا زیات نو که په دې مُده کښې ئې رجوع اوکړه بالفعل او که طاقت نه وه نو بالقول ئې رجوع اوکړه نو کفاره دَ قسم به ورکړي۔ او که مُده څلورمیاشتې پوره شوه نو ښځه طلاقه شوه په نزد دَ امام صاحب او دا روایت دې دَ عبد الله ابن مسعودؓ نه۔ او دَ امام شافعي صاحبؒ په نزد به قاضي تفریق را ولي په مینځ دَ دوي کښې۔ دا روایت دې دَ ابن عباس صاحبؓ نه۔

وَالۡمُطَلَّقَٰتُ یَتَرَبَّصۡنَ : ۲۲۸ — ثلاثة قروء درې طهره دي دَ امام شافعي صاحبؒ په نزد ځکه دَ

عدد اقل دَ مؤنث دَ پاره تمیز مذکر دی او قرء مشترک دې په حیض او طهر کښې او حیض مؤنث دې او طهر مذکر نو دلته طهر مراد دې۔ او امام صاحبؒ وائي چه درې حیضه دي ځکه چه ثلاثة خاص دَ کتاب الله دې۔ او چه عدت طهر شي نو بیا درې نه پوره کیږي بلکه یا زیاتیږي او یا کمیږي او په حیض کښې خو طلاق مشروع نه دی۔ بلکه طلاق به په طهر کښې وي نو روسته درې حیضه عدت دې۔ خاص دَ کتاب الله قطعي دې او قیاس نحوي ظني دې نو ظني کله دَ قطعي مقابله کولې شي۔ او بل دَ تانیث دَ حیض نه څه لازمیږي تانیث دَ قرء ځکه چه ترادف دَ لفظین مستلزم نه دې ترادف دَ لوازم دَ دوي لره۔ ته نهٔ گورې چه صلیٰ او دُعا مترادف دي او صلی علیه دعا بالخیر ده او دعا علیه دعا بالشر ده۔ او نبي علیه السلام فرمائي (الامة عدتها حیضتان و طلاقها ثنتان) دا تائید دَ مذهب دَ امام صاحب دې ځکه چه دَ حُرې او دَ اَمې په عدت کښې په حیض او طهر کښې فرق نشته۔ بلکه په کمي بیشي کښې فرق دې بل سورة طلاق کښې فرمائي : وَالّٰٓئِیۡ یَئِسۡنَ مِنَ الۡمَحِیۡضِ

دا مذهب دَ زیدبن ثابت دې۔ دا قول دَ خلفاء اربعو دې او دَ صحابو دې۔ مشکوٰة ص ۲۸۵ (حاشیه ص ۲۸۵)

ان ارتبتم فعدتها ثلاثة اشهر (۲) معلومه شوه چه اشهر قائمقام د حیض دے نه د طهر - ولهن مثل الذی علیهن بالمعروف - معلومه شوه چه بعض حقوق د زنانه دی په خاوند باندې نو دا من وجه مالکه شوه - لهذا فقهاء فرمائي چه ملک رقبې چه طاری شي په ملک نکاحي باندې نو نکاح باطلیږی ځکه چه مالکیت منافی دے د مملوکیت سره فائده :- المطلقات کښې الف لام عهد خارجي دے معهودې حرے او ذوات الحیض او غیر ذوات الاحمال دی - ځکه عدت د امے د وه حیضه دی او د آیسے او صغیرے عدت درے میاشتې دے او د حاملې وضعه د حمل ده - وللرجال علیهن درجة - یعنی حقوق خو مشترک دی خو د کور مشری به د سړی وی - والله عزیز نو د هغه نه څوک تپوس نه شي کولے - چه سړی له د ولے مشري ورکړه - حکیم - په هر کار د باری تعالی کښې راز دے دا ترغیب دے اتباع ته لکه چه په عزیز کښې ترهیب دے چه څوک اعراض او نه کی د اتباع نه -

۲۲۹ : اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ	طلاق رجعي د وه ځله دی - په دے ردو دے په جاهلیت باندې چه په هغے

کښې به بغیر د یره طلاقونه او بیا به ئے ورته رجوع کوله -

طلاق رجعي په لفظ صریحي سره وی په هغه کښې طلاق واقع کیږی بے د نیت نه - په دے کښې رجوع جائز ده په عدت کښې بے د تجدید د نکاح نه - بائن په لفظ کنائی سره وی په دے کښې طلاق واقع کیږی په نیت سره - په دے کښې تجدید د نکاح ته ضرورت دے په رجوع کښې - او که بائن وی په خلعه کښې په هغه کښې تجدید په عدت کښې جائز دے - په رضا د ښځے سره - طلاق مغلظ درے دی په هغه کښې تحلیل ته ضرورت وی - په رجوع کښې - البته نکاح په شرط د تحلیل سره مکروه دے -

عن ابن عباس ؓ ان امرأة ثابت بن قیس اتت النبی علیه السلام فقالت یارسول الله ثابت بن قیس ما اعتب علیه فی خلق ولا دین ولکنی اکره الکفر فی الاسلام فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اتردین علیه حدیقته قالت نعم قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اقبل الحدیقة وطلقها - رواه البخاری (مشکوٰة ص ۲۹۳) ۱۲ ۱۲

اونبیځ د هغه د قول تردید او کړو ځکه نو دا حدیث تقریری شو چه څوک د خپل خاوند سره محبت نه کوی نو انجام به ئے د کفر وی - منه

فائدہ :- چہ ښځه ناکاره وی خاوند سره نو طلاق په عوض سره ورکول جائز دی - خو مهر یا کم دَ مهر نه - زیادت مکروه دے هم دغه سے چه ښځه ښه وه - نو بیا عوض دَ طلاق مطلقا مکروه دے - (التفصیل فی الفقه)

فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ : ۲۳۰

دَ فَآ نه معلومیږی چه پس دَ خُلع نه طلاق قبیله نزدی - بنو معلومه شوه چه خلعه طلاق دی - او مستقل طلاق نه دی بلکه داخل دی په الطلاق مرتان کښے نو لازم نه شو زیادت دَ طلاقو دَ دریو نه - لکه په دے باند استدلال نسی امام شافعی صاحبؒ چه خلعه طلاق نه دی بلکه نسخ ده - ورنه نو زیاتیږی طلاق دَ دریو نه حتی تنکح زوجا غیره - دَ نکاح نه مراد عقد دے نو معلومه شوه چه په عبارت دَ نساؤ نکاح جائز دے دا مذهب دَ امام صاحبؒ دے - اَیُّمَا اِمْرَاَةٍ نکحت بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل - کښے ترغیب دے دے خبرے ته چه ضرور دی ښځه دَ ولی سره مشوره کوی او زیادت دَ جماع شوے دے په حدیث دَ عسیلۃ سره - او دا حدیث مشهور دے په ده زیادت په کتاب الله جائز دے - یا دَ نکاح نه مراد جماع ده - او نسبت شوے دے ښځے ته په اعتبار دَ تمکین سره - او عقد خو معلوم شوے دے دَ زوجا نه نو په کلام کښے تاسیس راغے چه بهتر دے دَ تاکید نه ځکه چه په تاسیس کښے افاده وی - او په تاکید اعاده دَ زړے خبرے وی - افاده خو بهتره ده دَ اعادے نه -

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ : ۲۳۲

دَ بلوغ دوه ترجمے دی (۱) نزدے کیدل (۲) او ختمیده - فلا تعضلوهن - کښے (۱) خطاب دے اولیاء دَ ښځے ته - او دَ ازواج نه مراد زاړه خاوندان دی -

ـه رفاعه خپله ښځه تیمه بنت وهب طلاقه کړه په دریو طلاقو سره هغې دَ عدت نه پس نکاح او کړه دَ عبد الله بن زبیر سره او دَ هغه ځوانی کمزوری وه نو دے رپوټ او کړو نبی علیه السلام ته نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه رفاعه ته واپسی غواړی دے وے چه او نو حضور صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه نه شی واپس کیدے تر څو چه دا لوے خاوند ستا شهد نه څکی او ته دَ هغه یعنی جماع او نشی ۱۲ (اصول)

یعظکم - ۲۳۱ الوعظ زجر مقترن بتخویف قال الخلیل هو التذکیر بالخیر فیما یرق به القلب - جمعه المواعظ بابه ضرب -

الطلاق مرتان - سواء کانتا رجعتین فحینئذ یجب امساک بمعروف او تسریح باحسان او کانتا فی الخلع

(۲) یا خطاب دے ازواج ته او د ازواج نه مراد نوی خاوندان دی په دواړو وجوهو کښې مجاز مرسل دے - یعنی په اول توجیه کښې مراد ازواج دی په اعتبار د کان سره او په ثانی توجیه کښې ازواج مراد دی په اعتبار د مایؤل سره -

وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ : ۲۳۳ حولین - دا مُده د استحقاق د اجرت ده - ځکه چه شپږ میاشتے خو د پاره د عادت کولو د بچی دی د دوئ سره - حولین مذهب د صاحبین دے - او د امام صاحب په نزد مده د ارضاع دوه نیم کاله[۲] ده تائید: حمله و فصاله ثلاثون شهرا (احقاف: ۱۵)

لا تضار والدة - چه معلومه صیغه شی نو معنی دا شوه چه ضرر د نه رسوی مور ته[۱] چه ارضاع په لازموی سره د بے طاقتئ د هغے نه - ولا مولود له - ضرر د نه رسوی پلار چه بلا وجه بچے د مور نه جدا کوی - یا ضرر نه شی رسولے پلار ته چه په ده باندے اجرت د مور د بچی د پاره چیر مقرر کړے شی د اجرت د اجنبی نه -

فائده: (۱) مولود له نه معلومه شوه چه نسب به د پلار نه وی -

فائده: (۲) اجرت د مور د ارضاع حلال دے چه دا مطلقه وه -

اذا سلمتم - کله چه حواله کړئ تاسو ما آتیتم هغه شے چه تاسو مقرر کړے وی -

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ : ۲۳۴ له دے ځایه نه معلومیږی چه د متوفی عنها زوجها عدت څلور میاشتے او لس ورځے دے نو که حامله وی یا غیر حامله وی او د واولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن (طلاق: ۴) نه معلومیږی چه د حاملے عدت وضع د حمل ده - نو که مطلقه وی او که متوفی عنها زوجها وی - نو په متوفی عنها زوجها حامله کښې تعارض[۱] د دواړو سورتونو راغے - نو حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنها او فرمایل

---

[۱] نه په مطلقه حاملے کښې چه عدت د وضع د حمل ده اتفاقا، او نه په متوفی عنها زوجها کښې چه حامله نه وی چه عدت د څلور میاشتے او لس ورځے دی اتفاقا ۱۲

[۲] چه بلا عذر بچے ور کولو کښې منع کوی او چه مجهوله شی صیغه نو معنی دا ده چه ضرر نه شی رسولے مور ته ۱۲ ۱۲ ۱۲

مشورہ امانت ہے - تواضع کا - فروتنی ست دلیل رسیدگان کمال کہ چوں سوار بہ منزل رسید پیادہ شود.

چه دَ دے عدت ابعد الاجلین دے - یعنی په وضعه دَحمل - او په څلور میاشتو او لس ورځو کښے - چه کومه موده اوګده وه نو هغه به دے عدت دے - او عبد الله ابن مسعودؓ فرمائی من شآء باهلته دَ دے عدت وضع دَحمل ده - ځکه چه سورة بقرة مخکښے ده (۸۷) او سورة طلاق وروستو دے (۹۹) - نو په ځائے دَ تعارض کښے طلاق ناسخ دے بقرے لره - (۱) تائید: حضرت عمرؓ فرمائی که خاوند دَ حاملے لا په تخته دَغسل وی او بچے دَ حاملے پیدا شو نو عدت ئے ختم دے - (۲) سبیعه اسلمیهؓ دَ سعد بن خولهؓ بی بی چه کونډه شوه او ورئے بچے پیدا شو نو دے ځان سنبال کړه په غرض دَ خاوند - نو ابوسنابل بن بعکک ورته او وے چه ته به څلور میاشتے او لس ورځے عدت تیره وے - نو دے دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام نه تپوس او کړو نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته دَ نکاح اذن او کړو -

فائده:- معلومه شوه چه دَ کونډے نکاح څه عار نه دے البته که نکاح نه کوی دَ خپلو بچو دَ خدمت دَ پاره سره دَ عفت نه نو ثواب دے - او که نکاح کوی دَ عفت دَ پاره نو بیا ثواب دے انما الاعمال بالنیات - افراط تفریط نه دے په کار -


دا بیان دَ کونډے دے -	وَلَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ : ۲۳۵

ولا تعزموا عقدة النكاح - نهی دَ احکاموشرعی تقاضا دَ بقی دَمشروعیت کوی - خو دا لا تعزموا تے نه مستثنیٰ دے بلکه دا نکاح باطل دے - او امام مالک صاحبؒ وائی چه په دے نکاح سره حرمت تابیدی راځی -

په دے کښے اقسامٌ مطلقه بیان دی (۱) غیر مدخول بها صراحة (۲) او مدخول	وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ : ۲۳۶

بها ضمنا - په دے نقشے سره - (په ص۱۲۱ کښے ئے اوګوره) -

تکه مظفر حسین چه کونډه سره نکاح کړے وه (حکایت او بیا) خطبها ابوسنابل بن بعکک - (بخاری ص۶)
الفقه زرعه عبد الله بن مسعودؓ وسقاه علقمه وحصده ابراهیم وداسه حماد وطحنه ابوحنیفه وعجنه ابویوسف وخبزه محمد وسائر الناس یاکلون - (دفاع امام ابوحنیفهؒ)



مطلقه

(۱) غیر مدخول بها
(۱) غیر المسمی لها المهر — متعه واجبه ده او عدت نشته
(۲) المسمی لها المهر — نصف مهر دے متعه غیر مستحب ده او عدت نشته

(۲) مدخول بها
(۱) المسمی لها المهر — کل مسمٰی دے متعه مستحبه ده او عدت پکښے شته۔
(۲) غیر المسمی لها المهر — مهر مثل دے متعه مستحبه ده او عدت پکښے شته۔

کونړے لره پوره مهر دے مدخول بها وی او که نه او میراث دے او عدت د وفات دے۔ او چه ښځه مړه شی مدخول بها وی او که نه د هغے کل مهر رسی۔ او د هغے به میراث هم خاوند وړی خپله حصّه۔

حَافِظُوْا عَلَى الصَّلٰوةِ: ۲۳۸ — راجح دا ده چه صلوٰة وسطیٰ په دے پنځو مونځو کښے مستور دے

لکه لیلة القدر چه په رمضان کښے مستور دے۔ او ساعت د جمعے په ورځ د جمعے کښے مستور دے۔ بعض وائی چه صلوٰة وسطیٰ عصر دے او په دے باندے قول کوی عائشه صدیقه رضی الله عنها۔ او په دے صلوٰة کښے جمع کیږی ملائک د لیل او د نهار۔ قٰنِتِيْنَ په ادب سره ولاړ دیشه امام صاحب را اوباسی چه اصل په صلوٰة کښے سکون دے نو ځکه جهر په تسمیه او په آمین کښے نه شو کړی۔

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ: ۲۴۰ — دا حکم استحبابی دے ورثو د پاره چه کونډه د یو کال پورے نه شړی چه هغه حصار یږدی۔ وَصِيَّةً ای لیوصوا۔ متاعًا۔ ای تمتعین۔ غیر اخراج ای غیر مخرجات۔

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ: ۲۴۳ — د امور انتظامیو نه بعد اعاده مسئله د جهاد۔ او الم تر ځکه ذکر شوے دے

لے چه حنفی او وے کاتب ته چه او لیکه پس د الصلوٰة الوسطیٰ نه صلوٰة العصر ۱۲ ۱۳

یعنی بزدلی کیږی په دے دهاړی تعلق د حکم نه شوی کی کیدہ له شی نو ضرور جنګ وکړی۔

چه معلومه شی چه دا اصلی مسئلے ډ جها دسره تعلق لری۔ دیار هم ذروان علا قه واسط (ابن کثیر) اُلوف۔ په ذرګا وُو تعین ډ الوف من فضول العلم دے۔ فضول العلم هغه وی چه په وجود کښے ئے ثواب او په عدم کښے ئے عذاب نه وی۔ الموت۔ مرض یا دشمن (مسئله) چه په کوم مقام کښے مرض او لویږی هلته تله هم نشته او تيخته تے نه هم نشته۔ فقال الله لهم موتوا۔ یعنی الله تعالیٰ هغه مړه کړه۔ نو سړے ولے ډ دشمن نه تختی۔ مرګ خوډ باری تعالیٰ په قدرت کښے دے۔ ابوالکلام آزاد وائی چه دشمن په دوی غالب شو۔ ثم احیاهم۔ یعنی بیائے ژوندی کړه۔ او آزاد صاحب وائی چه باری تعالیٰ په دوی کښے همت پیدا کړ او دوی ډ دشمن په مقابله کښے اودریده۔ په ظاهر کښے معلومیږی چه آزاد صاحب ډ خوارق نه منکر دے۔ لکه دغه مسلک ډ معتزلوو دے۔ لیکن ډ هغه دستور دے چه داسے توجیه کوی چه مخالف تے نه انکار رو نه کی نه چه هغه خوارق نه منی۔ او چونکه آزاد صاحب پخپلے غلطئ تاُمل کیده او ډ علماؤ قدر ئے کاوه لهذا علماء په هغه پسے ډیر نه دو ګلیا شوی۔ سره له دینه انورشاه صاحب پے رد لیکلے دے چه دے ضعیفه توجیه حواله کی مفسرین ته نو رد ئے اوکی۔ او قوی توجیه حواله کی ځان ته۔

اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِىٓ اِسْرَآءِيْلَ : ۲۴۶	داغونه ده چه قلیل لوه خدائے پاک برے ورکوی

هل عسیتم۔ ستا سو نه توقع ده۔ عسیٰ مفرد په قرآن کښے خبر دے او جمع استفهام دے (کسائی)۔ وما لنا الا نقاتل۔ ما لک لا تفعل وان لا تفعل لغتان فصیحتان (ابن جریر)

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ : ۲۴۷	طالوت علم عبری دے۔ څوک وائی لقب دے ډ طول نه او علم ئے ساول

اقرب ۳۰ علم ان القرب یقال فی النکاح والقریبة فی المنزل و القربیٰ و القرابة فی النسب ۳۰، بابه کرم فوائد اللغة

ابن قیس دے پہ سریانی کښے۔ (ابن جریر)

انی یکون له الملک علینا۔ محکه چه دے خوک نسل د بنیامین نه د ے هغه خو د شاهی نسل نه نه دے بلکه شاهی نسل خو د یهودا دے او د نبوة نسل د لاوی دے او دے په دواړو کښے نه دے او نه مالدار دے۔ ولم یؤت سعة من المال نه دے ورکړے شوے ورته ذیاتے د مال۔ وزاده بسطة فی العلم۔ ورکړے دے ورله زیادت په علم کښے۔ باری تعالیٰ په دوی رد اوکړو په څلورو وجوه سره چه دے د بادشاهئ لائق دے (۱) علم (۲) جسم (۳) د حکومت اختیار د خدائے تعالی دے (۴) مال هم د هغه دے۔

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ: ۲۴۸ سکینة۔ تسلی۔ وبقیة۔ واو تفسیر دے مما ترک آل موسی۔ څه تبرکات وو۔

فائده:۔ د کوم شی تبرک چه منصوص وی په هغے به قول کوو۔ لکه ویښته د نبی علیه الصلوة والسلام چه تقسیم شوی وو په حجة الوداع کښے۔ او غیر منصوص به نه قیاس کیږی په منصوص باندے۔ ځکه چه تبرک د شی معقول نه دے بلکه منقول دے۔ نو نص غیر معقول شو۔ او د نص غیر معقول تعدیه نه صحیح کیږی۔ (اصول فقه)

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ: ۲۴۹ هرکله چه راووتلو طالوت لښکرو له۔ جنود جمع د جند دے او جند مفرد دے۔ بنهر۔ نهر شریعه چه د اردن او د فلسطین په درمیان کښے دے۔ بقول ابن عباس صاحبؓ (ابن کثیر) ومن لم یطعمه چا چه او نه سکلو دا او به۔ طعم۔ مستعمل په ماکول او مشروب دواړو کښے نو وارد نه شو اعتراض د پاڅې چه لم یشربه پکار دوه۔ الا من اغترف غرفة۔ چا چه ډک کړه یو څو نګئ غرفة د ے واړه مستعمل دی۔ الا قلیلا۔ دے سوه دیارلس ۳۱۳ (ابن عباس)

تائید: براء وائی چه اصحابو د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم

بہ خبرے کولے چہ شمار دَ بدر یانو او دَ طالوت دَ هغه لښکر چه دَ
نهر نه پورے وتی وُو هم وو۔ (بخاری)

الذین یظنون په دائے خیال وه۔ مع الصّٰبرین۔ معیت په اعتبار
دَ عون دَے نه زمانی او نه مکانی۔

وَلَمَّا بَرَزُوْا: ۲۵۰ — هر کله چه را او وتل دَ پاره دَ جالوت۔
افرغ علینا صبرا۔ صبر ے مثال بہ کړ، دَ اوبو سره
دا استعاره بالکنایه شوه۔ او افراغ ئے ورلره ثابت کړ نو دا تخییلیه شوه

فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ: ۲۵۱ — قصه:۔ میدان جنګ ته جالوت
یواځے راغے مسلح۔ په مسلمانانو رعب
راغے۔ شمویل اووے چه چاده لره مړ کړو نو زهٔ به ورلره خپله لور
ورکړم او طالوت اووے چه زهٔ به ورلره نیمه بادشاهی ورکړم
ایښی دَ داود علیه السلام پلار سره دَ شپږو ځامنو په جنګ کښې شریک
وه۔ پیغمبر ۳ ته خپل ځامن مخامخ کړه نو دَ هغوی منظوری او نه شوه
نو داؤد علیه السلام ئے ورته پیش کړ دے کشر وو۔ داؤد علیه
السلام اووے چه زهٔ به ئے دَ خدائے په حکم سره مړ کړم۔ نو ور پیے
لاړ۔ او جالوت ئے په سر او ویشته او مړ ئے کړ۔ نو پیغمبر ۴ ور ته
خپله لور ورکړه۔ او طالوت دے په نیم حکومت باندې کودنو کړ۔ بیا
دَ هغه دَ مقبولئ دَ وجے نه او ویریده او دَ هغه دَ مرګ اراده ئے
اوکړه۔ نو داؤد ۵ هجرت اوکړه۔ بیا چه طالوت مړ شه نو بنی اسرائیلو
داؤد علیه السلام واپس راوستو۔

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا: ۲۵۳ — منهم من کلم الله دا کلام مع
الحجاب وه۔ چه خلاف دا نه شی
دَ ما کان لبشر ان یکلمه الله۔ (شوری: ۵۱)

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ: ۲۵۵ — اعاده مسئله توحید ثانیا بو اسے
نفی شفیع قهری۔ دیته اشاره ده

سه الحی مستقر خبر بعد خبر دے یا خبر دَ مبتدأ محذوف دے چه هُوَ دے یا صفت دے دَ هُوَ بنا په دے چه هو اسم دے نو لازم نه شو توصیف دَ ضمیر ځکه ضمیر خو لا یوصف و لا یوصف به دے (کتب نحو)

چہ مقصود دَجہاد نہ اعلاء دَ دے کلمے دہ - نو حسن دَ جہاد دَ وجے دَ دے توحید نہ دے - القیوم - دَ تمام عالم سنبالونکے - سنۃ وَلا نوم السنۃ فی الرأس - والنعاس فی العین - نوم غلبہ دہ پہ عقل چہ ختمیږی پہ احساس دخازن) کرسیہ - (۱) تم آسمان دتھا نوی) (۲) عرش دے (حسن بصری) (۳) یا بادشاھی (شاہ ولی اللہ) (۴) یا علم الٰہی (ابن عباسؓ) -

فائدہ :- عالم دیارلس کری دی - خاورے (۱) - اوبہ (۲) - ھوا (۳) - اور (۴) - داعالم سفلی دی - اوۀ اسمانونہ - اتمہ کرسی - نہمہ عرش - داعالم علوی دی سدی وائی تمام عالم پہ کرسی کښے داسے دے لکہ حلقہ پہ بیابان کښے - او بیا کرسی پہ عرش کښے هم داسے دہ - خاورے چہ وړہ کرۀ دہ پہ اوبو کښے پناہ دہ صرف یو سرئے بنکارہ شوے دے حغہ بیا ربعہ مسکونہ دہ - فتعالی اللہ علوا کبیرا -

لَاۤ اِكْرَاهَ فِى الدِّيْنِ :۲۵۶-۲۶۰

حاصل مضمون :- مقصود دَجہاد نہ داشِ دے چہ کافران بہ پہ زور مسلما نوی - بلکہ مطلب دا دے چہ دَ کافرانو شوکت ختم شی - او مسلمانانو تہ تکلیف نہ شی رسولے نو رقد تبین الرشد من الغی یعنی ھدایت او ضلالت بنکارہ شوی دی - نو چا چہ (۱) رشد وا غست نو اللہ ئے ولی دے دَ شبہات نہ ئے ربڑا تہ راوباسی او چا چہ (۲) گمراھی اختیار کړہ نو شیطان ئے ولی دے - نو دے دَ رنړا نہ را اوباسی ظلمت تہ - تہ نہ گورے نمرود کافرتہ چہ شیطان ئے ملګرے وہ نو دَ دومرہ غټ پیغمبرؑ مقابلے تہ تیار شہ نو دا قصہ تفریع شہ پہ دویم قانون باندې - او نہ گورے عزیر علیہ السلام او ابراھیم علیہ السلام تہ چہ دَ حغوی ملګرے خداوند تعالیٰ وۀ نو حغوی دَ علم الیقین نہ عین الیقین تہ راغلہ - نو دا دوہ قصے تفریع شوے پہ اول قانون باندې نو لف نشر غیر مرتب شو -

اللهم ارحم شیوخنا -
الی الذی حاج ابراهیم - نمرود ابن کوس ابن سام ابن نوح بابل ئے پایہ تخت وُہ - دَ تمام جهان حکمران وه - لکه بخت نصر - او دیہ مسلمانانو کښے سلیمان علیه السلام او سکندر رومی دَ تمام دنیا حکومت کړے دے۔
قال لبثت یوما او بعض یوم - دَ دینه معلومه شوه چه مردگانو دَ دنیا د احوال نه دی خبر - مړے په خواب کښے لیدل دا سے دی لکه ژوندے لیدل - ملا علی قاریؒ لیکی په مرقات کښے الرؤیا عند اهل السنة والجماعة خلق الله اعتقادات فی قلب النائم کخلقها فی قلب الیقضان (حاشیه مشکوة ص۳۹۴)
شهداء دَ احد هرکله چه مړه بیا مونده په جنت کښے نو اوئے وے چه څوک به اورسوی رونړو وروڼو ته چه مونږ ه ژوندی یو په جنت کښے چه بے رغبته نه شی دَ جنت نه - نو باری تعالیٰ اووے چه زۀ به ئے اورسوم نو نازل الله تعالیٰ لا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا (آل عمران: ۱۶۹) مشکوة ص۳۲۴
معلومه شوه چه شهید په خواب کښے نه شی راتلے دنیا ته ورنه نو شهداء دَ احد به خپل قوم دَ خپل حال نه په خواب کښے خبر کړے وے - خو تحقیق مشکوة ص۱۴۲ کښے دے چه مړی دَ دنیا نه خبر نه دی ځکه چه ژوندی مړے دَ نوی مړی نه دَ دنیا تپوس کوی -
الم تؤمن - اے الم تعلم - ولم تؤمن دا دَ قبیلے دَ الزام دَ مخاطب دے بمالم یلتزم - (انورشاه) یعنی دَ مخاطب نه یو کار شوے وی هغه دَ دۀ دَ شان سره مناسب نه وی نو متکلم ورته زیاته زورنه ورکی چه دَ هغے دۀ التزام نه وی کړے - دا په هغه ځائے کښے وی چه دَ متکلم دَ مخاطب سره محبت وی - لکه یو شاګرد دَ استاذ په ځائے کښے تاخیر وکی نو استاذ ورته الزاما اووا : چه

خاتمه چا په مرګ خوشحاله شوې۔

ابوالکلام آزاد وائی چه هرکله ابراهیم علیه السلام ته فرمان او شو د تبلیغ نو ده او وے چه اے خدایه دا کافر چه مړه دی نو څنګه به ژوندی شی په ایمان سره۔ نو باری تعالیٰ ورته اووے چه څلور پرندګان واخله او د ځان سره ئے عادت کړه او بیائے په مختلفو غرونو کیږده او بیا ورته آواز او کړه نو را به شی تا ته نو انسان خو عاقل دے ده سره چه محنت او کړے نو ضرور به ایمان سره عادت شی۔ او ده دلیل دی چه په کتاب الله کښې د ټکړے ټکړے کولو ذکر نشته نو خبره نشته۔ لیکن ابن عباس صاحبؓ فرمائی فصرهن نبطی ژبه ده معنیٰ ئے ده ټکړے کول۔ وهب ابن منبه وائی چه داروی ژبه ده په دغه معنیٰ کښې۔ صارالشیٔ قطعه (المنجد)

مَثَلُ الَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ : ۲۶۱	مسئله انفاق یعنی د اعلاء د کلمة الله د پاره چه جنګ کیږی نو مال خرڅولو

ته پکښې ضرورت وی۔ لیکن شرایط د قبول د صدقے شپږ دی (۱) اموالهم (۲) فی سبیل الله ثم لا یتبعون ما انفقوا (۳) منا (۴) ولا اذی کالذی ینفق ماله (۵) رئاء الناس۔ (۶) ولا یؤمن بالله۔ یعنی (۱) حلال مال به وی (۲) او د پاره د خدائے به وی (۳) ملازه به نه وی (۴) او تکلیف د رسول به هم نه وی (۵) ریاء به هم نه وی (۶) او ایمان به وی (معارف)

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ ، ۲۷۰	نذر (۱) یو مطلق وی (۲) بل مقید د مقید په حق کښې نبی علیه الصلوٰة

والسلام فرمائی" لا تنذروا فان النذر لا یغنی من القدر شیئا وانما یستخرج به من مال البخیل" (مشکوٰة ص۲۹۷)

اودویم نذر د پاره د تقرب د غیرالله دے د دغه حق کښې باری تعالیٰ فرمائی۔ وما للظلمین من انصار۔ نو د دے ایت د نذر نه مراد مطلق دے ځکه د دے نذر ته ترغیب ورکړے شوے دے۔

فائدہ :- زمخشری وائی چہ کومہ کلمہ چہ فائے نون وی او عین ئے فا وی نو پہ ھغے کښے بہ خروج وی لکہ نفق، نفذ، نفد، نفر، نفث نفی، نفخ، نفح - لکہ چہ جیم او دوہ نو نو نہ راشی نو معنی بہ پکښے د مستر وی لکہ جن، جنت، جنون - دا رنګے چہ عین، ذال، بہ راشی نو معنی د قطع بہ وی پہ کښے - لکہ ملاء - عذب، عذاب -

اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ : ۲۷۱

پہ ورځ د قیامت د عرش پہ سوری کښے بہ وی (۱) امام عادل (۲) ځوان عابد (۳) محبت والا مسجد سرہ (۴) محب فی اللہ (۵) مانع د زنا منہ عند الدعوۃ (۶) خفیہ صدقے والا (۷) چرتہ والا پہ خلوت کښے (بخاری) وتؤتوھا الفقرآء - معلومہ شوہ چہ خیرات ھغہ دے چہ د فقیر حاجت دفع کی - نہ چہ مال ضائع کی -

فائدہ :- چرتہ دا اعلان او چرتہ زمونږ د وطن دا خیرات نو بہ بین تفاوت رہ از کجاست تا بہ کجا - (غریب)

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ : ۲۷۳

۲۷۱ انفقوا - لا یستطیعون ضربا

طاقت نہ لری د سفر ځکہ چہ ورکا رنہ دی د اعلاء د کلمۃ اللہ نہ دا سے نہ چہ مریضان دی - معلومہ شوہ چہ اعلیٰ مصرف د صدقات طالب العلم دی -

یحسبھم الجاھل اغنیآء من التعفف - معلومہ شوہ چہ طالب العلم بہ خوددار وی - الحافا - پہ وازہ خولے سرہ رشیخ سرحد) فان اللہ بہ علیم - دا ترغیب دے انفاق تہ -

اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا : ۲۷۵

زجر برائے ربوخور -

مس - جنون - انما البیع مثل الربوٰا تشبیہ معکوسہ دہ - ومن عاد - الی تحلیل الربوٰا یا د خلد ونہ نہ طول مکث مراد دے -

الطل اضعف المطر، الوبل اشدہ حتی یکون منہ السیول الطل د پاران شبنم ، باران ۱۲ فزید الثمر بزیادۃ

یمحق اللہ ۲۷۶ قال ان الربا وان كثر فان عاقبتہ تصیر الی اقل ۱۲ مشکوٰۃ

الربا سبعون جزء ایسرھا ان ینکح الرجل امہ - مشکوٰۃ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ: ۲۸۲	دريم محل بيان امور انتظاميه عليه الحق سفيها - معلومه

شو ه چه په سفيه باندې حجر دی دا مذهب د صاحبين دے - او امام صاحب والی چه په پنځويشتم کال به ورته مال حواله کيږي - محکه باری تعالیٰ فرمائی فان آنستم منهم رشدا فادفعوا اليهم اموالهم - (نساء ۴)

رشد نکره ده او نکره په اثبات کښے مطلقه وی نو رشد تحقيقا وی او که تقديرا او په دے موده کښے سړے درجے د جد ته رسيږي محکه چه د وشتم کال د بلوغ دے او اقل موده د حمل شپږ مياشتے ده -

ولا يضار کاتب - صيغه مجهولا او معلومه دواړه کيدے شی يعني ضرر دِ نه رسوی کاتب يا ضرر دِ نه شی رسولے کاتب ته -

وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ: ۲۸۳	فرهن مقبوضة - ای فيناسب مرهون مضمون ده په مره تهت

په اقل د دين او د قيمت د مرهون - زوائد (لکه جوار د پتي) مضمون دے په استهلاک سره - او منافع (لکه سکونت د کوټے) مضمون نه دے محکه دا اعراض دی او د اجارے عقد د اعراض ضرورة دے - دا سے نه چه دا منافع حلال دی - نبی عليه الصلوة والسلام فرمائی (لبن الدر يشرب بنفقته اذا کان مرهونا) مشکوة ص ۲۵۰) فی الحاشية (والجمهور على ان منافع المرهون للراهن والنفقة عليه والحديث منسوخ باية الربوا فانه يلزم انتفاع المرتهن لاجل دينه وکل قرض جر النفع فهو حرام) يا معنی داده چه پی سکل شی په عوض د نفقے کښے -

فائده:- رهن عقد د وثيقی د دين دے نه چه اذ سر نو رد پے ورکوی د پاره د پټي رهن کولو دا خو ربوا ده -

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا: ۲۸۶	لها ما کسبت - ای اجتهدت ام - ۲

له لپاره د راهن چه مالک د پټي چين د مرهونے دے ۱۲

۲ تکليف بما لا يطاق جائز دے محکه چه مقصود د احکامو نه ابتلا دے خو دا تکليف واقع نه دے په استقراء سره ۱۲ (بيضاوی)

وعلیها ماکتسبت - ای لا تؤاخذ الا بما اجتهدت فی تحصیله من المعاصی فان الافتعال للمبالغة (شافیه)

فائده :- هاجس ضعیفه خطره ورپسے خاطر دے بیا حدیث النفس په دوی کښے حساب نشته دَخیر وی او که دَشر وی - ځکه دا غیر اختیاری دی - بیا هم دے دا معتبر دے په خیر کښے نه په شر کښے بیا عزم دے دا په خیرا و شر دواړو کښے معتبر دے - ان نسینا - ای ترکنا - (طحاوی) یعنی هیر نه دی مراد ځکه چه په هیر کښے گناه نشته -

اَوْ اَخْطَأْنَا - معلومه شوه چه په خطا کښے گناه شته - خطا په فعل کښے وی - لکه گولئ دَ ښکار ته تیروُزی او سړے مړشی - یا خطا په ظن کښے وی لکه چه سړے گمان وکی په چا دَ کافر او هغه مسلمان وی - معتزله وائی چه په خطا کښے گناه نشته - ځکه دا سړے قاصد دَ گناه نه دے - دوی نه دی خبر چه ترک دَ احتیاط گناه دے - البته مثلاً په قتل کښے به دَ قتل گناه نه وی - بلکه دَ ترک دَ احتیاط گناه دے

اصرا - گران احکام - مالا طاقة - مصائب - فانصرنا علی القوم الکفرین ه ځمونږ سره امداد وکه دَ هغه قوم په مقابله کښے چه ستا توحید نه منی یعنی - یا ایها الناس اعبدوا ربکم - مسئله نه مغز دَ سورة بقرة دا دے چه دینی او دنیوی لحاظ سره منتظم شی او دَلآ اله الا الله محمد رسول الله دَ اشاعت دَ پاره جهاد او کی - نبی علیه الصلوة والسلام فرمائی آ - لیتان من اٰخر البقرة من قرء هما کفتاه (مشکوة ص۱۸۵)

تمت سورة البقرة - ۱۸ محرم سنة ۱۴۰۱ھ یا رب لک الحمد کما ینبغی لجلال وجهک وعظیم سلطانک

وانا الغریب ابو موسیٰ

کتابت :- ابو حسیز سواتی ۸۳ - - - ۱۹-

په معراج کښے نبیؑ ته دریے انعام میلاؤ شو ۱، صلوٰۃ خمسه ۲، خواتیم سورة بقرة - ۳، مغفرت موحد ته - (شاولی اللهؒ)

کمال دنبیؑ په اعتبار دامت سره دے - تشریف دست سلطان چوگان زند ولے بے گوے روز قیمتی چوگان چه کار دارد - (ازالة الخفاء)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِیْ دہ

په ترتیب قرآنی سوره دریم ده او نزولی سوره (۸۹) دے۔ بعد الانفال و قبل الاحزاب۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائی چا چه ولوستو ال عمران پورے د جمع نو دعا په ورته کوی ملائک تر شپې پورے۔ (دارمی)

ایا تو نے دوه سوه دی او رکوعات نے شل دی

ربط "د سوره بقره د مضامینو نه اعاده د توحید، رسالت، جهاد انفاق۔ (۲) د توحید د دریو طرفو نه۔ دلته صرف په یو طرف یعنی د نفی د شرک فی التصرف بحث دے۔

(۳) د نورو شبهو چه وارد یږی په توحید باندې۔ جوابونه۔

(۴) په سورة بقره کښې اصلاح د یهود وه۔ دلته د نصارا د وه۔

فائده:۔ په اولو دوو ربطونو کښې دا سورة د ما قبل د پاره تخصیص دے۔ او په روستنو ربطو نو کښې تتمه او تکمله ده۔

خلاصه

په دے سورة کښې دوه حصے دی۔

(۱) په اولی حصه کښې دوه مضمونه دی۔ توحید د اول سورة نه آتیا ایتو۔ رسالت د واذ اخذ الله میثاق النبیین نه

(۲) په دویمه حصه کښې چه شروع ده د یاایها الذین امنوا نه (۱۰۲) هم دوه مضمونه دی۔ جهاد او انفاق۔

سبب نزول:۔ وفد نجران شپیته کسان په اتیانو سره راغلو د مناظرے د پاره نبی علیه الصلوٰة والسلام سره۔ چه عیسیٰ متصرف فی الامور دے۔ ابوالحارثه نے عالم او عبد المسیح امیر وه او ایهم سید نے وزیر وه۔ (محمد بن اسحاق) نو آتیا ایا تونه نازل شو د اول نه۔

انجیل - په سریانی کښے وائی نورالعین - تورات په عبرانی کښے وائی علام الحق تبرا بریز ص۲۱۳) - منه ایات محکمات (۷) واضح الدلالة - احکمت ایاته (هود ۱) پخته مضمون والا - په دے معنی سره کل قرآن محکم دے - بخلاف د معنی اوّلے نه - دارنګے - واُخر متشابهات - غیر واضح الدلالة - کتابا متشابها (زمر: ۲۳) بعض مصدق د بعضے د پاره په دے معنی سره کل قرآن متشابه دے بخلاف د معنی اوّلے نه هُنّ ام الکتاب دا اصل د قرآن دے - احکام به په محکم ثابتیږی او د متشابه به هغه معنی مراد وی چه موافق د محکم سره وی. دا د اول اعتراض جواب دے چه د عیسیٰؑ په حق کښے په دے کتاب الله کښے روح منه (نساء: ۱۷۱) راغلے دے - او په محکښے کتابونو کښے ابن الله راغلے دے - حاصل جواب دا دے چه دا متشابهات دی او محکم دا دی چه الله لا اله الا هو الحی القیوم - حاصل دا دے معبود بے د باری تعالیٰ بل څوک نشته محکه ژوندے دے منتظم دے قرآن دا وائی او انجیل او تورات هم دا اعلان کوی او عقل دا وائی محکه چه دے غیب دان او کارساز دے بخلاف د عیسیٰؑ او د مور د ده چه دا نه دی. او کوم د عیسیٰؑ په حق کښے روح منه وغیره الفاظ راغلی دی نو دا متشابهات دی د دے معنی به د محکم نه معلوموی - والراسخون فی العلم (۷) من برت یمینه، وصدقت لسانه، واستقام قلبه وعف فرجه، وبطنه فاولئك من الراسخین فی العلم (ابن ابی حاتم - بحواله کشکول ص۱۶)

رسوخ فی العلم کیږی په تعلق بالله سره - لکه ابودا ؤد په درے ورځی کښتئ اغستے وه د پاره د یرحمك الله دیلو هغه چاته چه هغه پچهاز کښے پرنجے کړے وه - او الحمد لله ئے ویلے وه - نو هاتف ورته اووئیل چه په درے روپئ د ځان نه جنت واغستو یا لکه سرپے یو نیخے تاآئی او وائی دائے رسوخ فی العلم دے - او کښ

بلا تشبیه
لله صفه،
وهاب ۱۲

دپیلے نه که په تند کښے اُوبه وسکی، مؤپه اُوبو کښے وینی.

قالﷺ یجاء بصاحبه
شهد لله ... فی یوم القیامة فیقول الله تعالیٰ
عبدی عهد الیّ وانا احق من اوفیٰ بالعهد ادخلوا عبدی الجنة.

اس حدیث کیلئے غالب قطان نے ایک سال تک سفر کیا تھا، پھر امام اعمش نے اسکو یہ حدیث سکھایا.
(تراشے ص۱۲۴)

ورته او وائی چه ځما د پلار بنیځ نو دا ئے رسوخ فی العلم نه دے -

یا لکه بادشاه انوری شاعر ته اس ورکړ هغه مړ شه نو انوری

لا ړ او بادشاه ته ئے اووے ۵

اسپ شاهی به انورے بخشید | باد صرصر به گردنش نه رسید
آنچنان تیز بود در رفتار | کہ شباشب بعاقبت بر سید

نو بادشاه ورلوه په انعام کښې بل اس ورکړ - د مړکی نه دے

تعبیر اوکړ چه داسے تیز وه الخ (قاری محمد طیب صاحب)

یا لکه یو بادشاه خواب اولیده چه ځما غا خو ټول ارتاؤ شوی دی

نو یو تن ورته اووے چه ستا اقارب به مړه شی - بادشاه خفه شو نو

بل عالم چه رسوخ فی العلم ئے وو - نو هغه اووے چه د بادشاه عمر

به زیات وی نو بادشاه ورلوه انعام ورکړ او مصداق د دواړو تعبیرو

یو وه خو فرق عنوان وه -

واخریٰ کافرۃ یرونهم مثلیهم - ۱۳ - لیده هرے فریقے بلے لره

دوچند خپل نو مسلمانان درے سوه دیارلس ۳۱۳ د پاسه وو - نو کفار

مسلمانانو ته د خپل ځان نه دوچند ښکاره شو ۶۲۶ - او حال دا چه هغوی

خو ډیر وو یعنی زرکسه ۱۰۰۰ وو - نو په دے سره د مسلمانانو په زړونو

کښې تسلی راغله ځکه چه د دوه وو کافر وسره خو به یو مسلمان جنګ

کوی - او کفارو ته مسلمانان دوه زره ۲۰۰۰ ښکاره شو نو د کفارو په زړونو

کښې هیبت راغے تائید: فثبتوا الذین اٰمنوا - سالقی فی قلوب

الذین کفروا الرعب (الانفال: ۱۲) دا صورت د میدان جنګ وو - او

حمله چه دوی د یو بل نه لرے لرے وو - نو دا صورت باری تعالیٰ جوړ

کړے وه - واذ یریکموهم اذ التقیتم فی اعینکم قلیلا ویقللکم

فی اعینهم لیقضی الله امرا کان مفعولا - (الانفال: ۴۴) نو تعارض پاتے

نه شو په بین د مثلیهم او یقللکم کښې فافهم وکن من الشٰکرین -

الذین یقولون ربنا اننا اٰمنا فاغفرلنا ذنوبنا - ۱۶ - د قا نه ما قبل

گرم سوزش ودید . معارف مثنوی صـ۲۲

۵
علم منهاران
الاولیٰ مسلمة
وعلماں الثانیة
تقاتل فی سبیل
الطاغوت خفیها
صنعة الاحتیاک ۱۲

- - - - -

یقاتلون فی
سبیل الطاغوت
نساء ۷۶ ،
ذالک متاع
الحیوۃ الدنیا
۱۴ ، یعنی حیا
کم شی دے او
فانی دے په
دے غره رهه
کوئی ۱۲ ۵
دریغا کہ بے ما
بسی روزگار
بروید گل و بشگفد
نو بهار
بسی تیر دی ماه
ارد ی بهشت
بر آید کہ ما خاک
باشیم و خشت

- - - - -

افسوس چه یے
ځمانه اوبشی
گلونه او راښی
پسرلے ، دیر
خاشتہ میاشت
به راشی چه موږ
ختم شو عدیو -

ہر کہ خود را بنزد بیہ
کمتر بدید ، لاجرم
او نزد حق باشد سعید -
ہر کہ خود را مستحق قتش
بدید ، از رحمت حق از

سبب وی دَ ما بعد دَ پاره - نو معلوم شو تو سل په اعمال صالحو سره

فائده :- په ایمان کښې به سړے تواضع نه کوی او په اعمال کښې به ورته ځان چرکوز ښکاری - او معلومه شوه چه غټ غټ گناه معاف کیږی او سړے په نه کافر کیږی دا مذ حب دَ اهل سنّت والجماعت دے - او دَ عقیدے خبره ډیره باریکه ده په عقیده کښې سړے په لږ نقصان سره کافر کیږی - او په عمل کښې په غټ گناه کښې کفر نشته -

والمستغفرین بالاسحار - ۱۷ - کمال دا دے چه سړے اعمال صالحه کوی او بیا هم استغفار کوی - ۵ بیت -

همه شب پشت از عبادت دوتا ۔ سحر چشم از شرم بر پشت پا (سعدیؒ)
عبادت سحری مکن نظیری کم ۔ که هر چه کرد دعا های صبح گاهی کرد
چو برآرد ازپشیمانی حنین ۔ عرش لرزد از انین المذنبین (رومیؒ)

واولوا العلم قائما بالقسط - ۱۸ - معلومه شوه چه عالم حقه دے په دلیا ربانی کښې چه دَ توحید گواهی او اشاعت کوی -

ان الدین عند الله الاسلام - ۱۹ - دین، اسلام، شریعت، ملة الفاظ مترادف دی - شرعا او لغوی معنی کښې متغیر دی - په اصطلاح دَ قرآن کښې (۱) شریعت وائی علم دَ قرآن ته (۲) طریقت وائی عمل ته په قرآن بانذے تائید : وان هذا صراطی مستقیما (انعام : ۱۵۳) - دا شریعت دے فاتبعوه (انعام : ۱۵۳) دا طریقت دے او په اتباع دَ شریعت بانذ مرتب دے - (۳) معرفت یعنی وصول الی الحق تائید : والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا (عنکبوت : ۶۹) - (۴) حقیقت مصداق دَ بیان دَ قرآن دی په اخرت کښې تائید : یوم یأتی تاویله (اعراف : ۵۳)

قل اللهم مالك الملك تؤتی الملك (۲۶ - ۲۷) ثمره ادلیه ئے توحید یعنی هرکله چه عقلا و نقلا معلومه شوه چه غیب دان یوا ځے او کارساز یوازے باری تعالی دے نو حاجت به یوازے دَ هغه نه غواړے - او طریقه دَ غوښتو داده چه دَ هغه صفات به هغه ته

زین للناس ۔ حب دنیا از خدا غافل کرد ۔ نے قماش و نقره و فرزند و زن ۔
یعنی دنیا نوم دَ غفلت دے نه دَ مال الدرے

آب در کشتی هلاک کشتی است ۔ آب اندر زیر کشتی پشتی است ۔
یعنی دَ دنیا تعلق هلاکت دے ورنه دنیا خو اسباب دَ ترقی دَ دین دی ۱۳ (از رومیؒ)

۱ - تول شپه شاد عبادت نه تیره وی، سو سترگے دَ شرم نه په شاد خپو وی .
۲ - عبادت دَ سحر مه کوه ای نظیر کم، هرڅه چه شوی دی دا دَ سحر دعاگانے دی .
۳ - هرکله چه څوک د ندامت نه جړا کړی نو عرش رپیږی دَ جړا دَ گنهگار نه .

قوم گفتند به معانی منزیز ... او مثنی موزیدو، شو اشن ورته اووے چه ته پیدا او لاس پاک کیږے دے نو (ال عمران ۳) چه مسلمان اتباع

وسیله کوی - قال النبی علیه الصلوٰة والسلام (اسم الله الاعظم اذا ادعیٰ به اجاب فی هذه الأیت (ابن کثیر)

لا یتخذ المؤمنون الکفرین اولیاء الخ (۲۸) -

(۱) موالات - د زړه تعلق دے دامختص دے په مؤمن پورے -

(۲) مواسات - نفع رسانی ده داجائزدی سره د غیر حربی نه -

(۳) مدارات - خوش خلقی ده دا جائز دی د حربی سره هم -

(۴) معاملات - یعنی خرید فروخت جائز دی د هرچا سره په شرط د عدم نقصان سره مسلمانانو ته لکه وسله به نه خرڅوی په کافر باندې

(۵) مداهنت - ترک د امر بالمعروف یا ترک د نهی عن المنکر د خپل غرض ذاتی د وجے نه اوکه غرض شرعی وی نو هغے ته حکمت عملی وائی داجائز دی - تائید: ادعوالی سبیل ربك بالحکمة (نحل: ۱۲۵)

قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفر لکم ذنوبکم (۳۱)

بیان معیار محبت الله - معلومه شوه چه محبت د باری تعالیٰ سره موقوف دے په اتباع د نبی علیه السلام باندې - او وسیله اتباع د نبی علیه الصلوٰة والسلام ده - او چه څوک اتباع د نبی علیه الصلوٰة والسلام کوی نو د هغه سره باری تعالیٰ محبت کوی او د هغه ګناه معاف کوی - نو معلومه شوه چه د مبتدع سره د باری تعالیٰ محبت نشته - او د هغه ګناه معافی نه دے -

بمصطفیٰ برسان خویش را که دین همه اوست | اگر باو نرسیدی تمام بولهبی است (اقبال)

مپندار سعدی که راه صفا | توان رفت جز در پئے مصطفیٰ

ترسم نرسی بکعبه ای اعرابی | کین راه که تو میروی بترکستانست (سعدی)

اذ قالت امرأت عمران رب انی نذرت لك ما فی بطنی (۳۵)

دا د ذکریم اعتراض جواب دے چه وارد یږی په مسئله د توحید باندې چه مریم علیها السلام ته بے موسمه میوے راتلے - نو دا به متصرف فی الامور وی - جواب دا خوما فی البطن ده مور د عمران شخه

چه مسلمان اتباع وکړی نو هغه به ضرور کامیاب شی -

(۵) علامات محبت الله (۱) کثرت خلوة (۲) فکر دائم (۳) عدم خفګان بالمصیبت (۴) عدم فرح بالمال (۵) ولا یخشیٰ احدا ولا یعجزه ۱۲

خلاف پیمبر کسی ره گزید | که هرگز بمنزل نخواهد رسید (سعدی)

د پیغمبر نه خلاف چه چا لار غوره کړه هیڅ کله منزل ته نه شی رسیدے -

(۱) "مصطفیٰ ته ورسوه ځان دین د غه دے - که هغه ته اونه رسیدے نو بولهب دے -

(۲) ګمان مه کوه سعدی چه صفا لار موندے شی په د قدم د مصطفیٰ نه -

(۳) یریږم چه اوګ نه نه رسے کعبے ته اے کوچره! په کومه لار چه روان ئے نو ترکستان ته ده -

وه۔ او مور نه پیدا شوے ده۔ او مور ورله د شیطان نه په الله تعالیٰ سوره امن غوا ړی۔ او زکریا علیه السلام ئے پرورش کوی۔ او د بے موسمه میوو پیچ کبنے هغه پخپله وائی هومن عندالله۔ دا خو د تبیلے د مدعی سُست او گواه چُست نه شوه۔ هذا من العجب۔

انی وضعتها انثی (۳۶) دا اظهار د خپل غم دے باری تعالیٰ ته۔ نو اعتراض وارد نه شو چه دا خو خبر دے او فائدة الخبر او لازم د فائدة الخبر پکبنے نشته۔ لیس الذکر الذی طلبت کالانثی التی وهبت۔ وانی اعیذ ها بك وذریتها من الشیطٰن الرجیم۔ حدیث شریف "مامن بنی ادم مولود الا یمسه الشیطٰن حین یولد فیستهل صارخا من مس الشیطٰن ایاه الا مریم وابنها (بخاری۔

اشکال:۔ دا دعا خو مور د مریم علیها السلام د هغے د پیدا یښ نه روستو کړے ده نو هغه څنګه بچ شوه د تو ګے د شیطان نه؟

جواب:۔ دا حدیث د دے ایت تفصیل نه دے چه سبب د بچکید و د شیطٰن نه دعا د مور د مریم علیها السلام شی او کن تفصیل شی نو ذکر د مریم تمهیدًا دے په دے دلالت کوی بل روایت چه په کبنے ذکر د مریم علیها السلام نشته (عثمانی)

نباتًا حسنا۔ جسمانی روحانی اخلاق۔ محراب۔ عبادت ځا نه۔ انّٰی لکِ من این لکِ۔ بغیر حساب یعنی زیات یا بغیر تعب (ابوسعود)

هنالك دعا زکریا ربه (۳۸) دا جواب دے د دریم اعتراض چه وارد یږی په مسئله توحید باندِ یعنی د زکریا علیه السلام خوئ شوے وه او هغه د شپږو شلو کالو وه او بنځه ئے شنډه وه۔ نو معلومه شوه چه دے په متصرف فی الامور وی۔ نو څنګه به یهود د ده قبرله تله د پاره د ځا منو۔ جواب:۔ چه دے خو د الله تعالیٰ نه سوال کوی چه۔ ربّ هب لی من لدنك ذرّیة طیبة۔ مصدقا بکلمة من الله (۳۹)۔ (۱) تصدیق به کوی

فائدة الخبر والی چه مخاطب د یو حکم نه خبر شی چه قیام د زید دے په دے کبنے چه زید قائم، او لازم د فائدة الخبر دے ته وائی چه مخاطب خبر کړی د خپل علم نه لکه یو سړے حافظ د قران ته او وائی حفظت القران یعنی زه په دے خبر یم چه تا ته قران یاد دے

سمت ز کره مطغی
وست ودهن:
بس علی البلاد
ودستر فون۔
معارف مثنوی
ص ۲۰
(ص ۴۳۵)

ځغه ذات چه پیدا شوے دے په علمه د کن سره بے د توسط د پلار نه۔ نو ملعون دی مرزائی چه وائی چه د عیسیٰ علیه السلام پلار یوسف نجار دے۔

(۲) یا به تصدیق کوی د یو اعلان په حق د عیسیٰؑ کښے۔

حصوراً۔ ځان بچ کونکے د ګناه نه۔ یا ځان بچ کونکے د نکاح نه۔ دامذهب د امام شافعی صاحبؒ دے چه نفلی عبادت بهتر دے د نکاح نه په حق د هغه چا کښے که نکاح او کی نو د ښځے حق پوره کولے شی۔ او که نه کوی نو ځان بچ کولے شی د زنا نه۔ او د امام صاحبؒ په نزد نکاح بهتر دے ځکه نبی علیه السلام نکاح کړے دے۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائی النکاح من سنتی فمن رغب عن سنتی فلیس منی (معارف)

انّی یکون لی غلام (۴۰) دا سوال په اعتبار د اسبابو عادیو سره دے۔ یا د پاره د تجدید د بشارت دے (عثمانی)

ان لا تکلم الناس (۴۱) خبرے به نه شے کولے۔ یا خبرے بندکه۔ یعنی روژه او نیسه د هغوی په روژه کښے خبرے هم بند وے۔ خو نن په دین کښے خبرے په روژه کښے بند د ل په طور د عبادت سره بدعت دے (نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن صوم الصمت)

فائده:۔ د دے ورځ سرے د یو حاجت شرعی د پاره اعتکاف او کی نو امید دے چه د هغه مقصد به باری تعالیٰ پوره کړی۔ او که خبرے په کښے بند کړی نو عاصی به هم شی۔

فائده:۔ د زکریا علیه السلام د قصے نه شو خبرے معلومے شوے (۱) د بقاء د سلسلے د پاره سوال سنت الانبیاءؑ دے۔

(۲) د تسلئ د پاره سوال کول د یقین نه خلاف نه دی۔

(۳) د اولاد سوال کول د زهد نه خلاف نه دی۔

(۱) ترزوجوا فانی مکاثر بکم الامم (رس) رب هب لی الخ (آل عمران ۳۸) (۴) ولقد ارسلنا رسلا من قبلک وجعلنا لهم ازواجا وذریة الرعد پ ۳۸ (۵) والذین یقولون ربنا هب لنا من ازواجنا وذریتنا قرة اعین، فرقان پ ۷۴ (۶) اللهم کثر ماله وولده۔ قال عمر ۱۲ انس بیخ خو دد باغ به دوه ځله میوه نیوله او دده څلور اولاد دشلو پوره وو۔ (البدایه)

(۴۰) دَ اسباب بعید نه سوال کول دَ ادب نه خلاف نه دی رتها نوئ)

اذ قالت الملّٰئكة يٰمريم (۴۲) یعنی بے شک مریم علیها السلام غوره ده - خو معبوده نه ده - نو افراط تفریط مه کوئ -

اصطفٰك - اصطفیٰ ئے اوّل په کرامات سفنیؤسره ده- او ثانیٌ په اعطاء دَ ابن سره ده بے ذوج نه - قال علیه الصلوٰة والسلام حسبک من نسآء العٰلمین مریم بنت عمرانؑ، خدیجۃؓ بنت خویلد، فاطمۃؓ بنت محمد صلے الله علیه وسلم، آسیه امرأة فرعون - قال ملا علی قاری لعل هذا الحدیث قبل حصول کمال عائشةؓ (مشکوٰة ص ۵۷۳)

المسیح (۴۵) په عبرانیٔ کښے شیح یا مشیحا - معنیٰ ئے مبارک وه فعیل په معنیٰ دَ فاعل یا دَ مفعول په مسیح دجال کښے چو یکی ځکه حقه عربی لفظ دے - عیسیٰ په عبرانیٔ کښے ایشوع او معنیٰ ئے سیّد ده - مریم په عبرانیٔ کښے معنیٰ ئے عابده ده (عثمانی)

و یکلم الناس فی المهد وکهلا (۴۶) عجیبه خبرے دَ وحدانیت یا په مهد کښے په خبرے کوی پښان دَ کهل نو اعتراض وارد نه شو چه په وخت دَ کهل کښے خو خبرے عجیبه نه دی - بعض وائ چه دا بشارت دے مریم علیها السلام ته چه ځوئ به دِ چا ړا نه وی - دا خبره غلطه ده په قیامت کښے باری تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته فرمائی - تکلم الناس فی المهد وکهلا (مائدة)

(عثمانی) حلته خو ابشارت نه جوړیګی - کهل والا به خو صحیح تری

فائده :- دَ کهلاّ نه معلومیږی نزول دَ عیسیٰ علیه السلام ځکه قبل از نزول خو ده مُده دَ کهل نه ده لا ندے کړے دے خو په دری ۳۳ دیرش کاله عمر کښے آسمان ته ختلے وه- او دَ کهل مرتبه دَ څلویښتو کالو نه بعد ده (معارف)

و یعلمه الکتٰب والحکمة والتورٰىة والانجیل (۴۸) یعنی کتابت او عقل یا قرآن او حدیث بعد النزول او توراٰت

قال أتى جبرئيل النبيّ فقال يا رسول الله هذه خديجة قد أتت معها إناء فيه إدام وطعام فإذا أتتك فاقرأ عليها السلام من ربها ومني وبشرها ببيت في الجنة من قصب لا صخب فيها ولا نصب (متفق عليه) مشكوٰة ص ۵۷۳ قال يا عائشة هذا جبرائيل يقرئك السلام قالت وعليه السلام ورحمة الله قالت وهو يرى ما لا ارى - (متفق عليه) مشكوٰة ص ۵۷۳

او انجیل قبل النزول به ورته او خائی - تائید: یعلمهم الکتٰب والحکمة (بقره ۱۲۹) ؎

واحی الموتیٰ باذن الله (۴۹) یعنی ژوندی به ورته او وایم چه قم باذن الله نو هغه به ژوندے شی - په دے ځائے کښے اجمال دے تفصیل ئے د ما قبل نه معلومیږی -

فلما احس عیسیٰ منهم الکفر (۵۲) معلومه شوه چه په دینی کارونو کښے د یو بل نه امداد اغستل د توکل سره منافی نه دے او د اهلِ دین سره امداد د الله تعالیٰ سره دے (تها نویؒ)

الحواریون - مشتق دے د حورئی نه (۱) جامے سپینونکی وو - (۲) یائے رنګونه سپین وو - (۳) یا د صاف زړه لرونکی (۴) یا سپین روبی د قوم - دا معنی شیخؒ غوره کوی او د قوم مشران چه تسلیم وکی نو مسئله چلیږی نو ځکه نبی علیه السلام دعا وکړه اللّٰهم اید الاسلام باحد العمرین - فاکتبنا کښے توسّل دے په اعمال سره

ومکر الله - ؏۵۴ - تدبیر او کړو باری تعالیٰ - مکر صرف الغیر عما یقصد بحیلة -

واذ قال الله یا عیسیٰ انی متوفیك (۵۵) د مرزا غلام محمد ملعون دعوی دی - (۱) چه عیسیٰ ؑ مړ دے (۲) د نزول نه مراد پیدایش دے (۳) او د عیسیٰ نه مراد مثل عیسیٰ دے -

تردید د دعوو د هغه	د عیسیٰ ؑ د نزول من السماء متعلق احادیث متواتر راغلی دی (علامه شوکانی وابن

کثیر) قال رسول الله صلے الله علیه وسلم للیهود ان عیسیٰ ؑ لم یمت وانه راجع الیکم قبل یوم القیٰمة (ابن جریر)

دا حدیث مرفوع کړے دے په ټولو احادیثو صحیحو کښے - نزول د عیسیٰ ؑ منقول دے د کنز العمال په منتخب کښے - ینزل من السماء - لفظ راغلے دے او په ټولو احادیثو کښے لفظ د عیسیٰ راغلے دے

؎ یعنی نسبت د فعل اختیاری کیږی انسان ته په مرتبه د کسب کښے نه د غیر اختیاری
- - - - -
؏ زمونږ په استعمال کښے مکر بد نه دے په خلاف د عربو استعمال د عربو نه چه مکر مستعملیږی په خفیه تدبیر کښے ۱۲ مکر بد دے

په یو حدیث کښې مثل عیسیٰ نشته - د یو صحابی نه اثر یا سند د وفات د عیسیٰ منقول نه دے -

جوابات د استدلالاتو د لعین نه

(۱) قال ابن عباس رض متوفیك ای ممیتك - جواب :- (۱) دا اثر بے سند دے او د ابن عباس صاحب رض اثر با سند منقول دے چه دلالت کوی په عدم وفات د عیسیٰ ع باندې (۲) ممیتك په استقبال دلالت کوی (۳) یا ممیتك بعد النزول دے او فعلك قبل النزول دے (نبراس)

(۲) په مجمع البحار کښې امام مالک صاحب فرمائی مات عیسیٰ ع -
جواب :- (۱) دا خبره بے سنده او د ست د باغی دے - د امام مالک صاحب نه حدیث مرفوعه منقول دے په موطا کښې چه دلالت کوی په عدم وفات د عیسیٰ ع (۲) یا د وفات نه مراد بے هوشی ده (۳) یا مات د پاره د استقبال دے ځکه چه کله داستقبالی شی نه تعبیر کولے شی په ماضی سره د وجے د تحقق د هغه نه (بلاغت)

(۳) خود توفی په قرآن کښې مذکور دے چه معنی ئے موت دے
جواب :- د توفی نه مراد که موت وے نو مقابل به ئے حیوة راغلے وے لکه کنتم امواتا فاحیاکم (بقرة ۲۸) بلکه د توفی مقابل او سیدل راغلی دی ؛ تائید ؛ کنت علیهم شهیدا مادمت فیهم فلما توفیتنی کنت انت الرقیب علیهم (مائده - ۱۱۷) بلکه د توفی معنی اخذ الشئ وافیاده - په مرگ او نوم دواړو باندې اطلاق کیږی ؛ تائید ؛ الله یتوفی الانفس حین موتها والتی لم تمت فی منامها (زمر ۴۲)
نو د متوفیك درے ترجمے شوے (۱) په خواب کښې د پورته کوم چه او نه یریږے (مدارک) (۲) یا د مرکوم بعد النزول (نبراس)
(۳) یا روح مع الجسد د پورته کوم (عام)
(۴) کوم قانون چه مرزا نقل کړے دے چه د توفی نه باب تفعل وی-

او فاعل الله وی او مفعول ذی روح وی نو حلته مراد به قبض د روح وی ۔ (کتاب النحوه) دافرضی حواله ده ۔

جواب:- دا قانون جعلی دے خلاف دے د قرآن او د حدیث نه بلکه مونږه به بل قانون پیش کوو ۔ چه د رفع فاعل الله وی او مفعول ذی جسد وی نو حلته معنی قبض د جسد وی ۔ دا قانون د قرآن او د حدیث سره موافق دے ۔

ان مثل عیسی عند الله (۵۹) د خلورم اعتراض جواب چه د عیسیٰ پلار نه وه نو شاید دے به متصرف فی الامور وی ۔ جواب دا دے خو پلار مور د واړه نه وو نو هغه خو متصرف نه وو ۔

فمن حاجک (۶۱) اعلان مباهله ۔ ابناءنا کښے حضرت علیؓ داخل دے ځکه دے د نبیؐ چه پرورا وزوم وه ۔ نه چه په انفسنا کښے داخل دے کما قال به الروافض لتفضیله ۔

قل یا اهل الکتاب (۶۴) اهل کتاب ته دعوت الی التوحید مع زجر

ولا تؤمنوا الا لمن الخ (۷۳) ای ولا تؤمنوا الا حق الا لمن تبع دینکم استثناء مفرغ ده ۔ ان یؤتی ای ان یوتی استفهام انکاری دے د لا تؤمنوا وجه ده (شیخ) دبرتم لان یؤتی ۔ یعنی مونږ چه دا حیلے جوړه وو لی دے وجه نه چه مشری څمونږ حق وه ۔ او اوس ورکولے کیږی نا مسلمانانو ته (شیخ الهند) ای لا تؤمنوا بان یؤتی احد مثل ما اوتیتم الا لمن تبع دینکم (مولنا عبد الغفور)

واذ اخذ الله میثاق النبیین (۸۱) مسئله رسالة یعنے ترا وسه بیان لا اله الا الله وه ۔ او اوس بیان د محمد رسول الله دے ۔ یعنی د ټولو پیغمبرانو نه وعده د اتباع د نبی علیه السلام باری تعالیٰ اغستلے ده ۔ نو د دی نه خلاف د باری تعالیٰ د دین نه خلاف دے لکه چه عمرؓ د تورات نسخه نبی علیه الصلوة والسلام ته اولوسته او نبی علیه السلام خفه شو نو وئے ویل ر ولو کان موسیٰؑ حیا لادرکه

دا قانون هم د مودودی په کتاب النحوه کښے دے یعنی په دغه فرضی کتاب کښے (مولنا منظور احمد) یعنی په دغه کتاب کښے په بل صفحه کښے دا څمونږ قانون موجود ده ص ۱۲۵ فائده: وفد نجران سباهله منتخب کړو په ورځ نبیؐ، فاطمهؓ، حسنؓ، حسینؓ، علیؓ میدان ته راغلل هغوی چه دا پاک چهرے اولیدے نو هیبت کښے اوساتلو جزیه ئے قبوله کړه نبیؐ ووئیل که دوی مباهله کړے وے نو اور به باران په شوے وے په دے دوی به تتم شوی وے ۔ ازنوادر مقال

بَنُوَّتِیْ لَاتُبَعِی (مشکوٰۃ ص۳۲) دا رنگے زوند عالم تہ فرمان دے چہ د نوی عالم خبرہ بہ منی کہ صحیح خبرہ ئے کولہ -

فائدہ :- علماء سوء خلور قسمہ دی (۱) ظاھرًا یا ظنًا د حق نہ خلاف کوی دا عنادی دے (۲) صرف ظاھرًا منی دا منافق دے (۳) حق منی خو اشاعت د حق او رد د منکرو تہ مھتم بالشان نہ بنکاریږی - دا مداھن دے (۴) اشاعت د توحید کوی او رد د منکر ھم کوی. خو د بل عالم خبرہ پہ غمیږی دا متکبر دے - (۵) اول نمبر عالم دے چہ د ھغہ زړہ غواړی چہ د حق اشاعت اوشی د ھر چا د لاسہ چہ وی بلکہ د بل چا نہ چہ اشاعت د حق اوشی نو ډیر خوشحالہ شی -

لن تنالوا البر حتی تنفقوا (۹۲) دا ترغیب دے انفاق د احسن تہ حکم نہ دے چہ انفاق د غیر احسن بہ نا جائز وی بلکہ پہ انفاق د غیر احسن کښے ھم ثواب شتہ دے - دے تہ اشارہ دہ پہ وما تنفقوا من شیء الخ سرہ (قاری محمد طیب) ابو طلحہ انصاری رض چہ دا اعلان واوریدہ نو راوغے دے نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام تہ چہ زما پہ مال کښے بہترمال بیرحا باغ دے ھغہ د پارہ د باری تعالیٰ وقف دے نو نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اوفرمایل. بخٍ بخٍ ذلک مال رابح خپلوانو کښے تقسیم کړہ - ھغہ اووئیل بنہ دہ یارسول اللہ ؐ۔

کل الطعام الخ (۹۳) دا د اول اعتراض جواب دے چہ وارد یږی پہ مسئلہ د رسالت باندے یعنی دا خو ځان تہ حنفی وائی نو د اوبنا نو غوښے او پئی ولے خوری؟ ابراھیم علیہ السلام خو دا کارنہ کاوہ حاصل جواب د اوبنا نو پئی او غوښے خو یعقوب علیہ السلام پہ ځان باندے د نذر د وجے نہ حرام کړے وے نہ ابراھیم ؑ -

وکان ابن عمر یتصدق بالسکر ویتأول الی احبہ ۱۲ (التفسیر)

ان اول بیت الخ (۹۶) د دویم اعتراض جواب دے چہ دوی وئیل قبلتنا قبل قبلتکم - حاصل جواب دا دے اول کور د عبادت خو بیت اللہ دے -

د بیت اللہ شریف د تعمیر تاریخ

قبل بیت المقدس ۴۰ سال.

(۱) د آدم علیه السلام په درخواست سره ملائکو تعمیر کړے دے۔ د نوح علیه السلام د طوفان نه مخکښې دغه تعمیر آسمان ته پورته کړے شو۔ نو په دے مقام کښې (۲) ابراهیم علیه السلام تعمیر اوکړه شرقاً غرباً دروازے متصلے د زمکے سره او حطیم شریف داخل وه (۳) بیا جرهم قبیلے جوړ کړه (۴) بیا عمالقه قوم۔ بیا د سیلاب په وجه د بیت الله شریف عمارت ته نقصان اورسیده۔ نو قریشو ئے تعمیر اوکړه قبل د بعثت د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه۔ او نبی علیه الصلوٰة والسلام ئے په تعمیر کښې هم شریک وه۔ قریشو اوویل چه مونږ به ئے تعمیر په حلال مال سره کوو نو چنده حلال کمه وه نو شپږ گزه حطیم ئے ته بهر کړه او دروازه ئے یوه شرق طرف ته اوچته کړه او بله ئے بنده کړه د خپل غرض د پاره چه د حاجیانو نه پیسے به واخلو په داخلولو د بیت الله سره۔ نو کله چه مکه معظمه فتح شوه نو عائشے رض اوویل نبی علیه الصلوٰة والسلام ته چه مانه د کړے دے چه کله مکه معظمه فتح شی نو څه به دوه رکعته نفل په بیت الله شریف کښې کوم۔ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام دا حطیم شریف ته بوتله۔ او ورته ئے اوویل چه دلته مونځ اداکړه دا هم بیت الله شریف دے او که ژوندے پاتے شوم نو دا حطیم به په بیت الله شریف کښې داخل کړم او دروازے به ئے دوه کړم او متصل به ئے کړم زمکے سره۔ حالانکه خلق لا زمانے د کفر ته نزدے دی نو اعتراض به کوی۔ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ته فرصت ملاؤ نه شو او نه خلفاؤ رض ته نو چه کله عبدالله ابن زبیر په مکه معظمه کښې خلیفه شو نو هغه بیت الله شریف په صحیح طریقے سره جوړ کړه نو چه دے کله د حجاج د لاسه شهید شو نو حجاج بیا بیت الله شریف په طریقے د قریشو جوړ کړه۔ نو بیا عبدالملک اراده وکړه چه بیت الله شریف په صحیح طریقے سره جوړ کړی۔ نو علماؤ ورته اذن ورنه کړه۔ ملا علی قاری وائی چه دا د خدائے تعالیٰ

قول یا اهل الکتاب ۶۱ ۹۹ ته صریحه کړه بیاده پاسوان ته سر نمواهی برو کمتون پائے دار روح)

هذا الذي تعرف البطحاء وطأته والبيت يعرفه والحل والحرم
هشام بن عبدالملک
فرزدق
علی بن حسین
تحفة العرب ص۱۴۵

۱ رحم دے پہ مخلوق خپل بانذ چہ ذ بیت الله څهٔ حصّه ئے ورته بنکاره پریخوده

هر څوک ورته تللے شی - چونکه ذ حطیم شریف کعبے والے ثابت دے پہ خبر وا حد

سره لهذا صرف حطیم شریف ته پہ مخ کولو سره مونځ نه صحیح کیږی (شرح وقایه وغیره)

کعبه را هر دم تجلی می فزود این ز اخلاصات ابراهیم بود (رومی)

پنډت دیانت سرسوتی چہ مسلمانان تول مشرکان دی ځکه دوی

بیت الله ته سجده کوی - نو داخو سجده ده غیر الله ته -

جواب :- سجده مونږ صرف باری تعالیٰ ته کوو - پہ تمامو مخلوقاتو کښے

لوئی نبی علیه الصلوة والسلام دے او هغه ذ نفع او نقصان مالک نه

دے بیت الله شریف لاڅه کوے - نو ځکه حضرت عمرؓ حجر اسود ته

وائی انک حجر لا تنفع ولا تضر خو نبی علیه الصلوة والسلام م لیدلے

دے چہ ته ئے بنکل کړے نو ځکه دِ بنکلوم - او مسلمانان چہ ذ

بیت الله شریف طرف ته سجده کوی ذ دے ذ یک جهتیٔ نه کوی چہ اتفاق ئے

قائم شی نه چہ هغه نافع او ضار دے (محمد قاسم نانوتویؒ) بیس بڑے

مسلمان کښے ص۱۴۰)

یا ایها الذین امنوا اتقوا الله حق تقاته (ص۱۰۲) ای ان یجاهدوا

فی سبیله حق جهاده (ابن عباسؓ) یعنی منسوخ نه دے پہ فاتقوا الله

ما استطعتم • ره -

حصه ثانی سورة ترغیب الی الجهاد -

واعتصموا بحبل الله (آیت ۱۰۳) ای کتاب الله - تمسک بالقرآن او پہ توحید

کښے ذ اختلاف نه ذ اجتناب تلقین -

قصه کفارو به پہ لارو کښے سړی کینول چہ راتلونکی خلق پہ

نبی علیه الصلوة والسلام بانذ بدګمان کړی - نو نبی علیه الصلوة والسلام

به ذ دوینه وړاندِ تلو ذ دعوت ذ پاره - نو نبی علیه الصلوة والسلام

پہ لاره کښے ناست وه ذ مدینی منوری نه ځ لږ قافله راغله اوس او خزرج

نو نبی علیه الصلوة والسلام ورته دعوت ذ توحید اوکړه - نو هغوی

په جرګه شو او وهٔ ئې ویل چه دا هغه پیغمبر دے چه یهود ترے نه مونږ ډیره وی - راځئ چه د یهود د وړاندې مخکینې شو او ایمان پے راوړو نو دوی شپږ وکسا نو ایمان راوړو - واپس چه راغلل مدینه منوره کښې ئې د نبی علیه الصلوة والسلام ذکرکاوه نو بل کال د حج په موقع دولس کسانو پټ د نبی علیه الصلوة والسلام سره بیعت اوکړه دیته بیعتِ عقبه اولیٰ وائی نو نبی علیه الصلوة والسلام ور ته مصعب ابن عمیرؓ استاذ مقرر کړه او دوی سره ئې اولیږه - دا د سعد ابن زرارهؓ کره وه د دوی ئې تعلیم کاوه - نو سعد بن معاذ او ویل اسید ابن حضیر ته چه لاړ شه دے سړی پسے که ز ه خو نو خما د پلار خوئی اسعد به خفه شی ته دے سړی ته په سخته لهجه اووایه چه واپس ځی او ځمونږ خلکان د نه ګمراه کوی دے لاړ شه او هغه ته ئې سختے خبرے اوکړے نو هغه ور ته اوویل چه زهٔ به خبرے اوکړم نو که ښے وے او ئې منه ورنه بیا ستا اختیار دے نو دهٔ اوویل لقد انصفت نو کینا ست نو مصعب صاحبؓ قرآن او لوسته او دعوة د ایمان ئې ورکړه - نو دے مسلمان شو بیرته راغے سعد پے غصه شو او پخپله راغے او ډیرے سختے خبرے ئې اوکړے - نو مصعب صاحبؓ ورته هغه نرم خبره اوکړه دهٔ قرآن واوریده او دے هم مسلمان شو - نو اوس او خزرج اکثر مسلمانان شو - په دریم کال اوویا کسه لاړه مکے معظمے ته د حج په موقع او نبی علیه الصلوة والسلام سره ئې بیعت په پټه اوکړه - دیته بیعت عقبه ثانی وائی - بنی علیه السلام سره عباسؓ وه - دهٔ دغه قافلے ته او ویل چه مونږ د ده حفاظت کوو - اګر چه خبره ئې نه منو - نو د ده بوتله آسان نه دی - د انصارو د طرفه براء بن معرور وه هغه او ویل مونږه د دهٔ سره غارت د اموال او قتل د اشراف ته تیار یو - خو چه دے ترقی اوکړی نو مونږ به پریږدی - نو بنی علیه الصلوة والسلام وویل

واصبحتم بنعمته الخ ١٠٣
مکمل اخوۃ صرف شخص کے دونوں میں تھا تو اس سے افضلیت شیخین صاف معلوم ہوتا ہے۔
(حکایات اولیاء ص٣٥)
مشرہ اوس د دوی د بنی قریظه سره وه او خزرج سعد بن عباده وو د دوی جولے بنو نضیر وو۔ ص٢٤٣
(د بیعت عقبے بیان)
بقتل اشرافنا وسلب اموالنا

ال عمران ۳

آمد ربنا لنخرج العباد من عبادة العباد الی عبادة رب العباد ۔ (صحابیؓ)

نه بل الدّم الدّم والهَدَم الهدم - یعنی ستا او ستا سے تکلیف شریک دے نو براء او ویل چه مونږه ستا ، طاعت او کړو نو مونږ له به څهٔ وی؛ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام وویل الجنّة - نو دهٔ او ویل اُبسُط یدَک نو بیعت او شو- نو بیا کله چه نبی علیه الصلوٰة والسلام راغې مدینې ته - او اوس او خزرج شیرو شکر شو- او جنګ بعاث د شپږ شلو کالو نه راروان ؤو- هغه ختم شو- نو یهود په دے ډیر خفه وو- نو دوی شماس نام سړے را او لیږه او هغه حسب موقع د جنګ بعاث خبره تازه کړه- او اوس او خزرج بیا جنګ ته تیار شو- نو نبی علیه السلام خبر شو هغه راغې او دوی ته ئے دعوت ورکړه نو دوی بیا غاړه په غاړه شو او شماس شیطان او تختیدهٔ (رفا)

ولتکن منکم الخ (ص۵۴) بیان اشاعت اعتصام بحبل الله - الی الخیر اتباع القرآن وسنتی (ابن کثیر ص۳۹۰)

یوم تبیض وجوه الخ (۱۰۶) اهل سنت والجماعت وتسود وجوه - بدعتیان (ابن کثیر ص۳۹۰)

کنتم خیر امة الخ (۱۱۰) اعاده بیان اشاعت اعتصام بحبل الله برائے تاکید (۱) خطاب اصحابوؓ ته دے (عمرؓ) (۲) مهاجرین ته (ابن عباسؓ) یعنی دوی خیر امة یعنی افضل افراد دی - (۳) خطاب دے امة د اجابت ته او د ناس نه مراد امت د دعوة دے -

الا بحبل من الله وحبل من الناس (۱۱۲) مراد د حبل من الله او حبل من الناس نه توحید دے (شیخؒ) د اول نه مراد توحید او ثانی نه مراد عهد ذمه ده (عثمانیؒ) د اول نه مراد معاهده ده د مسلمان سره او د ثانی نه مراد معاهده ده د غیر مسلم سره - یعنی دوی به تحول عمر د بل په خپو ولاړ وی -

واذ غدوت الخ (۱۲۱) سـ۳ـه بدر - ۳ احد - ۴ بدر صغری - ۵ احزاب - ۶ حدیبیه - ۷ عمره قضا - ۸ فتح مکه - ۹ تبوک

شرائط جواز اختلاف ۱ محض رضائے الهی وی ۲ خلاف د ثابت نبوی
اختلفوا الخ ۱۰۵ ... ۲۲ شوال ۱۴۱۲

۱۱ حجۃ الوداع او وفات۔
۳۰۰۰
په احد کښې درې زره کافر راغله نبي علیه الصلوة والسلام جرګه
او کړه د مسلمانانو سره۔ خپله رائې داوه چه بهرته نه ځو۔ او عبدالله
ابن اُبي منافق هم د دارائے وه۔ خو مسلمانانو وویل چه مونږ بهرته
جنګ ته ځو۔ نو نبي علیه الصلوة والسلام کور ته لاړه او مسلح را
او وتو۔ نو اصحابو بیا ورته او ویل چه ستا سو په رائے به عمل کو
خو نبي علیه الصلوة والسلام او فرمایل چه اوس هم وسله اچوَل
ده نو ځو به نو چه لاړل میدان جنګ ته او صفونه برابر شو
په دغه زمانه کښې به د جنګ نقشه داوه۔ میمنه، میسره، قدام
خلف، قلب،۔ نو ځکه به ئے جنګ ته خمیس ویل۔ په قلب کښې به
جنډه وه۔ نو عبدالله ابن اُبي په دغه موقع کښې د خپلو ملګرو
سره چه درې سوه کسان وو۔ جدا شو مسلمانان اوه سوه پاتې
شو۔ نبي علیه الصلوة والسلام د سورو دسته زبیر ابن عوام رض ته
حواله کړه۔ او بے زغرې فوج ئے حمزه صاحب رض ته حواله کړو۔ او پنځوس
کسه ئے د وستو د حفاظت د پاره مقرر کړه۔ او امیر ئے د دوی عبدالله
ابن جبیر رض مقرر کړه۔ چه تر بل حکم پورې به دغه ځائے کښې وی
او علم بردار ئے مصعب ابن عمیر رض مقرر کړه۔ یو عجیبه نقشه وه چه
ماهرین د جنګ ورته حیران پاتې شو۔ کافر تاریخ دان په کمال د نبي علیه
الصلوة والسلام قایل دی۔ الفضل ما شهدت به الاعداء۔ د
عبدالله ابن اُبي په جدائے سره بنو سلمه بنو حارثه چه د لښکر
طرفین وو لږ متزلزل شو خو بیا ثابت قدم شو۔ د دوی مشرجابر
ابن عبدالله رض وائي چه په قرآن کښې څو ځله د کمی د بیان د پاره
ان تفشلا شئے خوزه په دے خفه نه یم ځکه چه دوستو۔ والله
ولیهما دے۔ هنده او نورے زنانه راغلے وے سندرے ئے ویلے
او تمیلو شائے وهل هنده به ویل

سلوان ذوړه
سو ۱۱۱

ان تقبلوا نعانق ۔ ونفرش النمارق ۔ او تدبروا نفارق ۔ فراق وامق

نو نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اوویل ۔ اللھم بک اصول و اقاتل حسبی

اللہ ونعم الوکیل ۔ اول خل د مسلمانا نو برے وہ ۔ او ورو ستہ چہ

حفاظتی دستہ وہ ۔ ھغوی او ویل اوس برے دے مونږ خو ۔ نو امیر

منع کړہ خو ھغوی را غلہ خیال ئے داوہ چہ برے شوے دے ۔ خالد

صاحبؓ لا مسلمان شوے نہ وہ ۔ ھغہ چہ دغہ ځائے خوشے اولیدہ

نو د شا نہ راغے نو پاتے یولس کسان مسلمانانو ئے شہید ان کړہ او

پہ مسلمانانو ئے سختہ حملہ اوکړہ ۔ مسلمانان پہ سختہ ګیرہ کښے راغلہ

مصعب ابن عمیرؓ د عمرو بن قمیہ د لاسہ شہید شہ ۔ او حمزہؓ صاحب چہ

کلہ عتبہ کافر لرہ مردار کړہ پہ بدل کښے ۔ نو پہ واپسئ کښے دے

د یو حبشی د لاسہ شہید شو ۔ طلحہ ابن عبیدؓ اللہ لاس سرہ غشی

د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام نہ منع کول نو لاس ئے شل شو ۔ پہ

نبی علیہ السلام پہ حملے کیدے او انصار و پہ مدافعہ کولہ ۔ پہ دے

کښے شیطان آواز اوکړہ چہ قتل محمدؐ پہ دے آواز سرہ مسلمانانو تہ

سخت تکلیف اورسیدہ ۔ بیا نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام آواز اوکړہ ۔ چہ

اِلَیَّ عِبَادَ اللہِ نو مسلمانان جمع شو ۔ ابوسفیان آواز اوکړہ چہ قوم کښے محمدؐ

شتہ نو نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اوویل چہ جواب مہ ورکوئے ۔ بیائے

اوویل چہ ابوبکرؓ شتہ نو دوی جواب ورنہ کړہ بیائے اوویل چہ

عمرؓ شتہ نو دوی جواب ورنہ کړہ نو ھغہ اوویل چہ شاید دوی

مړہ دی نو عمرؓ بے اختیارہ اوویل د اکسان ستا د شرمولو د پارہ

لا ژوندی دی ۔ نو ھغہ اوویل اُعْلُ ھُبَل نو نبی علیہ الصلوٰۃ و

السلام اوویل اللہ اعلیٰ واجل نو ھغہ اوویل لنا العزیٰ ولا عزیٰ لکم

نو نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اوویل اللہ مولٰنا ولا مولیٰ لکم ۔ نو

ھغہ اوویل تاسو بہ مُثلہ اووینئ خو ما دا نہ دی ویلی او پہ دے خفہ

ھم نہ یم ۔ او بل کال بہ بیا څو نو اوستاسو پہ بدر کښے جنګ دی ۔

¹ کلہ چہ دہ یو کافر لرہ مړ کړو
² وحشی نوم ئے ووو
³ رأیت ید طلحۃ شلاء

نو بنی علیه الصلوة والسلام او ویل چه بنۀ ده - حضور صلے الله علیه و سلم او ویل چه د سعد بن ربیع پته اوشه لړ یده نو سړے راغے آواز کوی چه ای سعد ابن ربیعؓ! آواز شو رانه غے - نو ده اُو ویل چه ای سعد ابن ربیعؓ بنی علیه الصلوة والسلام ستا پتوس کوی نو غلے غونډ آواز راغے - نو وُ نے ویل بنی علیه الصلوة والسلام ته ځما سلام اووایه او چه تا لره خدا اے تعالی لویه جزائے خیر درکړی ځمو نړ د طرفه چه لوے سعادت مونړ ته را اُورسید ه - او مسلمانانو ته سلام وایه او که دوی د بنیؐ په تعاون کښے سُستی او کړی نو هیڅ عذر به نه وی په قیامت کښے ښوی - بیا شهید شو۔ په احد کښے یو مجروح آواز و کړه د او بو د پاره - چه او به ئے ورته نزدے کړے نو بل کس د او بو آواز او کړه نو ده ٔ او ویل چه او به هغه له یوسه نو هلته چه لاړ دریم کس آواز او کړه نو ده ٔ او ویل چه هغه له ویسه نو هغه شهید شو چه بیر ته ئے راوړے نو دا دوه هم ټکی شهیدان شوی وو۔

بثلاثة الآف الخ (۱۲۴) زر ملائک جنګ له راغلی وو تائید ا نی ممدکم بالف من الملئکة (انفال: ۱۲۶) او د د ریو زرو او پنځو زرو وعده شوے وه (شیخ) ترتیب واردا ملائک راغلی وو (عام)

یعنی اول د نی زر بیا درے زره بیا پنځه زره ۲

ما جعل الله الا بشری لکم الخ (۱۲۶) یعنی باری تعالی په تعاون کښے ملائکو ته محتاج نه دے اگر که شرکت د ملائکو په جنګ کښے ثابت دے او یتوب علیهم (۱۲۸) "فاما ان تهلکهم معطوف علیه محذوف دے (شیخ) (۲) یا او په معنیٰ ده الی ان دے (تفتازانی) (۳) یا معطوف علیه او یکبتهم دے (زمخشری)

اعتراض:- او یکبتهم خو واقعه ذیده ده - او یتوب علیهم واقعه د احد ده نو عطف به څنګه صحیح شی (مولنا عبد الحلیم صاحبؒ په قمر الاقمار کښے)

جواب:- اضر الاشیاء فی فهم القرآن شان نزول یعنی په لفظ د قرآن کښے خو کړ به را او احد ذکر نشته (شاه ولی الله صاحبؒ)

بعود تپوس وکړو ده عمر نه چه بیا دوزخ کم ځائے دے هر کله جنت لاندے کړه نو صفر ورته ودے چه بیا ئې
هم ځائے ده هر کله خو ورځ لاندے کړه ۱۲

یاایها الذین اٰمنوا لا تاکلوا الربوا (۱۳۵) په مسئله دَانفاق کښې زجر دے ربوا خورته یعنی پکار خو دا وه چه تاسو دَ اعلاء دَ کلمة الله دَ پاره بے عوضه مال خرچ کړے وے - نو تاسو خو دَ خلقو نه بے عوضه مالونه اخلئ - اضعافا مضاعفۃ دا قید برائے مزید قباحت دے (انورشاه کشمیری) معلومه شوه چه ربوا خورمسلمان دے نور دشو په معتزلو باندې خومتقي نه دے - یعنی دَ الله نه نه یریږي او کامیاب هم نه دے او رحم پے نشته -

عرضها السمٰوٰت (۱۳۳) اوکښ مسافت ته طول وائي د دیم ته عرض وائي او دریم ته عمق وائي یعنی عرض ئې دَ اسمانو نو غو نتے دے نو طول خو در کنار - (عام) یا دا عرض مقابل دَ ثمن دے (معارف)

والکاظمین الغیظ (۱۳۴) قال علیه الصلوٰة والسلام لیس الشدید بالصرعة انما الشدید الذی یملک نفسه عند الغضب -

قال علیه الصلوٰة والسلام صِل من قطعك واعف عمن ظلمك واحسن الیٰ من اسآء الیك (معارف) علی بن حسین رض اودس کاوه او وینځے ورته اوبه اچولے کوزه ئې دَ لاسه خلاصه شوه او په دهٔ او لږیده نو غصه ورلره راغله نو جینئ اووے والکاظمین الغیظ - نو دهٔ اووے کظمت غیظی نو دے اووے والعافین عن الناس نو ده غه اووے عفوه م او کړه تاته نو دے اووے والله یحب المحسنین نو امام صاحب رض اووے ته دَ الله دَ پاره آزاده شوے (معارف)

فاستغفروا لذنوبهم (۱۳۵) قال علیه الصلوٰة والسلام ما اصرّ من استغفر وان عاد فی الیوم سبعین مرة - قال علیه الصلوٰة والسلام لاکبیرة مع الاستغفار ولا صغیرة مع الاصرار (مدارک) ؎

فهم وخاطر تیزکردن نیست را ه	جز شکسته می نگیرد فضل شاه
جز خضوع وبندگی و اضطرار	اندرین حضرت ندارد اعتبار (رومیؒ)

وما محمد الا رسول الخ (۱۴۴) زجر برائے مؤمنین چه کار خو

۱ یعنی دوی ته ګنا وکړی. (عثمانی)
سے ترجمه: فهم او تصور تیز کول نه دی لار. بے دعاجزئ نه امداد نه کوی دبل اچا سر که الله - ۲ - بے دعاجزئ نه اوَ بے دبندګی اوَ بے قرارئ نه په دے دربار کښې دبل شی اعتبار نشته -

ئے او که جسم بانکل مساوی اطراف وه نو اول طرف ته طول او دویم ته عرض او دریم ته عمق وائي (حکمت)

که یعنی جنت ثمن دے دَ آسمانو نو او دَ زمکے یعنی جنت قیمتي شے دے

که الا انما کانت وفات محمد دلیل علی ان لیس لله غالب متبنی صلاد

تنه او ترش نه دنکوعا ۱۲

فاحشه الخ ۱۳۵ - یعنی متعدی ګناه یا غیر متعدی ګناه وکړی. (عثمانی)

صرف د الله تعالیٰ په بهروسه سره کیږی نو دَ یو خاص هستیٔ په اعتماد سره۔ بنی علیه الصلوٰة والسلام صرف رسولؐ دے نه چه هلاکیږی نه۔ عظیم کنټرول د اصحابوؓ وفات دَ بنیؐ لره نازل دی په منزله دَ تبری دَ هلاکت ته نو دا قصراً فرادی دے چه بنیؐ یوازے رسول دے دا سے نه چه وفات کیږی نه۔ او دا سے نه چه حاجت روا او مشکل کشا شی چه پس دَ وفات نه تا سو خغه ته په حاجتو نو کښے آواز ورته کوئ۔ لکه یهود چه عزیرؑ ته یا لکه نصارٰی چه عیسیٰؑ ته یا لکه نور خلق اولیاؤ انبیاؤ ته آواز وشا کوی [1] قد خلت من قبله الرسل۔ مرزا ملعون دَ عیسیٰؑ مرګ ثابتوی۔

جواب:۔ دَ خلت معنی تلَه دی: تائید: واذا خلوا الیٰ شیٰطینهم (بقره) او که مرګ مراد شی نو الف لام عهد خارجی دے علاوه دَ عیسیٰؑ نه مرا د دی او که کل مراد شی نو مرزا ملعون په کښے هم مړ شو۔ (عثمانی)

قصه دَ وفات دَ بنی صلی الله علیه وسلم

په مرض کښے بنی صلی الله علیه وسلم دَ خپلو ازواجو مطهراتو نه بر قرار ساته خو زړه ئے دَ عائشے صدیقےؓ کره وو۔ نو دَ ازواجوؓ په اذن سره عائشے صدیقےؓ کره لاړ یو عشائے ته پوس او کړ اَصَلَّی النَّاسُ نو جومات کښے مینده وو ته اووے چه لَا وَهُم يَنتَظِرُونَكَ یا رسول اللهؐ نو بنیؐ دَ راتلو کوشش او کړه خو نه شو تلے نو ابو بکرؓ ئے خپل خلیفه کړو بیا دَ سحر په مانځه کښے بنی صلی الله علیه وسلم پرده پورته کړه او دَ خلقو دَ نماز تماشه ئے او کړه او اصحاب خوشحاله شو نو ابو بکرؓ بانډے یته لاړه دَ بال بچ او دَ مال تماشے له حلته چه خبر شو چه بنیؐ وفات شه نو دهٔ او وے چه خدایه ملام ماته شوه او خارته راغے نو بنی علیه الصلوٰة والسلام ئے وفات بیا موندهٔ نو بنګل ئے کس او او ئے وے چه کوم مرګ الله پاک تا لره مقرر کړے وو۔ هغه تا لره راغے۔ بیا مسجد ته لاړ حضرت عثمان صاحبؓ

[1] اهل بدعتو اَن چه دَ دے نه شال د تورے کے چم دکا ئے نه بهر شی نو مارکوی دا غلط خبره ده په تسرخانو کښے په اسنه نو محتاج نه دے نو هغه صرف او صرف باری تعالیٰ د ے ۱۲

[2] په مسئله دَ عیسیٰؑ نه عکس خو قول رسولان نه دے وفات ۱۲

خلقو ته وئے چه ک
چا هرا او حضرت علیؓ شل شوے وه - او حضرت عمرؓ
چا اووے چه نبی دَ مرګ خبره اوکړه نو مرے به ئے کړم - نو ابوبکرؓ
خلقو ته اووے چه الٰی عباد الله نو دَ حمد نه بعد ئے اووے من
کان یعبد محمدًا فان محمدًا قد مات ومن کان یعبد الله فان
الله حیٌّ لایموت وما محمد الا رسول الخ دَ عمرؓ جذبه سره شوه
انما رجع شو دَ خلافت دَ پاره نو ابوبکرؓ او عمرؓ او ابوعبیدهؓ ورسیدهؓ
نو عمر صاحبؓ دَ خبرو اراده وکړه نو ابوبکرؓ ورته اووے چه صبر اوکړه
نو په دلائل عقلیو او نقلیو سره ئے ثابته کړه چه خلافت دَ قریشو
حق دے بیا ئے اووے چه په دے دواړو کښے یو غوره کړئ - نبی
علیه الصلوٰة والسلام دَ دوینه خوشحاله تلے دے - نو عمر صاحبؓ
اووے چه دَ نماز دَ پاره خو نبی علیه الصلوٰة والسلام ته خلیفه
کړے نو نو رشه پاتے شو - نو بیعت ئے ورسره اوکړو نو بیعت دَ
خلقو ده سره پوره شو - بیا دَ قبر دَ ځائے بحث وه بیا دَ غسل مسئله
وه - هرے خبرے پوره وخت غو خته لهذا دَ چارشنبے په شپے نبی علیه
السلام دفن کړے شو انا لله وانا الیه راجعون - یو صحابیؓ وائی چه
دَ دفن نه بعد انکرنا قلوبنا حضرت فاطمےؓ اووے انسؓ صاحب ته
چه اے ستاسو زړه غواړی چه تاسو به نبی علیه الصلوٰة والسلام خاورے
غورزوئے - حضرت فاطمےؓ به ژړل کښے اووے یا ابتاه الی جبریل ننعاه
یا ابتاه اجاب ربا دعاه - مشکوٰة ص۵۴۸

وما استکانوا (۱۴۶) دَ سکن نه دے او فتحه اشباعی ده به اصل
کښے استکنو دے - یا دَ کون نه دے نو به اصل کښے استکو نو وه
یا دَ کین نه دے کین معنا ئے فم کَ دَ رحم ده نو به اصل کښے استکینو وه
رشا فیه)

ولقد عفا عنکم (۱۵۲) دَ قرآن قانون دے چه دَ اصحابؓ
دَ غلطئ نه بعد دَ عفوا علان کوی - چه آئنده دَ خلقو دَ اعتراض

معن بن عدیؓ وو ے مکی و شو ما احبّ آن آموت قبله لاصدقه حیًا کما صدقته حیا - دا صفت هله او وو ے چه نو رو اصحابو تمنی دَ مرګ وکړه پس دَ وفات دَ نبیؐ نه - ۲۲

یا ابتاه الی الجنة الفردوس ماواه

ځائے پاتے نه شی۔ لیکن روافض کله د طعن نه بس کوی۔

قصه یو رافضی عبد الله ابن عمرؓ ته اووے چه عثمانؓ په اُحد کښے تختیدلے وُه۔ او د بدر او حدیبیئے نه غائب وه۔ نو دوی اووے اُو۔ نو هغه اووے چه الله اکبر چه تفضیل ثابت شو د علیؓ په عثمانؓ باندے ځکه چه د علیؓ نه دا درے واړه غلطئ نه دی شوی۔

مشکوٰة ص۵۶۲ اسماء الصحابه بدر مشکوٰة ص۵۶۳

نو عبد الله ابن عمرؓ ورته اووے چه په حدیبیه کښے نبی علیه الصلوٰة والسلام عثمان صاحبؓ د صلح د پاره مکے معظمے ته لیږلے وه۔ نو واپس خبر راغے چه عثمان صاحبؓ ئے شهید کړ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام خلق جمع کړه او په مرګ ئے بیعت اوکړ چه مونږ به د عثمانؓ بدله اخلو د عثمان صاحبؓ د پاره ئے غائبانه بیعت اوکړ۔ او په بدر کښے د نبی علیه الصلوٰة والسلام لور رقیهؓ د حضرت عثمان صاحبؓ بی بی ناجوړه وه نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته اووے چه ته زمونږ سره په غنیمت او ثواب کښے شریک ئے خو د خپلے ښځے خدمت له پاتے شه او په اُحد کښے ورته باری تعالیٰ عفوه کړے ده۔ په تبوک کښے چه عثمان صاحبؓ ډیره چنده ورکړه نو نبی علیه الصلوٰة والسلام اووے ماعلیٰ عثمان ما عمل بعده۔ او د فتنو په بحث کښے نبی علیه الصلوٰة والسلام اووے چه هذا (عثمانؓ) یومئذٍ علی الهدیٰ لیکن روافض کله تے نه بس کوی۔

له بیا ئے ورته اووے چه دا جوړه کوره د عثمان سره یوسه ۱۲

شرح عقاید نسفی کښے دی نکف عن ذکر الصحابة الا بخیر لما ورد من الاحادیث الصحیحة فی مناقبهم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام د ماعزؓ په هجوه خفه شوے وه۔ هم دارنګ د غامدیه او د حاطب ابن ابی بلتعه په هجو خفه شو

فاثابکم غما بغم الخ (۱۵۳) (۱) اُو ئے رسا وُ تاسو ته غم چه فوت د مال دے سره د بل غم نه چه وصول د جراحت دے چه تاسو غمژن نشئ په دے تکلیف باندے او بیا د نبی صلے الله علیه وسلم د اتباع خیال کوے۔ نو لازاید دے په کیلا تحزنوا او په لاما اصابکم کښے رجلا لین)

(۲) چہ تاسوغم ژن نہ شئ پہ فوت دَمال او نہ پہ حصول دَجراحت یعنی ستاسو بہ پہ آینده زمانه کښې دَمال او دَجرحت سره تصور نه وی بلکہ دَ اتباع دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام بہ مو تصور وی۔
(۳) اُوئے رسا وُه تاسو تہ غم چہ فوت دَمال او وصول دَجراحت دے پہ سبب دَ خفه کولو ستاسو نبی علیه الصلوٰة والسلام لره الخ۔
(۴) اوئے رساؤ تاسو تہ غم عظیمه چہ خبر دَ شهادت دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُه سره دَ بل غم نه چہ فوت دَمال او وصول دَجراحت دے چہ غم ژن نہ شئ تاسو پس دَ دروغژن کیدو دَخبر دَ شهادت دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام نہ پہ فوت دَمال او نہ پہ وصول دَ جراحت باندِ۔ ځکه چہ قانون دا دے چہ لوئے تکلیف ختم شی۔ نو وړوکے تکلیف بیا سړی تہ څۀ نہ ښکاری۔ لکہ یوے صحابیۓؓ تہ خبر دَ شهادت دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام اورسید۔ نو دا روان شوہ احد تہ نو پہ لارے بہ ئے تپوس کوو۔ نو خلقو بہ ورتہ وے چہ پلار دے مړ دے او چا بہ وے چہ خاوند دِ مړ دے چا بہ وے چہ ځوئ دے مړ دے نو دے او وے چہ نبیؐ څنګه دے۔ نو هغوی او وے چہ حضور صلی الله علیه وسلم خوجوړ دے۔ نو دے او وے چہ تمامه دُنیا دے نہ وی خو چہ نبی صلی الله علیه وسلم جوړ وی (عثمانی و حکایات صحابہؓ)

ما قتلنا ههنا (۱۵۴) منافقانو دَ انصارو قتل خپل کنړه ځکه چہ دَ هغوی سره ئے نسب وه (عثمانی)

لوكانوا عندنا (۱۵۵) استعمال دَ لو ټیک نہ دے ځکه چہ نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائی چہ لو تفتح باب الشیطن۔ البتہ دَ تعلیم دَپاره دَ لو استعمال جائز دے۔ تائید: دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَکوره یوه خدمتګاره واده شوه۔ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام تپوس اوکړه چہ تاسو ورسره څه نغت ویونکے جینکۍ نہ دی لیږلی دوی او وے چہ نا۔ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام او فرمایل۔ لو بعثتم معها من یقول ه اتیناکم

اتيناكم فحيينا وحييكم ؛ نو دا به ښه وي - او بل جز ئے ښه شو وه نو هغه نبي عليه الصلوة والسلام اوند وےـ ولولا الحنطة الحمرآء لم تسمن عذارا كم ؛

ولئن قتلتم (۱۵۷) درے قسمه عبادة دے (۱) صرف د پاره د رضا د باری تعالی داعبادة د احرار دے (۲) د پاره د حصول د جنت داعبادة د تجار دے (۳) د پاره د ځان بچ کولو د دوزخ نه داعبادة د عبيد دے -

اول ته اشاره ده په لالى الله تحشرون (۱۵۸) سره - دوئم ته اشاره ده په رحمة سره دريم ته اشاره ده په مغفرة سره - دوئيم او دريم هم ښه عبادتونه دی - تائيد : فمن زحزح عن النار وادخل الجنة فقد فاز (۱۸۵) كه د بعض كسانو نه د دواړو عبادتونو په حق کښے څه د کمی خبرے صادرے شوی دی نو هغه د هغوی جذبه ده - كه رابعه عدويه چه راغله او ورسره په لاس کښے اور وے او په بل لاس کښے ورسره اوبه نو اوئے وے چه عبادت صرف د الله تعالی د پاره کوئے اوریئے په دے اوبو مړ کوے دے او جنت ئے په دے اور سوے دے -

اوالبته اول قسم عبادت خوبے مثل دے - تائيد : رضوان من الله اكبر (توبه : ۷۲)

فبما رحمة من الله لنت لهم (۱۵۹) په احد کښے د مسلمانانو نه غلطی شوے وه - نو نبي عليه الصلوة والسلام اوغوښته چه بيا به د دوی سره مشوره نه کوم - نو باری تعالی په دے طرز سره اوفرمايل چه بيا به هم د دوی سره مشوره کوے (عثمانی)

باری تعالی د نبي عليه الصلوة والسلام د نرمئ صفت اوکه - قال عليه الصلوة والسلام ان الرفق لايكون فى شئ الا زانه ولاينزع عن شئ الا شانه (مسلم) نبي صلے الله عليه وسلم اكرم الناس، اشجع الناس، اعلم الناس، احلم الناس، احسن الناس وه - تائيد : حسان رض فرمائی ؎

واحسن منك لم تر قط عينى
واحسن منك لم تلد النسآء
خلقت مبرأ من كل عيب
كانك قد خلقت كما تشآء

حُسن دَ یوسف ؑ زیات وه دَ خپلے زمانے دَ خلقو نه (حاشیه مشکوة ص۵۳۹)

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْکُمْ مُّصِیْبَةٌ (۱۶۵) اصل کښے وه۔ لَمَّا اَصَابَتْکُمْ مُّصِیْبَةٌ اجن عم وقلتم۔ همزه دَ صدارت دَ پاره مخکښے لاړه مدخولِ حذف شو اختصاراً او واو عاطفه مخکښے شو مدخول دَ همزه شو ځکه چه دال دے په محذوف چه مدخول دَ همزه دے۔

فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِیَعْلَمَ الْمُؤْمِنِیْنَ (۱۶۶) ولیعلم عطف دے فباذن الله بانه دا علة غائی عطف شو په علة فاعلی باندے۔ (۱) علة فاعلی ما منه الشئ (۲) علة غائی ما له الشئ (۳) علة صوری ما به الشئ بالفعل (۴) علة مادی ما به الشئ بالقوة۔

قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنٰکُمْ (۱۶۷) (۱) که مونږ په جنګ پوهیدے نو ستاسو سره به مومونږ تیار کړے وے۔ خو مونږه ستاسو په زعم کښے په جنګ نه پوهیږو ځکه چه تاسو ځمونږ په مشوره عمل اونه کړو۔ (۲) یا که مونږ پوهیدے چه دا جنګ دے دا خو خود کشی ده نو ځکه ستاسو متابعت نه کوو۔ (عثمانی)

وَمَا کَانَ اللّٰهُ لِیُطْلِعَکُمْ عَلَی الْغَیْبِ وَلٰکِنَّ اللّٰهَ یَجْتَبِیْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ یَّشَآءُ (۱۷۹) فیوحی الیه ما یشآء (مدارک)

الغیب کښے الف لام دَ پاره دَ استغراق اخلی مبتدعین او علم کلی اعطائی ثابتوی انبیاؤ لره دا خبره دَ قرآن نه خلاف ده۔ تائید؛

(۱) قُلْ لَّا یَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَیْبَ اِلَّا اللّٰهُ (نمل: ۶۵)

(۲) وَمِمَّنْ حَوْلَکُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِیْنَةِ مَرَدُوْا عَلَی النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ (توبه: ۱۰۱)

(۳) عَفَا اللّٰهُ عَنْکَ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ (توبه: ۴۳)

سَیُطَوَّقُوْنَ (۱۸۰) قال علیه الصلوة والسلام من اٰتاه الله مالا فلم یؤد زکوته مثل له یوم القیٰمة شجاعا اقرع له زبیبتان یطوقه یوم القیٰمة ثم یاخذه بلهزمیه (یعنی شدقیه) ثم یقول انا مالک وانا کنزک

مشکوة ص۱۵۵ له نبی علیه السلام وحسن الناس اکرم الناس واعلم الناس اتقی الناس واشرف الناس اشجع الناس اقوی الناس وه، رکانه دَ خپلے زمانے پهلوان وه چه دا نبی په شنه ځوځ پراوو دید او وخلقو پسے ځوځ را بنکلو نوضخس به شوه او دَ رکانه دَ خپوند به چا آزاده نه کړه نبی علیه السلام هغه لره درې ځله را پرزولے وه

بیت
حسن یوسف دم عیسیٰ ید بیضا داری
آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری
که په سوکښے دوه توره
دا غونډ ۱۲

واذا خذ الله میثاق ۱۲ دمعلا علمه ۱۲ دمعلا انبیاء الاول یه

فمنهن اشتر ... ... او ایمان لہ پہ یخودو عنکبوت ۲۸ کمزورو بادشاہ پہ وینئ ا
میلن وو او وینئه پہ زرگی جینه وه او نا جوړ وه ۱۵۷ نا قصو طبیبانو علاج ونه کړو او کامل طبیب مرض د عشق معلوم
کړو نو زر کړو نو
ئے نه روغ کړه
او عقد مریض شو
او دوینځے تر یه
زړه تور شو میا
مریض شو او وینځه
بادشاه تر جوړه
یاته شوه دغسے
روح کار کوی په
نفس او عقد یه
لذات اخته دے
نو بد عقق پیدا
خو کامل کوی
لذات نه او
کامل پیر هغه
لذات بد شکاره
کوی نو نفس روح
ته وزګار شی نو
هغه په جوارح د
روح مقصود
پوره کوی او
نیکی کوی۔
از مثنوی
=
کل نفس الخ ۱۸۵
الموت قدح کل
نفس شاربها،
القبر بیت کل
نفس نازلها۔

ثم تلا ولا یحسبن الخ (بخاری)

لقد سمع اللّٰه (۱۸۱) هرکله چه نازل شو واقرضوا اللّٰه قرضا حسنا (مزمل: ۲۰)
نو خلق درے فریقے شو (۱) بخیلان نو اللّٰه تعالیٰ پے رد وکړ په ولا یحسبن الذین الخ
سره (۲) منافقان چه دوی وے چه اللّٰه تعالیٰ فقیر دے چه قرض غواړی نو
اللّٰه تعالیٰ پے رد وکړ په لقد سمع اللّٰه سره (۳) مخلصین چه ابو درداح او وے
چه ځما باغ د شپږ سوو کجورو والا دے ما اللّٰه تعالیٰ له قرض ورکړ۔ نو
کور ته لاړ او خپلے ښځے ته ئے او وے چه ما خپل فلانکے باغ اللّٰه تعالیٰ له
قرض ورکړ نو ښځے ورته او وے چه باری تعالیٰ زمونږ نه قرض اخلی
نو ده او وے چه او۔ نو هغے او وے چه ښه دِ وکړه دا سے ځائے کښے
عالم قرض ورکوی نو چه د نبی صلے اللّٰه علیه وسلم حضور ته راغے نو نبی علیه
الصلوٰة والسلام او فرمایل۔ کم من عذق رداح ودار فیاح لابی درداح (معارف)

وان اللّٰه ای واعلموا۔ تائید: واعلموا انما اموالکم (انفال: ۲۸)
لیس بظلام للعبید (۱۸۲) (۱) ای بذی ظلم۔ او دغه توجیه غټه
وی نو ځکه د ظلم تعبیر او شه په ظلام سره۔
(۲) یا نفی د قید او د مقید دواړه شوے ده۔ او دا قانون چه نفی متوجه شی
مقید ته نو قید اړتا وهی۔ دا اکثری وی کله قید او مقید دواړه اړتا وهی
تائید: ما للظٰلمین من حمیم ولا شفیع یطاع (المؤمن: ۱۸) ای لا شفاعة ولا طاعة۔
یا مبالغه نقل شویده۔ نفی ته یعنی انتفی الظلم من اللّٰه تعالیٰ انتفاءً
مبالغا فیه (شیخ الهندؒ)

وان تصبروا و تتقوا فان ذلك من عزم الامور (۱۸۶) (۱) جزا محذوفه
ده۔ ای فهو خیر لکم او فان ذلك دلیل د جزائے محذوفه دے نو ذلك
اشاره ده مطلق صبر او مطلق تقوی ته۔
لیستخفوا منه - (۱) همزه استفهامیه انکاریه په کښې محذوف دے (۲) یا امر برائے تعجیز دے - اصحابو به د غسل وغیره کار ونو کښې تکلیف کولو باری تعالیٰ اووے چه دے تکلیف ته ضرورت نشته - (۳) یا لام برائے تعلیل دے یعنی تا د حق سینے خپلے د پاره د دے چه پټ کی هغه نفاق چه په سینو د دوی کښې دے نزول ئې په حق د اخنس بن شریق کښې دے -

ومامن دآبة فی الارض الا علی الله رزقها - ۶ -

واقعه د معاینے - یو کوزه چه د دے ئے به ئې پخه ولے په تبۍ د کټے اود د دوئے درمیان به شنه پخید ه - تبۍ چه ماته شو ه نو په دغه ځائے کښې چینجی وه - او د هغه په خوله کښې شنه پاڼه وه -

وهو الذی خلق السموٰت - ۷ - دا د دعوه ثانی جز ثانی دے یعنی کارساز صرف باری تعالیٰ دے -

وکان عرشه علی المآء - ای قبل ان یخلق السموٰت (ابن جریر)

تائید: اهل یمنو اووے چه سوال کوو لتا نه یا رسول الله د دے مخلوق متعلق - نو نبی علیه الصلوٰة والسلام اووے کان الله ولم یکن شیٔ غیره وکان عرشه علی المآء (بخاری ج ۱: ص ۵۳)

شیخ القرآن صاحب فرمائی چه دا کنایه ده چه باری تعالیٰ چا ته محتاج نه دے - تائید: قال صلی الله علیه وسلم یمین الله ملأ لا یغیضها شیٔ سحاء اللیل والنهار ارائیتم ما انفق منذ خلق السموٰت والارض فانه لم یغض مافی یمینه قال علیه الصلوٰة والسلام وعرشه علی المآء (مسلم - ج ۱: ص ۳۲۲)

فلعلك تارك بعض ما یوحیٰ الیك وضائق به صدرك ان یقولوا - الخ - ۱۲ - دا دریمه دعوه ده د بنی د خلقو

یعنی استفهام بالهمیه دے - نه او په مفعول پوریه اضمار غلط دے ۱۲

یه دغه کوز د کانا د مشهور کلی کورد و قوم کښې دے او دغه کوز د حکمر وه او د هغه قوم تکلاوه

ا یه کوټه که از خزینه غیب ا گبرو ترسا وظیفه خور داری - دوستان را کجا کنی محروم - تو که با دشمنان نظر داری

دَ اعتراضو نو دَ وجے نه دَ مایوسی نه څۀ مه پرېږده -

اَفمن کان علی بینة من ربه - ۱۷ - دا خلو رمه دعوه ده چه مسئله بالکل صافه ده خلق دَ ضد دَ وجے نه نه منی دَ بینے نه مراد عقل دے - ویتلوه شاهد منه - دَ شاهد نه مراد قرآن دے - یتلو دَ تلو نه دے نه دَ تلوة نه - یعنی توحید عقل منی - او قرآن هم دَ دهٔ تائید کوی - او مخکښے کتابو نه هم دَ توحید اعلان کوی "فلم یبق له موضع شبهة" - تائید فی الحدیث: ان الامانت نزلت فی جذر قلوب الرجال ثم علموا من القرآن ثم علموا من السنة (مشکوٰة: ج ۲ ص ۴۶۱)

ولقد ارسلنا نوحاً الیٰ قومه - الخ - ۲۵ - قصه اوّل[۱] متعلق بدعوٰی اوّلی[۱] - یعنی کفار اعتراض کوی چه "ماسمعنا بهذا فی الملة الاٰخرة ان هٰذا الا اختلاق" (ص: ۷) یعنی نوح[ع] دَ دے دعوے اعلان کړے دے - دا نوے مسئله نه ده -

ولآ اقول لکم عندی خزآئن الله - ۳۱ -

قل لآ اقول لکم عندی خزآئن الله (انعام: ۵۰)

ولله خزآئن السمٰوٰت والارض - (منافقون: ۷)

له مقالید السمٰوٰت والارض (زمر: ۶۳)

قال علیه الصلوٰة والسلام فبینا انا نائم اوتیت بمفاتیح خزائن الارض فوضع فی یدی - قال ابو هریرة رض وقد ذهب رسول الله صلے الله علیه وسلم وانتم تنتسلونها (بخاری[له]: ج ۱ ص ۴۱۸)

ویصنع الفلك - ۳۸ - کان یصنع - دے شوه[۳۰۰] ګزه جهاز او کړ دَه - او پنځوس[۵۰] ګزه پلن وه - او دیرش[۳۰] ګزه د نلګ وه - درے[۳] چته وه - اوّل[۱] دَ بنی آدمو دَ پاره - دوئیم[۲] دَ نورو حیوانا تو دَ پاره چه دَ هر جنس نه جوړه اغستے شوے وه برائے بقائے نسل - او دریم[۳] کښے راشن وه - اول صنعت دَ جهاز دَ نوح علیه السلام نه دے

له یعنی دا سے نۀ ده چه نبی علیه السلام ګنج بخش دے البته پخپله رشکی کښے نے خلقو ته غنیمت مال او دَ زکوٰة مال ورکولو ۱۲

ما رپه وعدهٔ سره جهاز ته بو تلے وۀ او دغسے تر نه سلیمان علیه السلام وعدهٔ اغستے وه دَ نۀ ضرر، خو څوک چه مار او وینی په کور کښے نو هغه په اوواژی - انا نسئلك بعهد نوح وسلیمان بن داؤد ان لا تؤذینا ۱۲ مشکوٰة ص ۳۶۱

لکه د پیږو والا کانړی ایجاد د آدم علیه السلام شوی دے - طوفان د
شپږ میاشتې وه -
۱۰ رجب نه شروع وه د لسم محرم پورے (معارف)

یا بنی ارکب معنا - الخ - یعنی[1] مسلمان شه بیا سور شه - یا د حضه[2]
نه استثنا هیره شوے ده - یائے[3] داخیل خوئی مصداق د استثنا
نه شو کړه ولے شفقت پدری پے غالب شوے وه - محبت سرے
پرونده وی د اطبعی امور دی سرے پے مجبور ده کیږی - او
اُمور طبعیه په کاملین کښے هم وی - یا د حضه[4] کفر ورته معلوم
نه دے او غیب دان خو صرف باری تعالیٰ دے (عثمانی)

قال ساٰوی الی الجبل الخ - سره - غرّ سبب غیر ماذون فیه
وه - او کشتی سبب ماذون فیه وه - نو ځکه نوح علیه السلام
بچ شو نه ځوئی د ده -

قال لا عاصم الیوم من امر الله الا من رحم - مولنا محمد یعقوب
صاحب فرمائی چه تقدیر دا دے - لا عاصم الیوم من امر الله الا
الله - ولا معصوم من امر الله الا مر رحم - (حکایت اولیاء)

کنعان سپین کور خوب نو چه راننے جهاز ته نو نوح
علیه السلام خیرے ورته اوکړے - فاسود العنب الذی کان
بیده فلا خیر فی رؤیة العنب الا سود (ابن سیرینؒ)

البته که یو سړے خطرناک خواب اووینی نو اعوذ بالله د اووائی
نو حیخ پروا نشته یا د پاخی او نماز دے اوکړی - او خواب د
تخویف بهتر دے د بشارت نه - ځکه چه په بشارت کښے خوف
د غفلت وی او په تخویف کښے ظن تواضع او توبے وی (غریب
شیخ القرآن شاه پور)

وناد‌ی نوح ربه فقال رب ان ابنی الخ - ۴۵ - عه شلورم ترجمے دعا
د قبل الهلاک او قبل العلم بکفره - ترب ځما ځوئی ځما د اهل نه
دے نو د لے ولے جهاز ته نه راځی چه بچ شی -

معلوم شو
چه کمال په
اتباع د ذوات
فاضلو کښے
دے نه تش
په نسب ۱۲
ه
خرعیسی اگر بمکه برند
چو بیاید هنوز خر
باشد
(سعدی)

عه د نوح
علیه السلام
په سوال کښے
عاجزی ده
او د باری تعالیٰ
په جواب کښے
تعلی ده ۱۲
(شیخ)

(۲) بعد العلم - استثناء تے نه حیره شوے ده یائے دے مصداق
نه شی کوزه ولے شفقت پے غالب شوے دے -
(۳) بعد الهلاک و قبل العلم - نو تپوس دَ حکمت دَ هلاکید و
دَ هغه کوی -
(۴) و بعد العلم - استثناء تے نه حیره شوے ده یائے دَ مصداق
نه شی کوزه ولے شفقت پے غالب شوے دے نو دَ منشیٰ دَ هلاکت
سوال کوی - نو باری تعالیٰ جواب ورکړ -

انه لیس من اهلک - ۴۶ - نو په قیامت کښے به نوح علیه السلام نفسی
وائی چه دَ غیر اهل دَ پاره ئے ولے سوال اوکړ - روی انه لم یرفع
رأسه الی السمآء اربعین سنة حیاءً من الله تعالیٰ (منهاج العابدین)

قیل یا نوح اهبط بسلام منا - ۴۸ - یعنی خیال مه کوه چه
په کوز دید وکښے به نقصان اوشی - وبرکات علیک - یعنی دا
خیال مه کوه چه ز مکه دَ اسباب دَ عیش نه خالی شوے ده

وامم سنمتعهم ثم یمسهم منا عذاب الیم - یعنی دا خیال
مه کوه چه اوس دَ دعوت نه فارغ شوم - بیا به هم شرک پیدا
کیږی -

تلک من انبآء الغیب - ۴۹ - جمله معترضه برائے صداقت
نبی صلی الله علیه وسلم -

ان العاقبة للمتقین - لکه نوح علیه السلام لره -

والی عاد اخاهم هودا - ۵۰ - دویم قصه دَ اولے[۱] دعوے متعلق

۵۶ - ان ربی علی صراط مستقیم - دَ ربی[۱] - یا ان ربی یحکم[۲] - (۳) یا
رب تعاملا ویږی په صراط مستقیم بانی -

والی ثمود اخاهم صالحا - ۶۱ - دریمه[۳] قصه متعلق به دعوی اول -

ولقد جآءت رسلنا ابراهیم بالبشریٰ - ۶۹ - څلورمه[۴] قصه متعلق
به دعوی ثانیه - یعنی کارساز او غیب دان صرف باری تعالیٰ دے

دے دَ امام غزالی ورکتاب دے دَ کتاب نوم دَ طریقت نه روستو کړے دی

ابراهیم علیه السلام ملائکو لره اوس پیژندلے - نو غیب دان نه شو او ځان لره ئے دځوئ غور نه شو کولے نو کارساز نه شو او یریده ه دمهمان نه اویریدی حقه څوک چه عاجز ه وی - واوجس منهم خیفة - ۷۰ - نوغیب دان اوکارساز نه شو۔

ولما جآءت رسلنا لوطا سیئ بهم وضاق بهم ذرعا - ۷۷ - پنځمه قصه متعلق بدعوی ثانیه - یعنی لوط علیه السلام غیب دان نه وه - ملائک ئے اونه پیژندل او کارساز نه وه نو ویریدو - او خفه شو چه ځما مهمانانو ته به ضرر اورسی

وما هی من الظلمین ببعید - ۸۳ - (۱) الحجارة (۲) او بلادهم (۳) اوالحادثة - تائید: وما قوم لوط منکم ببعید - ۸۹ -

والی مدین اخاهم شعیبا - ۸۴ - قصه سادس متعلق بدعوی اولی - اوان نفعل فی اموا لنا مانشآء - ۸۷ - ان نفعل عطف دے په ان نترک باندے او لا په کښے مقدر دے - یا عطف دے په ما یعبد باندے -

په دنیا کښے درے نظامه دی (۱) سرمایه دارانه نظام چه په مال د مالک هیڅ حق نشته - (۲) او اشتراکیت والا چه مال د بیت المال دے - یا د مالک د پاره به یو حصه پریږدی او نور به په فقرآء تقسیموی - دا دواړه نظامه د کفارو دی (۳) دریم شرعی نظام چه مال د مالک دے چه په سبب شرعی ئے مالک شوے دے البته په دے مال کښے دغرباء حقوق[1] واجب دی - تائید: والذین فی اموالهم حق معلوم للسائل والمحروم (۲۴ - ۲۵ - معارج) - او حقوق[2] غیر واجبه دی - تائید: وفی اموالهم حق للسائل والمحروم - (۱۹ - الذاریت)

قوم شعیب د سرمایه دارانه نظام والا وو -

ومآ ارید ان اخالفکم الی مآ انهٰکم عنه - ۸۸ -

(۱) دَ دۀ شغوا یم چه خلاف اوکم ستا سو نه چه دعوت ورکوم هغه شی تا چه منع کوم تا سو دَ هغه نه - یعنې دَ نه کولو دَ هغه نه (رشیخ)

(۲) دَ دۀ شغوا یم چه ورو ستو ستا سو نه اوکم هغه کار چه منع کوم تا سو دَ هغه نه - (عثمانی)

ولقد ارسلنا موسیٰ بِاٰیٰتنا وسلطان مبین - ۹۶ -

اودَ مه قصه متعلق بد عوی ثالثه - چه موسیٰؑ څو مره مصائب برداشت کړه په تبلیغ کښې نو تاسو هم برداشت کو ه-

ذٰلك من انباء القریٰ نقصه الخ - ۱۰۰ - دا دَ تولو قصو سره تعلق لری -

وکذٰلك اخذ ربك اذا اخذ القریٰ وهی ظالمة ان اخذہٗ الیم شدید - ۱۰۲ - فی الحدیث ان اللّٰه یملی الظالم حتیٰ اذا اخذہ لم یفلته ثم قرء وکذٰلك اخذ الخ (مشکوٰة)

یوم یأت لا تکلم نفس الا باذنه - ۱۰۵ - دا جمعه دَ ه فمنهم شقی وّ سعید - دا تفریق دے - اما الذین شقوا - ۱۰۶ -

واما الذین سعدوا - ۱۰۸ - دا تقسیم دے - (بلاغة)

علامات شقاوت (۱) قسوت (۲) عدم بکاء (۳) رغبت دنیا -

(۴) طول امل دی -

علامات سعادت (۱) نرمی دل (۲) کثرت بکاء (۳) عدم امل -

(۴) نفرت دنیا (۵) حیا - (شقیق بلخی رحمة اللّٰه تعالیٰ)

زفیر دَ خره لوے آواز - شهیق دَ خره لوے آواز یعنې ورقا ر -

خالدین فیها ما دامت السمٰوٰت والارض الا ما شاء ربك - ۱۰۷ -

خلود (۳) تراجم دی -

(۱) همیشه به وی په هغه کښې په مقدار دَ مُدے دَ آسمانو نو اودَ زمکې دَ دنیا مگر که رضا شی دَ اللّٰه تعالیٰ نو همیشه به ئے کړی

به نقل النبی الی الرجل یقاتل المشرکین فقال من احل النار - فیه ان العبد یعمل فیما یری الناس عمل اهل الجنة وانه من اهل النار ویعمل فیما یری الناس عمل اهل النار وهو من اهل الجنة انما الاعمال بالخواتیم رواه بن ابی حازم فتح الباری ج ۱ مشکوٰة ص ۲۰

په هغه کښې (جلالين)

(۲) هیشه به وی په هغه کښې تر څو چه وی اسمانونه او زمکه د اخرت مګر که رضا شی د الله تعالیٰ نو عصاة المؤمنین به تے تښ را او باسی ـ (تفتازانی)

(۳) مګر که رضا شی د الله تعالیٰ نو عذاب به ورله نور هم زیات کړی ـ تائید: ساُرهقه صعودا ـ (مدثر ۱۷) (شیخ)

(۴) مګر که رضا شی د باری تعالیٰ نو او به یې باسی ـ دا اشاره ده وسعت قدرت خداوندی ته ـ یعنی دوزخی را ویستے شی د دوزخ نه خو شائے را او باسی (عثمانی)

په بشارت کښې چه واما الذین سعدوا وادی ـ ۱۰۸ ـ هم دغه تراجم دی ـ خو د تفتازانی په توجیه عصاة المؤمنین به په جنت کښې هیشه نه وی په اعتبار د ابتداء سره ـ او د شیخ په توجیه د استثناء نه مراد زیاده رحمت دے ـ

وان کلا لما لیوفینهم ربك اعمالهم الخ ـ ۱۱۱ ـ

څلور توجیهات دی ـ

(۱) یقینا دا ټول خلق هر کله چه را پورته کړی نو پوره به ورکړی الخ نو فعل شرط د لما محذوف دے او لیوفینهم جزا ده (شیخ)

(۲) یقینا دا ټول خلق هر کله چه پوره ورکوی د ب ستا بدله د اعمالو د دوی نو ور به کی ځکه چه باری تعالیٰ په اعمالو د دوی خبر دے ـ نو لیوفینهم فعل شرط دے او لام زائد دے ـ او جزا محذوف ده چه یفعل ده ـ او انه بما یعملون الخ دلیل د جزائے محذوف دے (شیخ)

(۳) دا ټول خلق ثابت دی د هغو نه چه پوره به ورکړی الخ نو لما په اصل کښې لمن ما دے نو نون بدل شو په میم نو درے میمه جمع شو نو یو میم حذف شو ځکه چه مثلین جمع شی نو په کښې تخفیف

کیدے شی یا پہ حذف یا پہ ابدال یا پہ ادغام سرہ۔ دلتہ حذف شوے دے ادغام روستہ شتے۔ (جامع البیان)
(۴) دا قول پہ جمیع خاخاپورہ پہ ورکری رباستا بہ لہ دا عمالو دوی نو لما پہ معنیٰ دَجمیعا دے او تاکید دَکلا دے۔ حالت وصلی جاری دے پہ مجری دَ وقف۔ یقال لممت الشیٔ ای جمعتہ۔ (خازن)
ولا ترکنوا الی الذین ظلموا الخ۔ ۱۱۲۔ یعنی دَ ظالم رکن مہ
مرذہ چہ دَ ھغہ دَ ظلم او دَ بدعت او دَ شرک تاکید وکہے۔
شو چہ تلطف فی الدعوۃ او حکمت فی الدعوۃ او موعظہ حسنہ بہ
نہ کوے۔ پہ خرہ بہ ھلہ با روہے چہ تو برہ ورلرہ ور کہے
(شیخ سرحدیؒ)

بئس الفقیر علی باب الامیر ونعم الامیر علی باب الفقیر

عن الاوزاعیؒ مامن شیٔ ابغض الی اللہ تعالیٰ من عالم زار عاملا
عن محمد بن مسلمہؒ الذباب علی العذرۃ احسن من قاری علی
باب ھؤلاء (روح) یعنی چہ یو عالم دَ ظالمانو تائید کوی
او چہ ئی دَ دوی خنلک تہ دَ رد دَ پارہ او دَ دعوۃ دَ پارہ او خ
محبت کوی نو دا خو چہا دے۔
فائدہ:۔ دَ ۱۰۹ نہ تر ۱۱۴ پورے ایا تو نہ تعلق لری دَ خلورم
دعوے سرہ۔ یعنی دَ دوی دَ غیر اللہ دَ عبادت نہ چہ ے شکی
نہ شے دا پخوانے کسب دے اللہ تعالیٰ بہ ورلرہ بدلہ ور کوی۔
وللہ غیب السمٰوٰت والارض والیہ یرجع الامر کلہ۔ فاعبدہ
وتوکل علیہ وما ربک بغافل عما تعملون ۰۔ ۱۲۳۔
دَ خلور روا یہ و دعوو اعادہ دہ بطور نتیجہ وخلاصہ۔
یعنی وللہ غیب السمٰوٰت والارض دَ دعوے ثانئے دَ جز اول
اعادہ دہ۔ والیہ یرجع الامر کلہ دَ دعوے ثانئے دَ جز ثانی
اعادہ دہ۔ فاعبدہ دَ دعوی اولیٰ اعادہ دہ۔ وتوکل
علیہ دَ دعوے ثالثے اعادہ دہ۔

وماربك بغافل عما تعملون ٥ دعوے رابع اعاده ده۔

فائده:- په اول کښے دعوی ثانیه د اولی د پاره دلیل وه دلته دعوه اولی تفریع ده په ثانیه باندی۔ دا تفنن فی العبارت او ایراد د مقصد یو دے۔ په مختلفو طریقو سره۔

فائده:- قال کعب الاحبار خاتمة التوراة خاتمة سورة هود۔ (خازن)

ختم شو سورة هود بفضله تعالی

(۲۹ - ۴ - ۱۴۰۱ھ)

این سعادت بزور بازو نیست تا نه بخشد خدائے بخشنده

دا سعادت د متو نه دے چه تر څو نۀ بخښی خدائے تعالی بخښونکے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۱۲- سورۃ یوسف مکی دے - ۵۳

****

بعد هود وقبل حِجر - زمانه نزول دورهٔ اخیر مکه معظمه

ربط: سورهٔ هود کښې فرمایلی دی چه غائبانه حاجات صرف د باری تعالیٰ نه غواړئ ځکه چه دے غائب دان او کارساز دے - نو په دے سورة کښې فرمائی کہ بل څوک غیب دان او کارساز دے نو دومره لوئے پیغمبر به وے چې پل څو ئ پسے دومره کم ئې وړ زیده - نو سورهٔ یوسف د سوره هود د دعوی دپاره دلیل نقلی شو -

خلاصه: په دے سورة کښې څلور دعوے دی - (۱) غیب دان صرف باری تعالیٰ دے (۲) او کارساز هم صرف باری تعالیٰ دے - دا دوه دعوے د سورة نه مفهومے دی -

(۳) ته صادق پیغمبر ئې چه دا سے غیبي قصے کوے - ۱۰۲ -

(۴) مصائب به راځي برداشت کوه لکه څنګه پیغمبرانو - ۱۱۰ -

باقی تفصیلی سرګذشت د یوسف علیه السلام (۸) اته دوروا لا چه مشتمل دے په بے شماره فوائد و بانڈ -

منجمله د هغوینه دا دی - (۱) د تقدیر دافع نشته - (۲) د خدائے تعالیٰ فضل څوک نه شی منع کولے (۳) صبر د دارین د کامیابی مفتاح دے (۴) د حسد انجام خذلان دے (۵) عقل د انسان شریف جوهر دے چه سبب د کامیابی دے (۶) پاکی امنی سرے د دشمن په نظر کښې خائسته (نظاره) کوی (۷) په تبلیغ کښې موقع شناسی -

فائده: - بیان د شیخ (۶) وفوائد و عثمانی دے - او دوم (۷) د غریب -

ازواج یعقوب ؑ	ابنائے یعقوب ؑ
(۱) لیا - (۱) روبین -	(۲) شمعون (۳) لاو یا (۴) یہودا (۵) اشکار
	(۶) زبلون
(۲) بلہا -	(۱) دان (۷) (۲) نفتالی (۸) -
(۳) راحل -	(۱) یوسف (۹) (۲) ابن یمین (۱۰)
(۴) زلفہ	(۱) جد (۱۱) - (۲) اشر (۱۲) -

(مولانا آزاد ترجمان القرآن)

نوټ: د مولانا آزاد د حق بیني د وجې نه علماء دیو بند دهٔ ته خه گوري -

انا انزلناه قرانا عربیا - ۲ - قال ابن عباسؓ قال علیه الصلوة والسلام احبوا العرب لثلاث (۱) لانی عربی والقران (۲) عربی ولسان اهل الجنة (۳) عربی (رواه البیهقی) (روح)

احسن القصص - ۳ - ځکه چه په کیسې د توحید بیان وضاحت دے - (رشیدؒ)

وان کنت من قبله لمن الغافلین - ووجدک ضالا فهدیٰ (ضحیٰ - ۷) - وما کنت تدری ما الکتب و لا الایمان (شوری: ۵۲)

تاویل الاحادیث - ۶ - ځائے ته رسول د خبرو (عثمانی)

تعبیر د خوابونو (عام)

اذ قالوا - ۸ - عامل ئے قال قائل دے - ۱۰ -

غیٰبت الجب - "جوړ والے د کوهي (رشیدؒ) (۲) کنام کوهي (عام)

(۳) طاقچه د کوهي - قاله ابو الحیان صاحب بحر محیط (عثمانی)

وشروه - ۲۰ - (۱) وارده او اصحاب د ده (۲) یا براداران یوسفؑ

دراهم معدودة - ۱۸ - "(۱) دوې (عثمانی) (۲) لا وضعه علیه دلالة

فی کتاب اللہ وخبر (ابن جریر) - او دا تعیین من فضول العلم دے
یعنی په دے کښے څهٔ فائده نشته - (غریب)

وراودته التی هوفی بیتها عن نفسه - باب مفاعله دپاره[1] دَشرکت
نهٔ دے لکه عاقبت اللص (رشا نیه) او کهٔ دَپاره دَشرکت شی نو دَراعیل
نه طلب دَوقاع او دَیوسفؑ نه طلب دَامتناع دے - او کهٔ[3] دَجانبین نه
طلب دَوقاع شی نو دَطرفه دَراعیل نه طلب اختیاری او دَطرفه دَ
یوسفؑ نه طلب طبعی غیراختیاری دے - لکه چه دَصائم اوبو ته
زړه کیږی - او کمال هم دا دے چه دَسړی زړه یو کار ته کیږی او
کولے هم شی خو دَ اللہ تعالیٰ دَ یرے نهٔ ئے نه کوی - او چه نه شی کولے
نو دَهغے کار نه منع څه کمال نه دے - لکه دَ پائنده نه کتلِ حرامو ته
کمال نه دے بلکه کمال دَ جوړ سړی دے چه نهٔ گوری حرامو ته
په موصول سره دَراعیل نه تعبیر او شو دَوجے دَاستهجان دَ
تصریحه په اسم دَهغے ځکه چه دَهغے نه غلط کار شوے وه - او
بل دَپاره دَزیادة تقریر دَغرض مسوق له الکلام چه پاکوالے
دَیوسفؑ دے - چه دَراعیل په کور کښے وه او ځان ئے منع کو-

ولقد همت به وهم بها - ۲۳ - (۱) دَراعیل دَطرفه همّ
دَوقاع او دَیوسفؑ دَطرفه همّ دَامتناع وه (۲) یا دَیوسفؑ
دَطرفه همّ طبعی غیراختیاری وه - (۳) او کهٔ دا دَلولا مؤخر دَ
پاره جواب مقدم شی نو دَسره دَپادری فنډر اعتراض وارد
نه شو چه دَتورات نه معلومیږی چه یوسفؑ هم نه دے کړے
او دَقرآن نه هم معلومیږی ځکه چه لولا دا ځئ دَپاره دَانتفی دَ
ثانی دَوجے دَوجود دَاول نه برهان ما وعد اللہ علی الز فی (ابن جریر)

سیدها - ۲۵ - واسطی وائی چه دا لفظ په قبطی ژبه کښے شوهر
ته وائی (لغات القرآن)

وشهد شاهد من اهلها - ۲۶ - شیرخوار بچے وه - نو دا

وجاءوا اباهم
عشاء یبکون (الخ)
قال ابن عباس
فالبکاء اربعة
(۱) بکاء من الخوف
(۲) بکاء من الجزع
(۳) وبکاء من الفرح
(۴) وبکاء ریاء
قرطبی ج ۹
ص ۱۴۹

زلیخا چه کله
یوسفؑ کمرے ته
راوستو نو صنم په
بت شا دروپوښو
او یوسفؑ ورته
او وے چه ته د
جماد نه شرمیږے
نو زهٔ هم دخپل
مولیٰ نه شرمیږم۔
...
مسوق له۔

ارهاص د يوسف عليه السلام دے۔ يعنى خوارق قبل النبوة (تهانوى)
يا قاضى دے او هغه ته ثبوت د برأت د پلے وجے نه معلوم وه
دا صرف تسلى ده ۔ (عثمانى وشيخ)
قد شغفها حبا ۔ ۳۰ ۔ اى دخل شغاف قلبها حبه ۔ نو حبا
تميز محول عن الفاعل دے ۔ يعنى ننوتے وه د يوسف محبت په
پرده د زړه د دے كښے ۔
فلما سمعت بمكرهن ۔ ۳۱ ۔ د غيبت نه تعبير په مكر سره او شو
او مكر وائى تدبير خفيه ته ۔ ځكه چه مقصود د د دوى د دے الزام
نه دا وه چه د راعيل په زړه د ده نه پوره ته شى نو مونږ ته به ئے واخلو۔
وقطعن ايديهن ۔ دا محبت د مخلوق دے نو محبت د خالق به
څومره لوئ وى ۔ بيت (ارشاد حسين بريلى)
بے دوست زندگانى ذوقى چنان ندارد ذوقى چنان ندارد بے دوست زندگانى
په دے غلبے د محبت كښے بعض مجذوبان خان مړكړے دے ۔
ليكونا تنوين په اصل كښے نون تاكيد دے دا كتابت شاذه عثمانيه دے۔
حاش لله (۱) اى سبحان الله كلمه د تعجب ده (عام)
حاش يوسف المعصية لاجل الله تعالى اى تنحا عنها لخوف الله
تعالى (مبرد)
لمتننى فيه ۔ ۳۲ ۔ په مراد د ده كښے نه چه په محبت د ده كښے
ځكه چه محبت امر اختيارى نه دے (تلخيص)
اصب اليهن ۔ ۳۳ ۔ په مقتضا د طبيعت سره ورنه پيغمبران
خو معصوم وى ۔ نبى عليه الصلوة والسلام فرمائى زما شيطان
مسلمان شوے دے يا تے زه بچ شوے يم (مشكوة ص۱۸)
يسجننه حتى حين ۔ ۳۵ ۔ د جيل كولو نه د عزيز مقصد دا وه
چه يوسف عليه السلام د راعيل د ستر ګو نه پناه شى نو دا به تے نه
صبر شى ۔ او د راعيل مقصد دا وه چه د ے او يريږى نو زما لاس ته به

له معنى د ارهاص د پيغمبر نه چه مخكښ د پيغمبرۍ نه خوارق ظاهر شى دے ته ارهاص وائى ۱۲
(۱) الهوى محبت
(۲) العلاقة الحب اللازم
(۳) كلف هو شدة الحب
(۴) العشق هو الحب الفاضل عن القدر
(۵) الشغف هو احراق القلب مع اللذة ۱۲

الغيا سيدها
(۶) سيد په قبطى ژبه كښے شوهر ته وائى او په عربى كښے مشر ته وائى لغات القرآن

راشی۔ او د یوسفؑ مقصد داوه چه د زندانیانو د قریب شو ښځی۔

ودخل معه السجن فتیان۔ ۳۶۔ یو زندانیانو نوم مجلب وه۔ او بل[۲] شرابی نوم بیوص وه۔ په دوی د پوروټ شوے وه چه دوی بادشاه ته زهر اچولی دی۔ بادشاه د دواړو ته تلاش اوکړو زندانیانو د خپلے روټۍ نه خفه نه شوه خو وړے۔ او شرابی د شرابو نه کوټ اوکړو۔ نو بادشاه ته د شرابی صفائی او د زندانیانو غدر معلوم شو۔ خو د مزید تحقیق د پاره ئے دواړه جیل ته اولیږل۔ دواړو خوابونه اولیدل په جیل کښے او یوسف علیه السلام ته ئے بیان اوکړو۔ نو ځکه د دعوت موقع پیاموندہ۔ او د توحید بیان ئے ورته مخکښے اوکړو د تعبیر نه۔ مطالبه اوکړه د یوسف علیه السلام نه نو ځکه اووے۔

قال لا یأتیکما طعام ترزقٰنه الا نبأتکما بتأویله قبل الخ۔ ۳۷۔

(۱) اووے یوسفؑ چه راته نشی تاسو ته طعام چه خوره وے کیږی پتاسو په خواب کښے مګر زه به تاسو خبر کړم په تعبیر د هغه په ویښه مثلاً د پیو دا تعبیر دے وغیره (جلالین) یعنی زه تعبیر د رکولے شم (۲) کوم طعام چه راځی تو د دا تلو مخکښے زه به تاسو ته وایم۔ چه ته فلانکی طعام را روان دے بطور معجزه۔ یعنی تاسو څه نه تیوس څه کړے دے زه به ئے جواب درکم۔ (تهانوی)

(۳) د غرمے د طعام نه به مخکښے تاسو ته تعبیر اوکړم بے فکره اوسئ خو د تعبیر نه مخکښے ضروری خبره وا ورئ یعنی د توحید مسئله ئے ورته اوکړه۔ (عثمانی)

علوم د نبوة د ظاهر ولوښو دے او علوم د ولایت د پټو لو شئ دے (غریب)

ما تعبدون من دونه الا اسماء سمیتموها انتم وآباؤکم الخ ۴۰۔

یعنی چا ته مشکل کشا او چا ته د غنا خونو والا او چا ته د سند بہ والا او چا ته د دردو نو ۔ اله ۔ او چا ته دیګی والا ۔ دے خلاف

له ص ۴۰ اسماء کاذبة باطلة لا مسمّی لها فی الحقیقة کمن سمی قشور البصل لحما واکلها فیقال ما اکلت من اللحم الا الاسم لا لاسماء ۳ ابن قیم ص ۲۱۶

صیغہ دلیل نشتہ۔

اذکرنی۔ ۴۲۔ "ما یادکہ بادشاہ تہ چہ بے گناہ یم (عام)

(۲) یا دہ کوہ مسئلہ ما یعنی دَ تو حید دعوۃ ودکہ بادشاہ تہ (ترجمان)

قال تزرعون سبع سنین دابا۔ ۴۷۔ دا تعبیر دَ خہ پوخوا کالو

دے۔ فما حصدتم فذروہ داتدبیر دَ قحط سالئ دے۔

ثم یاتی من بعد ذلک سبع شداد۔ ۴۸۔ دا تعبیر دَ خوارو

غوا کالو دے۔ ثم یاتی من بعد ذلک عام الخ۔ ۴۹) دا تبشیر دے

(عثمانی)

فلما جاءہ الرسول قال ارجع الی ربک۔ ۵۰۔

قال رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم رحم اللہ لوطا لقد اوی الی

رکن شدید ولو لبثت فی السجن مالبث یوسف ؑ ثم اتانی الداعی

لاجبت (بخاری)

دا دَ رسول علیہ السلام تواضع دہ

قالت امرأۃ العزیز الآن حصحص الحق الخ۔ ۵۱۔

مخکینے دَ راعیل عشق حب دَ کمال تہ نہ وہ رسیدلے نو مخکا اقرار

ئے او نہ کہ او دَ معشوق ایذائے برداشت کرہ او اوس ئے

عشق درجے دَ کمال تہ رسیدلے وہ نو پروائے او نہ لرلہ دَ خپل

شرم (ابوالکلام)

ذلک لیعلم انی لم اخنہ بالغیب۔ ۵۲۔

(۱) دا اقرار دے او کوہ چہ عزیز معلومہ کڑی چہ ما خیانت نہ

دے کڑے پسے شا۔ یعنی راعیل وئے چہ صرف مطالبہ ما کڑے دہ

نورہیس۔ (ابن تیمہ)

(۲) یا چہ معلومہ کڑی یوسف ؑ چہ ما دَ ھغہ بد خواھی نہ دہ کڑے

الخ (ابوالحیان)

چہ دے دواڑو تقدیرو دا قول دَ راعیل دے۔ خو پہ اول

توجیہ کبنے ضمیر منصوب۔ دَ لم اخنہ۔ عزیز تہ راجع دے۔ او

په دویم تقدیر کښې یوسف ته راجع دے۔

(۳) قال یوسف ذلک اتثبت مع ما تلاه من القصة اجمع فهومن کلام یوسف ذهب الیه غیر واحد (روح)

ان النفس الامارة بالسوء - ۵۳ - ای ان النفس البشریة التی نفسی من جملتها فی حد ذاته (روح)

قال اجعلنی علی خزآئن الارض - ۵۵ - چه د خدمت اسلام موقع ورته ملاؤ شی (ابوالکلام)

چه د سړی یقین وی چه زه دا خدمت کولے شم او بل څوک بهٔ سرته او نهٔ رسوی نو دغه منصب اغستل پکار دی۔ ورنه پریښودل پکار دی۔ منصب شرعی پښان د لقطے دے نو اما م صاحبؒ ځکه تے نه انکار کړے چه نور خلق لایق موجود وهٔ۔ په خلاف د زمانے د امام یوسف صاحبؒ نهٔ نو ځکه هغه منصب قبول کړو۔

وهم لهٔ منکرون - ۵۸ - لانه فی مقام عالٍ - نهٔ پیژندو یوسف۔

ولما جهزهم بجهازهم - ۵۹ - یوسف علیه السلام هر مسافر ته یو بار غله ورکوله - نو هر کله چه برادرانِ یوسف د هغه مهربانئ او لیدے نو درخواست ئے اوکړو د غائب ورور د حصے - نو جواب ورته ملاؤ شه چه ورور راولئ۔ ورنه به درو غو د یخے شه به بیا دلته څما قلمرو ته نه راځئ (عثمانی)

فائده:- کیل په دے قصه کښے مستعمل دے په معنی (۱) د اوګی (۲) غلے - (۳) بار - (۴) جوک - (۵) سره

لعلهم یرجعون - ۶۲ - چه څما مهربانی او وینی نو چه دا حرام او نکړی دوباره به راوړی دا غله

ذلک کیل یسیر - ۶۵ - (۱) دا مونږه چه راوړے ده غله کمه ده (۲) دا یو بارغله کمه غله ده نو استفهام په کښے مقدر دے

مجاهد وائی چه بعیر په عبرانئ کښے بار وړونکی چا بور ته وائی (لغات القرآن)

لہ نفس لوامه (قیامت) نفس مطمئنه (فجر ۲۷)

علیه السلام په هغه پیژندو به کما قیل

وطن ته

چه داحرام او نکړی ۱۲

وقال یٰبنیّ لا تد خلوا الخ۔ برادران یوسفؑ پلار ته قصه اوکړه - چه وزیر مصر څومره ډیر قدر اوکړو او بیا یې واپسۍ کښې څه سړی مونږ ته کښل - نو یعقوب د نظر بد نه اویریده نو ځکه یې دا ته بیرا اوخوده - چه په مختلف دروازو ورننوځئ د نظر بد نه بچ شئ

قال صلی الله علیه وسلم العین حق ولو کان شیٔ سابق القدر لسبقته العین واذا استغسلتم فاغسلوا (مسلم)

د غسل طریقه :- لاس او خوله او خپې او زنګنونه په اوبو وینځي او مستعمله اوبه په جمع کړي او بیا مریض چه نظر پرې لګیدلې وي وابه چوي (مرقات)

او چه د چا خطره اوشي د نظر لګیدو نو خپل نوکر ته اووایي بارک الله فیک - او بد نظر چه اولګي د چا نو هغه دې استغفار اووايي ځکه چه نظر بد د فاسق لګي - او د نیکانو نظر نیک لګي - یعنی سړے دے راغب شي نیکۍ ته - او فخر په نظر لګیدو خطرناک شے دے -

وانه لذو علم لما علمناه - ۶۸ - چه تدبیر او توکل دواړه ئې اوکړه - بیت -

گفت پیغمبر به آواز بلند   باتوکل زانوئے اشتر به بند (رومی)

انکم لسارقون - ۷۰ - که دا آواز د یوسفؑ په حکم شوے وي نو په کښې توریه ده چه مخکښې تاسو غلا کړیده - او که نوکرانو د ځانه آواز کړے وي نو بیا څه اشکال نشته -

فهو جزاؤه - ۷۵ - یو کال د مالک غلام کیده -

فی دین الملک - ۷۶ - الضرب - وتغریم مثلی المسروق -

کدنا لیوسف - ثبوت حیله محموده چه په کښې د انسان حق نه ضائع کیږي - لکه چه نبي علیه الصلوٰة والسلام اووے چه خراب خرما کانې خرڅ کړے ارزانې او اعلیٰ خرما کانې دا خلئ

لے یعنی مخکښې غلا مراد ده چه یوسف علیه السلام لے د پلار نه پټ کړے وو ۱۲ ۱۲ ۱۲

لے مشکوٰة ص ۲۲۵ عن ابی هریرةؓ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ ۱۲

۱۰ او وویل پیغمبر په آواز بلند سره اېږه توکل سره ګونډه د اوښ اوتړه۔

کمرنے ۔ او منزابے خرما کانے چیرے او اعلیٰ منہا کانے لبزے مہ بد لوے ویٔ دوئ)

ان یسرق فقد سرق اخ لہ من قبل ۔ ۷۷ ۔ جزا لحذف دہ ای فلا عجب (فوز الکبیر) (۱) دوی دروغ اووے (شیخ) یوسف ع دتر ور سرہ دہ ۔ نو یعقوب علیہ السلام تے شہ واپس کا وہ نو ھغے د یوسف علیہ السلام پہ ملا باندے د پلار کمر بند او تاڑہ او بیائے پہ د غلا تہمت د مسارہ د لود پارہ جوڑ کہ نو دوی دغے غلا تہ اشارہ وکڑہ (جامیؒ)

ومن قبل (۸) خبر مقدم ۔ ما فرطتم فی یوسف ۔ مبتدا مؤخرہ او یحکم اللہ ۔ بالالہام (۱) (شیخ) (۲) او بالموت او (۳) بالالجاء (عثمانی)

وما شہدنا الا بما علمنا وما کنا للغیب حافظین ۔ ۸۱ ۔

(۱) بیان د مسئلے مونږ د خپل علم سرہ موافق کڑیدی ۔ او ش دو خبر چہ غلا ز مونږ ہ رور کڑے وہ ۔ ورنہ مونږ بہ دغہ مسئلہ ش وے بیان کڑے ۔

(۲) لتا سرہ عہد د را وستو د رور مونږ کڑے وہ موافق د علم خپل سرہ ۔ او ش وؤ خبر چہ رور بہ غلا کوی ۔

(۳) د غلا تہمت مونږہ پہ ھغہ د علم خپل سرہ موافق لږہ وے دے او د غیب ش نہ یو غیب خبر چہ غلا چا کڑے دہ ۔

واسئل القریۃ ۔ ۸۲ ۔ ای اھل القریۃ مجاز بالحذف فی ذکر (تلخیص)

قال بل سولت لکم انفسکم امرا ۔ ۸۳ ۔ چہ دو مرہ ھم او ش وے تاسو چہ د اوکی د ا وتو ش پہ بارہ د رور حمونږہ کښے ځ ۔ ۔ معلومہ شوہ چہ دۀ غلا کڑے دہ بل چا بہ دا ایخے وی بلکہ تاسو خۀ تائید د غلا او کڑ (عثمانی)

انما اشکو بثی وحزنی الی اللہ ۔ ۸۶ ۔ البث اشد الحزن ۔ د غم ہغہ وخت دا وئیل طاقچہ ب دی خو پہ بث سرہ بہ ذھنی اشارہ کوی خپل غم تہ (غرہیب)

وابیضت عیناہ ۔ ای ضعف بصرہ او محمول علی الحقیقۃ

حسن ثنائی نے عطاءاللہ شاہ بخاری سے پوچھا کہ برادران یوسفؑ نے یوسف کو سجدہ کیا ہے یعنی سجدہ غیراللہ تو جائز ہے، امیر شریعت نے کہا حسن ثنائی یوسفؑ کے بھائیوں نے پہلے کون سے اچھے کام کئے تھے جو یہ اچھا کام کیا۔ (عطاء اللہ شاہ بخاری) یعنی برادران یوسف کے سجدے سے جواز معلوم نہیں ہوتا۔

لجواز ذلك على الانبيآء بعد التبليغ (جمل)

قالوا ءانك لانت يوسف -۹۰- اوس ئے ستر پدے پوره وتاکرے نو اوئے پیجند ه (رشیدؒ) وهذا فی ذكره لتعريف لنفسه (خازن).

يأت بصيرا -۹۳- په وحئ سره ئے معلومه کړے وه (رشیدؒ)

لولآ ان تفندون - کہ ما تہ بے عقل نه وائی -

انك لفی ضلالك القديم -۹۵- یعنی داستا وهمی ادراک دے -

سوف استغفر لكم ربی -۹۸- (۱) د یوسفؑ نه د بخنے غوختو ته ئے صبر اوکړ (۲) یا وقت قا ضله ته (عثمانی) -

وخروا له سجدا -۱۰۰- [1] داسجده ئے تعظیمی وه چه په شریعت اویانو کښے جائزه وه - هذا تاويل رؤياى - په دے کښے مراعات النظير دے - یعنی سرکندښت د یوسفؑ په خواب شروع شه او په تعبیر ختم شو - (ابوالکلام)

وجآء بكم من البدو - خکه نشر د توحید د مرکزنه کیږی (رشیدؒ)

من بعد ان نزغ الشيطن بينى وبين اخوتی - یعنی دا د ورونړو گناه نه دے بلکه د شیطان گناه دے - لکه یو سړے تا صدا اولیږی بد چا پسے د کښلو د پاره - نو گناه د لیږونکی دے نه ده قاصد - دا د خدائے تعالیٰ د دوستانو فهراست دے - بیت -

۱۔ شنیدم کہ مردان راہ خدا　دل دشمنان ہم نہ کردند تنگ

۲۔ ترا کی میسر شود این مقام　کہ با دوستانت خلافست و جنگ (سعدیؒ)

توفنی مسلما -۱۰۱- یعنی چه کوم وخت م وفات کوے - نه چه اوس م وفات کړ - چه تعارض ئے راشی د قول د نبی علیه الصلوة والسلام سره چه لا يتمنين احدكم الموت لضر نزل به -

مسئله :- د دنیوی تکلیف د وجے نه سوال د مرګ غلط دے او د دینی خرابئ د وجے نه سوال د مرګ صحیح دے - لکه چه علی كرم الله وجهه اوولے په فتنه کښے - اللهم خذنی الیك فقد سئمتهم - و

[1] چه سجود ته غیبیدان وکارساز نه وائی - السجدؒ لکه زموږ نبوسلا - قال ؐ لا تسلموا تسليم اليهود ولا النصارٰی فان تسليم اليهود بالكف و تسليم النصارٰی بالاشارة (قرطبی ج ۹ صفحہ ۲۶۶/۱۲)

ما او رید لی دی چه الله والو د دشمنانو زړه هم نه خفه کړی - ۲- تا له به کله دا مقام حاصل شی، چه د دوستانو سره ستا جنګ دے -

سئول۔ او کہ معاملہ مشتبہ وہ نو دا سوال بہ کوی اللھم احینی ما کانت الحیٰوۃ خیرالی و توفنی اذا کانت الوفات خیرالی۔

ذلك من انبآء الغیب نوحیه الیك - ۱۰۲ - (۳) دریمہ دعوہ د ہ یعنی تہ صادق پیغمبر ئے چہ دا سے دَ غیبی خبرو نو ښه خبر یږے۔

وما اکثر الناس ولو حرصت - ۱۰۳ - دا زجر دے معلومہ شوہ چہ نبی صلے اللہ علیہ وسلم دَ مخالفین پہ ایمان حریص وہ۔

وما یؤمن اکثرھم باللّٰہ الا وھم مشرکون - ۱۰۶ - پہ دے کښے قبر پرستی او نذر لغیر اللہ داخل دی۔ او پہ نزد دَ صوفیو التفات غیر اللہ تہ پہ دے کښے ھم داخل دی۔ ومن ھٰؤلآء عبدۃ القبور والناذرون لھا المعتقدون النفع والضرر من اللہ اعلم بحالہ فیھا و ھم الیوم اکثر من الدود۔ (روح)

حتی اذا استیئس الرسل وظنوا انھم قد کذبوا - ۱۱۰ -
دا آیات دَ مشکلات دَ قرآن نہ دے۔ دَ اشکال درے[۳] مواضع دی (۱) متعلق دَ حتی (۲) دَ یئس معنی۔ (۳) وظنوا مرجع۔
(۱) دَ حتی متعلق فتراخا نصرھم دے۔
(۲) دَ یئس دوہ ترجمے دی (۱) یأس دَ ایمان دَ کفارو نہ۔ نہ چہ دَ رحمت دَ باری تعالیٰ نہ۔ یأس دَ خدائے تعالیٰ دَ رحمۃ نہ کفر دے۔ (۲) او کہ دَ خدائے تعالیٰ دَ رحمۃ نہ شی نو یأس[مراد] طبعی غیر ارادی دے۔
پہ دے صیغہ کښے خلوا[۲] حقالہ دی صیغہ[۱] مشد دہ دہ۔ یا مخفف[۲]۔ پہ ھر تقدیر معلوم[۱] دہ یا مجھول[۲]۔ چہ مشد دہ مجھول شی۔ نوع وہ ابن زبیر تپوس او کہ دَ عائشہؓ نہ چہ دا صیغہ کُذِّبُوا دہ یا کُذِبُوا۔ نو کہ کُذِّبُوا شی نو تکذیب دَ کفارو پیغمبرانو لرہ یقینی دے نہ ظنی۔ او کہ کُذِبُوا شی نو دا گمان پیغمبرانو ښکلہ او کہ۔ ھغے ورلرہ جواب ور کړہ۔[۱] دو ستہ شوا مداد تردے پورے چہ نا امیدہ شو پیغمبران دَ ایمان دَ کفارو نہ (یا پہ یأس[۲] طبعی غیر ارادی سرہ چہ عین ایمان دے)

ھوو دے ھم شاید دے تہ رجوع کړے دہ۔

(د لغات) (دَ اشعار و ترجمہ) یوکس تپوس وکړو دَ یعقوبؑ نہ چہ اے بزرگ اصل والہ ولی عاقلہ۔ چہ دَ مصر نہ دَ بوئی دَ قمیص ھوم کړہ نو تا ولے پہ کوھی دَ کنعان کښے او نہ لیدو۔ ھغہ او وے احوال زمونږ پشان دَ برق دی کلہ پیدا او کلہ پټ دی۔ کلہ پہ ډیر لګ بکلہ خیجو او کلہ پہ شا دَ خپو ښنہ وینو۔

اولٰٓ ان او کہ دوی چہ تکذیب بہ خمو نږ او شی دَ جانب دَ اتباع نہ
نو کوم تکذیب چہ قطعی دے چہ دَ جانبہ دَ کفارو دے هغه مرا د
شوے ۔ او کوم چہ مراد دے چہ دَ جانب دَ اتباع نہ دے هغه ظنی
دے (بخاری)
(۲) او کہ صیغه معلومه مشدده شی نو ایقن الرسل ان قومهم کذبوا
(مدارک) او کہ صیغه مخففه مجهوله شی نو نو منم چہ ضمیر دَ ظنوا
پیغمبرانو تہ راجع دے بلکہ راجع اتباع[۳] تہ (مدارک) یا کفار[۴] تہ (بعض)
یا خلقو[۵] تہ (بعض) او کہ راجع شی پیغمبرانو تہ نو دا نہ منم چہ دا کذب
من الله دے بلکہ دَ جانب دَ نفسونو دَ دوی[۶] نہ دے په تعین دَ مُدے
دَ نصرت کبنے (تهانوی) او کہ دَ جانب دَ الله تعالیٰ نہ شی نو دا نہ
منم چہ دا ظن اختیاری دے ۔ بلکہ دا وسوسه[۷] غیر اختیاری ده ۔ (عثمانی)
او کہ ظن اختیاری شی نو دا الزام المخاطب[۸] بما لم یلتزم دے چہ دَ
مخاطب نہ بغیر کار شوے وی او متکلم پے ورله الزام او کی (انور شاه صاحب)
او کہ الزام نہ شی نو په معنی دَ قرب[۹] دے یعنی دَ گمان تہ قریب شو (قرطبی)
او کہ صیغه معلومه مخففه شی نو په کبنے وروستنی اوه[۱۰] احتمالونه دی
نو مجموعه شپاړس[۱۶] احتمالہ شو او هر احتمال سره دَ یأس دوه[۲] احتماله
صحیح کیږی نو مجموعه احتماله دوه دیرش[۳۲] شو ۔
تفصیل کل شئ ۔ ۱۱۱ ۔ دَ هر هغه شی چہ ضروری وی په دین کبنے ۔ نو
کل استغراق عرفی دے لکہ جمع امیر الصاغة ای صاغة مملکته (تلخیص)
یعنی استغراق حقیقی نہ دے ۔ چہ دَ هر شی تفصیل دے په کبنے ۔ او کلا دو
موټرو حکمت تے نه انګریز معلوم کړے دے ۔ دا خبره غلط ده په قرآن
بنی ۴ دیرخه پوهه وه ۔
هدی و رحمة لقوم یؤمنون ۔ بخلاف دَ کفارو نہ چہ دَ هغوی
دَ پاره غضب دے ۔ تائید : ۔ ولیزیدن کثیرا منهم ما انزل الیک من ربک طغیانا
وکفرا ۔ (المائدة : ۶۴) ختم شو سورة یوسف بفضله تعالیٰ ۔ ۴ ۔ ۵ ۔ ۱۴۰۱ھ
یا کریم العفو ستار العیوب انتقام ازما مکش الله در ته توب

۱ے تائید بقره ۲۲
فائدہ: نو کہ حق په ما آرسنا پورے متعلق شی نو اعتقادات به غورو شیتہ شی ۔ منہ

یا عفوه کونکیه پټونکیه دعیبونو بدله خمونږ نه مه اخله په کښ صوغ نبخه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

۱۳- سُوۡرَةِ رَعۡد مَکّی دَه - ۹۶

یدبر الامر ۲ ازدھا نقر نشو سمعہ لعنہ ۱ کالگوید لنقرا حق ۷ رخو ۳ دویمہ

دا راجح ده او چا ویلی دی چه مدنی دے - دَ مضامینو په اعتبار سره مکی معلومیږی - رشیخ رح) قبل رحمٰن[۹۴] و بعد محمدؐ[۹۵] - زمانه دَ نزول ئے دَ مکے معظمے دورِ اخیر دے -

ربط پس دَ دلائلو عقلیو او نقلیو نه ایرا د تنبیهات بر مسئله توحید -

خلاصه تنبیهات عقلیه[۱]، نقلیه[۲]، وحی[۳] - په ابتدا کښے تمهید مع الترغیب په درمیان کښے دَ منونکو او دَ نه منونکو تقابل او په اخیر کښے دَ مشرکانو دَ سوالونو جوابونه دی - نور تبعی مضامین دی -

الله الذی رفع السمٰوٰت الخ - ۲ - تنبیه توحید عقلی (۱) ای خلق کذالك کقوله الحمد لله الذی کبر الفیل وصغر البعوض - بغیر عمد ترونها - عن ابن عباس رض وغیره قالوا لها عمد ولکن لا نری - او هذا دلیل علی کون السمٰوٰت مرفوعة کذالك - فهو کقولك انا بلا سیف ولا رمح ترانی - (روح)

صنوان - ۴ - جوړے جمع دَ صنو ده نو اعراب ئے بالحرکات دے او چه تثنیه شی نو اعراب ئے بالحرف دے -

وان تعجب - ۵ - شکوه ده - الله یعلم ما تحمل الخ - ۸ - تنبیه توصیل عقلی (۲) دویمه دَ غیب دانئ - له معقبات الخ - ۱۱ تا ۱۳ - تخویف دنیوی - ویسبح الرعد بحمده - ۱۳ - دَ رعد آواز چه څوک واوری نو دا دعا به کوی - "سبحان من یسبح الرعد بحمده والملٰئکة من خیفته اللّٰهم لا تهلکنا بعذابك وعافنا قبل ذٰلك" -

۸ لا تقتلنا بغضبك ولا

وهم یجادلون فی الله - یعنی الله تعالیٰ دلسے عجیب کار روښ کوی او دوی سره دَ ذلت نه جګړے کوی په توحید دَ خدائے تعا

کیدے ۔ (ابو سعود)

لله یسجد من فی السمٰوٰت الخ ۔ ۱۵ ۔ تنبیه توحید عقلی (۳) ۔

قل من رب السمٰوٰت ۔ الخ ۔ ۱۶ ۔ تنبیه توحید عقلی علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم ۔ انزل من السماء الخ ۔ تنبیه توحید عقلی (۵) په دے کښے د معبود باطل او د معبود حق مثال دے ۔

ومما یوقدون علیه فی النار ۔ ۱۷ ۔ او د هغه شی نه چه گرموی ئے په اور کښے ای یفعلون الایقاد کائنا فی النار ۔ داخبر مقدم دے او زبد مثله ئے مبتدا مؤخره ده ۔

اولم یروا انا نأتی الارض الخ ۔ ۴۱ ۔ مراد نشر د اسلام دے ځکه چه سورة مکی دے فتوحات لا نه دے شروع ۔ (شیخ)

یمحوا الله ما یشاء ویثبت ۔ الخ ۔ ۳۹ ۔ ۴۰ ۔ دا قضا معلقه ده په دے کښے تغیر کیدی او په قضا مبرمه کښے تغیر نه کیدی ۔ د بعض نه روایت دے چه زه په قضا مبرمه کښے تغیر کوم نو دا روایت په تقدیر د صحت سره مأول دے یعنی مراد د مبرم ی نه مبرم عند الملائك دے ، نه مبرم عند الله نو دا مبرمه په حقیقت کښے معلقه عند الله ده ۔ والله اعلم (مولنا عبد الغفور صاحب)

(تمام شو سورة رعد بفضله تعالیٰ)

خدایا بعزت کہ خوارم مکن ۔ بذل گناه شرمسارم مکن

اے خدایه خپل عزت ته اوګوره او مونږه ذلیل اونه کړه ، په ذلت د ګناه مونږه مه شرموه ۔

قالؐ لا یرد القضاء الا الدعاء ولا یزید فی العمر الا البر ۔ (مشکوٰة ص۱۹۵)

ولو ان قرانا سیرت الخ (۳۱) (۱) که یو قرآن محکښے داسے وی چه الوزولے شوے په هغه غرونه او ټکړے ټکړے کیدے شو په هغه زمکه او خبرے کولے شوے په هغه سره مړو نو دا قرآن بعضرور دا دے وے لیکن محکښے کتابونه خو د هدایت د پاره وو نه ولو طار ذوحام قبلها لطارت ولکنه لم یطر (ترجمان القرآن) (۲) که یو داسے قرآن را اولیګو چه غرونه په ائے نو دوی بیا ایمان نه راوړی ۱۲ تا ئید انعام ۱۱ (شیخ) (۳) که یو داسے قرآن دی چه غرونه الا نو هغه ضرور دا قرآن دے چه غرونه چه کفار ئی د د دوی د مخالفت وجه نه ختم شو او زمکه نه ټکړے ټکړے شوه او ایمان پکښے داخل شو او مړه کافر چه ژوندی شو او خبرے ئے کړے (ښکلے) ویا شو پخی با ندی (عثمانی)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

۱۴-سُوۡرَةُ اِبۡرٰهِیۡمَ مَکِّیّ دَے-۲۷

****

قبل الانبیاءؑ وبعد نوحؑ- زمانهٔ نزول دَمکی معظمے دوراخیر دے-

ربط دَتنبیهات نه بعد بیان وقائع دنیوییه واخرویه-

خلاصه دلائل عقلیه - دلیل نقلی اجمالی - دلیل نقلی تفصیلی دَ ابراهیمؑ نه - مجموعهٔ دلائل دی-

امور دفیعه عذاب په ابتداکښې ارشاد دے چه وقائع بیان که چه خلق دَظلمات نه نور ته راوګی - لکه چه مخکښې پیغمبرانو وقائع بیانول- په درمیان کښې بیان دوقائع دنیوی واخروی دے- او په آخر کښې دعوهٔ توحید ده-

وذکرهم بایام الله - ۵- یعنی وقائع مراد دی ایام العرب ای حروبها- ۵ - بیت-

ایامنا مشهورة فی عدونا لها غرر معلومة و حجول (حماسه)

لئن شکرتم لأزیدنکم -۷- (بیت)

شکر نعمت نعمتت افزون کند کفر نعمت از کفت بیرون کند (رومی)

فردوا ایدیهم فی افواههم - ۹- (۱) واپس کړه وکافرو لاسونه خپل په خلو خپلو بانډې یعنی اشاره ئے وکړه پیغمبرانو ته چه بس کړے ږیانونه-

(۲) واپس کړه لاسونه خپل په خولو دَپیغمبرانو بانډې دا دَپیر توهین دے (۳) واپس کړه لاسونه دَپیغمبرانو په خولو دَ دوی بانډې دا بیان دَپیر زیات توهین دے-

(۴) واپس کړه لاسونه دَپیغمبرانو په خولو خپلو بانډې دا احتمال عقلی غیر جائز دے (عثمانی)

قالوا لوحدنا الله (۳) لا دَم موښږ ته الله تعالیٰ خونه کړے وے یعنیا کښې نوموښږ به تاسو ته کړے وے خوموښږ ګمراه وو او تاسو ته هم ګمراهي خورله تائیدر قصص (۲) که موښږ ته الله تعالیٰ لا رو ښودله وے نو تاسو ته هم راښودله وے نو نو موښږ به تاسو ته خورلے وے نو موښږه تاسو ته نه شو ویستے تو تاسو خکله اورباسو تائید لهم مؤمن ع۳ شکر دنعمت نعمت زیاتوی، او کفر دَنعمت نعمت دَ لاسه اوباسی-

الم تر کیف ضرب الله مثلا الخ - ۲۴ - دلیل توحید نقلی از انبیاء
یعنی توحید تولو انبیاؤ مضبوط کہے دے - او شرک ئے ختم کړے دے۔

شجر	۱ زمکہ	۲ ذیلہ	۳ ویخ	۴ خاخ	۵ ثمرہ
ایمان	زړه	تصدیق	اقرار	عمل	ثواب

احلوا قومهم دار البوار جهنم - ۲۸ - (ربیت)
اذا کان الغراب رئیس قوم — سیهدیهم الی قذر و جیف
واتٰکم من کل ما سألتموه - ۳۴ - یعنی درکوئے شی -
واذ قال ابرٰهیم رب اجعل هذا البلد امنا - ۳۵ -
دلیل نقلی دَ ابراهیم علیه السلام یعنی ابراهیم علیه السلام دَ
شرک نه ډیرگ کید و دعا کانے کړی دی - رد دَ شرک نوعے شے شوے
داسوال هله دے چه دا بلد جوړ وه - او رب اجعل هذا بلدا (ترجمه)
هله وه چه دا بلد لا جوړ نه وه -

قصه ابراهیم اُر علاقه عراق کښے پیدا شو - دَ نمرود دَ اور نه
چه راووت نوحرے ته لاړ - هلته دَ ده تره هاران
رئیس وه هغه ورلوه خپله لورساره ورکړه چه ابراهیم واپس
شی دَ اسلام نه نوساره مسلمانه شوه په دے شرط چه ابراهیم به
دَ دے خبره منی نوهاران دوی دَ خپل کورنه بے عزته بهر کړه
مصر ته راغله هلته بد فعله بادشاه وه چه دَ حسینو زنانه دَ
خاوند به ئے قتل کولو - نو دَه توریه وکړه چه دا مُحا خورده یعنی
مسلمانه دَ تره لوره ده نو ساره بی بی هغه بوتله او ابراهیم
په غاړه او دریده - هغه ظالم به چه دے ته دست اندازی کوله
نو غُوټه به پرے راتله - نو هغه هاجره بی بی دے لره ورکړه
او رخصت ئے کړه - نو ابراهیم علیه السلام خوشحاله شو - چه

الا ان وعدنا ۲۲ - استثنا او منقطع

یہ فرعون کی بیٹی تھی جب فرعون نے ابراہیم کو دیکھا تو کہا کہ میری بیٹی اس کی خادمہ بن جائے ... سلیمان ندوی

مصر کښې ابراهیم علیه السلام څه دعوت نه دے کړے - روان شوشام
د هلته د دعوت تاثیر اوکړه او مالِ هم جمع شو - او هاجره بی بی سره
ئې نکاح اوکړه - نو اسمٰعیل علیه السلام پیدا شو نو سارے بی بی ورته
اووے چه دا دواړه خوشی میدان کښے پریږده - نو د باری تعالیٰ په
حکم ئې دواړه را وسته او د بیت الله په ښنګ کښې ئې دواړه پریښوده
د بیت الله صرف میدان وه او آبادی نه وه - ابراهیم علیه السلام
دیته توښه او به پریښو دے او دے روان شو نو دے ورته اووے
چه ته د باری تعالیٰ په حکم سره مونږه دلته پریږدے - نو
ده اووے چه او - نو دے اووے "اذا لا یضیعنا" نو چه کله ئې
او به او توښه د هر ماکا نو ختم شوه نو د دے پې اوچ شو
نو دا لاړه د اوبو په تلاش کښې صفا ته او مروه ته به ختله
او په منځ کښې به ئې منډه وهله چه بچے زړاو وینې - د غه کار
اوس د حاجیا نو عبادت دے په اووم ځل په مروه با ندے
دے ځه آواز واوریده نو د زمزم اوبه بنکاره شوے
نو دے جمع کړے ورنه نو دا به جاری ولے وے - د جرهم
قبیله راغله دلته د اوبو د وجے نه آباده شوه نو اسمٰعیل علیه
السلام چه لوئے شو نو د دغه قبیلے د جینئ سره ئې نکاح اوکړه
ابراهیم علیه السلام راغے او اسمٰعیل علیه السلام نه وُه -
د دغه بی بی نه ئې تپوس اوکړو نو هغے د خپل حال تکلیف بیان کړو
نو ابراهیم علیه السلام اووے چه خاوند ته دے زما سلام وایه
او دا ورته او وایه چه د خپل کور درشل دے بدل کړی - نو
اسمٰعیل علیه السلام دغه جینئ رخصت کړه او بله جینئ ئې نکاح
کړه - بیا ابراهیم علیه السلام راغے - نو دے جینئ د خپل حال
ډیر کمال بیان کړو - نو ابراهیم علیه السلام ورته اووے چه خاوند
ته دے زما سلام وایه او ورته وایه چه د کور درشل دے ښه دی -

شعم وجعل بالمدینة ما جعلت بمکة من البرکة (مشکوٰة ص۲۴۰)

تزوج اسمٰعیل برعلة بنت مضاض الجرهمی وله عشرین سنة

دریم ځل چه ابراهیم علیه السلام راغی نو اسمعیل علیه السلام
لا ښه ورځه دتیلو نو دوی ملاقی شو۔ او په شام کښې د ساره بی بی ځوی
اسحٰق ۴ هم شوے وه نو هغه ده ته د حصاریه واذن کړے
وو۔ نو د بیت الله شریف تعمیر دوی اوکړ۔

فائده:۔ د ذبح واقعه هم په دے دوران کښے شوے ده۔ چه
ابراهیم علیه السلام به په براق سحر مکی معظمے ته راتلو بطور
معجزه بیا به واپس کیده شام ته۔ رواه ابوجهیم بروایة حسنة
(فتح البارى)

ختم شو سورة ابراهيم بفضله تعالیٰ
(۱۱ - ۵ - ۱۴۰۱ هـ)

۱۔ ظالم و ترسم که او باور کند   وازترحم جور را کمتر کند

۱۔ ظالم او بیریږم چه صفة به باور وکړی، حماد ترس او وغم نه به جور کم کړی۔
الم تر الی الذین بدلوا نعمت الله کفرا واحلوا قومهم دار البوار۔ ۲۸
حدثنا عمرو عن عطاء عن ابن عباس هم قریش ومحمد نعمة الله
دار البوار النار یوم بدر۔ (البدایه والنهایه۔ ج ۳ ص ۲۹۵)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۱۵- سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ دَه ۔ ۵۴

قبل الانعام ۵۵ و بعد یوسف ۵۳ - زمانهٔ نزول ئې دورا خیر دَمکی معظمې دَ

ربط دَ دوهره بیانات نه بعد که بیا هم نهٔ منی نو یو وخت داروان دے چه نادم به شی په کښې -

خلاصه دلائل عقلیه - نمونې (۲) دَ تباه شده وو قومونو - (۵) دَرې (۳) دَ مخکینو امتونو او دوه (۲) دَ دے امت - دیته اشاره ده په الکتاب و قرآن مبین سره په ابتدا کښې تمهید مع الترغیب دے - په درمیان کښې اعلان دے چه دَ ابلیس خبره مه منئ ځکه چه ستاسو ابائی دشمن دے - او دَ پیغمبر خبره او منئ ځکه چه ستاسو خیرخواه دے په آخر کښې تسلی ده نبی کریم صلے الله علیه وسلم له - دوه (۲) واره باقی تبعی مضامین دی -

ربما یود الذین کفروا الخ - ۲- رُبَّ دَ پاره دَ تکثیر دے رشیخؒ او که دَ پاره دَ تقلیل شی نو وجه ئې داده چه کافر به بے هوش وی نو چه کله په خودشی نو تمنا به او کړی -(تفتازانی)

لَو - مصدریه دے -

لقالوا انما سکرت ابصارنا -الخ - ۱۵- سحر دا دے چه په یو شی باندې جادو او کړے شی نو هر چا ته مار وغیره معلومیدی - او نظر بندی داده چه په حاضرینو جادو او کړے شی نو نورو خلقو ته بیا دغه شے سم ښکاری (شیخؒ)

ولقد علمنا المستقدمین منکم - الخ - ۲۴-

(المستقدمین الخ په ص۲۱۴ اؤکوره)

۹م (۰ص) رجا و نوۀ ... و د موت کښی رجا غالب کړی و
حدیث مشکوٰۃ ص۲۵۸

	المستقدمین	المتأخرین	
(۱)	من خلق الله تعالیٰ -	من لم یخلق الله تعالیٰ -	(ابن عباسؓ)
(۲)	قرون ماضیه -	امت محمدیه -	(مجاهدؒ)
(۳)	فی الطاعة -	عن الطاعة -	(حسنؒ)
(۴)	المصلین فی الوقت الاول الکامل	فی آخر الوقت -	(اوزاعیؒ)
(۵)	فی صف القتال -	عن صف القتال -	(مقاتلؒ)
(۶)	الی الصف الاول فی الصلوٰة -	عن الصف الاول -	(ابن عباسؓ)

فلو یعلم الکافر بکل الذی عند الله من الرحمة لم ییأس من الجنة ولو یعلم المؤمن بکل الذی عند الله من العذاب لم یأمن من النار. بخاری ص۹۵۸ ج۲

واخفض جناحك الخ - ۸۸ - تشبیه د داعی د طائر سره - استعاره بالکنایه ده - او جناح ورلره ثابتول تخییلیه ده او خفض ثابتول ترشیحیه ده - (بلاغت)

کما انزلنا علی المقتسمین الذین جعلوا القراٰن عضین - ۹۰ - ۹۱ -

خلورمه نمونه ده د تباه شده قومونو - ای نزل علیهم العذاب

کما انزلنا الخ - دا د ولس کسان وو چه کوڅې د مکې معظمې ئې تقسیم کړې وې - د هرې کوڅې په سر به یو کافر ناست وو - د نبی علیه الصلوٰة والسلام او د قراٰن شبه ئې د بهر نه راتلونکی خلق توری کول او ویل به ئې چه دا قراٰن کهانت دے یا سحر دے یا شعر دے یا دروغ دی وغیره - او نبی علیه الصلوٰة والسلام ته به ئې شاعر وغیره ویل - دوی په آفت سماوی سره هلاک شوی وو - نو موجوده کافرو ته باری تعالیٰ فرمائی چه تاسو هم دغسې هلاک شئ که د کفر نه نه بس کوئ - (شیخؒ)

(۲) ورکړی مونږ درته تا له قراٰن عظیم لکه چه مونږ نازل کړی وه کتاب په تقسیم کونکو باندې چه دوی کړی وو دے قراٰن ټکړې ټکړې - بعض ئې چه د دوی د خواهش سره موافق وی او بعض ئې چه مخالف وی د دوی د خواهش نه - تائید: تجعلونه

انی انا الغفور ۴۹م۔ حمد بے حد مر خدائے پاک را کہ آنکہ ایمان داد مشت خاک را۔ ان خداوند کہ حکم سحر کرد قوم لوط را زیر و زبر۔ بعد سوگر بر ۲۸۵ کشد تیغ حکم و ہمانند کرد بیابان صم و بکم۔ اگر یک صدائے کرم بر زند۔ از نزول گوید نسیحہ برم۔ بے حد و عدد مولا درہ چہ ایمان دے ورکوہ موتی تاوہ لو۔ (۳) صفر شہ چہ وخت دسحر کیئے کرہ قوم لوط دروا وندے بانسہ۔ (۳) کر پہ غیبی سو را او باسی تیغ دحکم نو پاتے بہ شی متوب صلاتگ کا نرہ بوز چلا اگان۔ (۴) او کہ آوازہ انعام وکری فو عزنزلہ بہ او وائی چہ خصہ بہ وبیم

فرا طیس تبدونها وتخفون کثیرا (انعام: ۹۱) عثمانی۔

(۳) لله چه م نازل کړے دے کتاب په قسم کونکو بانډې په عداوت د پیغمبر خپل بانډې چاکره خوله ئے دے خپل کتاب ټکړے ټکړے

بعض منی او بعض نه منی۔ تائید: قالوا تقاسموا بالله لنبیتنه واهله ثم لنقولن لولیه ما شهدنا مهلک اهله وانا لصادقون (نمل: ۴۹) عثمانی۔

فائده :- د قرآن اطلاق په کتب سابقو کیږی۔ تائید: کان (داؤد) یامر بدوابه فتسرج فیقرأ القرآن قبل ان تسرج (مشکوة ص۵۰۰) غریب۔

انا کفینٰک المستهزئین۔ ۹۵۔ دا پنځمه نمونه ده د تباه شده قومونو۔ دا پنځه کسان دی روستو هلاک شوی وو (۱) عاص بن وائل (۲) اسود بن مطلب (۳) اسود بن عبد یغوث (۴) ولید بن مغیره (۵) حارث بن طلاطله۔ (معارف)

اوله نمونه۔ ۶۱ = دویمه نمونه۔ ۷۸ = دریمه نمونه۔ ۸۰۔

ولقد نعلم انک یضیق صدرک۔ ۹۷۔ تسلی ده۔ یعنی د کفارو په خبر وچه دے سینه تنګه شی نو د توحید بیان له زور ورکه۔ اجتماعی او انفرادی ترمرګه پورے۔ (ربیت)

اندرین راه میتراش و میخراش تادم آخر دمی فارغ مباش (رومی)

نو معلومه شوه چه د مرګه پورے سړے مکلف دے په طاعت چه ذی عقل وی۔ نو دا دعوی غلطه ده چه په کثرت عبادت سره بیا سړے د عبادت نه وزګار شی۔

البته په کثرت عبادت سره عبادت د سړی عادت شی بیا پے نه ځمیږی۔

حاجی امداد الله صاحب رشید احمد ګنګوهی ته اووے چه ما د خپل حال نه خبر که نو حغه ورته اوبیکل چه :-

(۱) امور شرعیه لکه امور طبعیه شوی دی۔

(۲) او مادح او ذام دا ټه برابر دی۔

(۳) او په نصوصو کښې دا ټه تعارض ختم شو ے دے (مولنا طیبؒ)

ختم شو سورة حجر بفضله تعالیٰ

(۱۵ - ۵ - ۱۴۰۱ ھ)

یا رب لك الحمد كما ینبغی لجلال وجهك وعظیم سلطانك۔

تو مگو مارا بدان شاه بار نیست | باکریمان کارها دشوار نیست
یاکریم العفو ستار العیوب | انتقام از ما مکش اندر ذنوب

مسئله تقلید شخصی :۔ عن سعد ابن ابی وقاصؓ عن النبیؐ انّهٗ مسح علی الخفین وان عبد الله بن عمرؓ سأل عمرؓ عن ذالك فقال نعم اذا حدثك شیئًا سعدؓ عن النبیؐ فلا تسال غیرهٗ۔ (بخاری ص۳۳)

ان اهل المدینة سألوا ابن عباسؓ عن امرأة طافت ثم حاضت قال تنفر قالوا لا نأخذ بقولكَ وندع قول زید ابن ثابتؓ۔ (صحیح البخاری)

اجتهاد منشاء اهل العلم اذا لم یوجد نص صریح فی المسئلة یثبت احد احد جانبیها ویبطل الثانی۔ ۲۰ (منهاج المسلم)

قال ابوموسیٰ اشعریؓ لا تسألونی مادام هٰذا الحبر فیکم، یعنی عبدالله ابن مسعودؓ - ۱۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

۱۶- سُوْرَةِ نَحْل مَكِّي دَه ...

✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻✻

قبل نوحؑ دبعد کهف - زمانه نزول دورِ آخیر دَمکّی معظمے

ربط په سبب دَ نه منلو عذاب دَ دنیوی دغه دے راغے نا دَم کید، خو ورکنا ر په قیامت کښے -

خلاصه په دے سورة کښے دوه[۲] حصے دی (۱) په اوله حصه کښے نفی دَ شرک فی التصرف ده - په دے حصه کښے اووه دلائل عقلیه - یو[۱] وحی - یو[۱] نقلی اجمالی دے -

(۲) په دویمه حصه کښے نفی دَ شرک فعلی ده - دَ دواړو حصو نه بعد دلیل نقلی تفصیلی دے دَ ابراهیم علیه السلام نه چه متعلق دے دَ دواړو حصو سره اوبل دلیل وحیٔ دے نو مجموعه یولس[۱۱] دلائل شو -

په ابتدا کښے اشاره ده عذاب دنیوی ته او په درمیان کښے امور دفعیه عذاب دی - او دَ هغوی دَ اعتراضو نو جوابو نه دی او په آخر کښے بطور دتسلّی دَ خلورو هدایا تو ارشاد دے -

نور تبعی مضامین دی -

سُبحانه - ۱- دَ عذاب اوّله[۱] وجه ده یعنی دَ شرک دَ وجے نه عذاب راځی -

ينزل الملٰئكة - ۲- دَ عذاب دویمه[۲] وجه ده - یعنی دَ رسالت نه دَ انکار په وجه عذاب راځی -

والخيل والبغال والحمير لتركبوها وزينة - ۸-

ای تحملو ازینةً - من قبیل علفتها تبنًا وماءً باردًا (رشیخ)

لتركبوا مفعول لهٗ دے او لام ذکر شوے دے چه فا عل

طبقات الفقهاء ۱۲ چه دَ اصول او فروع استخراج کوونکی ... مطلق مجتهدان دی په هغه فروع ستخرج کوونکی
موافق دَ اصول دَ متقدمینو سره لکه امام یوسف صاحب (۲۸۹) وغیره (۳) استخراج د حنفیه ...

دَ مفعول له او دَ فعل معلل یو شے او دَ زینة نه حذف شوید ے لام ځکه چه فاعل دَ دواړو یو دے ۔ (غرایب) احتج بهذه الاٰیة من یری تحریم لحوم الخیل و هو قول ابن عباسؓ وتلا هذه الاٰیة والیه ذهب مالکؒ و ابوحنیفةؒ ۔ (روح) مشکوٰة ص۳۶۰ ، ص۳۶۱

- وسخر لکم اللیل والنهار والشمس والقمر والنجوم مسخرات بامره (۱۲) النضج من الشمس والطعم من القمر واللون من النجوم (کفایه)

(بیت)

باد و مه و خورشید و فلک در کارند ــــــ تا تو نانی بکف آری و بغفلت نخوری

همه از بهر تو سرگشته و فرمانبردار ــــــ شرط انصاف نباشد که تو فرمان نبری (سعدیؒ)

اموات -۲۱- دا اما یا فی الحال یا فی المآل (عثمانی)

فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون - ۴۳ -

دَ دے نه معلوم شو وجوب دَ مطلق تقلید په تقدیر دَ عدم تحقیق سره ۔ دَ تقلید قسمونه دی (۱) شخصی ۔ (۲) غیر شخصی ۔ په تقلید شخصی باندے قائل دی احناف[1] ۔ شوافع[2] ۔ حنابله[3] ۔ مالکیان[4] ۔ او په غیر شخصی باندے قائل دی اهل حدیث ۔ دا پنځه[5] واړه فرقے اهل سنت والجماعت دی ۔ تقلید حقیقی قبول دَ قول دَ غیر دے بلا دلیله ۔ او تقلید حکمی قبول دَ قول دَ غیر دے سره دَ دلیل نه تقلید شخصی بهتر دے ځکه چه په ده کښے انتظام دے ۔ او بل تقلید غیر شخصی کښے تعارض دَ اصول را زی ۔ مثلاً دَ امام شافعیؒ اصل په نماز کښے نقل و حرکت دی ځکه چه دا عبادت بدنی دے نو دے جهر کوی په تسمیه کښے او په اٰمین کښے او رفعه دَ یدین کوی په انتقالات کښے ۔ او دَ امام صاحب اصل سکون دے ځکه چه دا حاضری ده دَ دربار الٰهی ۔ تائید : قوموا لله قانتین (بقره : ۲۳۸) نو حنفیه اخفا کوی په تسمیه او په اٰمین کښے ۔ او رفعه نه کوی نو که یو سړے په تسمیه کښے مذهب دَ امام صاحبؒ او په رفعه دَ

چه پکښے دَ متقدمینو روایت نه وی لکه ابوجعفر او طحاوی وغیره (۴) تفصیل کوونکی دَ مبهم قول دَ مجتهد لکه صاحب هدایه (۵) ترجیح کوونکی دَ بعض قولونو لکه احمد قدوری صاحب وغیره (۶) تمیز کوونکی دَ ضعیف و غیره لکه صاحب دَ وقایة الروایة وغیره ۱۲ (۷) چه صرف مقلدین وی په هغوی اتباع لازمه ده دَ علماؤ هغوی فتوٰی ... او ... په دَ تقل نه لکه روستو فقهاء شو ... البته په تعین دَ بعض مجتهد دَ بعض درجے دَ پاره محل دَ فکر دے خو په مثال باندے پوهه دَ ... دی ۱۲ ۱۲

... صوّلا ذا اللاحق ... الاصاغر الشهرة بغیر المقلدین الذین سموا انفسهم باهل الحدیث ونشأ ما بینهم ...

اهل الحدیث قد شاع فی بلاد الهند وغیرها ۔ اخبار موضوعه لعبد الحیؒ جلد ۲ ... والتقلید محمود دے او بلا وجود الدلیل والتقلید وغیر محمود دے ۔ ... الدلیل او التقلید ... ولله لا تکفروا بغیر الله ۔ شرح عقاید نسفی ۔ صن ۱۳۳ ... اعلام لم یکن لهم ...

په بل مذهب د شافعی صاحب مختار دی نو تعارض رازی په اصولو دوی کښې. نو غیر مقلد چه انتخاب من المذاهب کوی نو په خپلو ادا خرابۍ لازمیږی. او هو فیه جمع بین المذاهب کوی - په دے زمانه کښې تقلید ځکه لازم دے چه د اجتهاد شروط نه شی راتلے.

شروط د اجتهاد دا دی.

(۱) د کوم آیتو نه چه استنباط د احکامو کیږی هغه دے یاد وی لفظاً هم معنیً او معنی لغوی او معنی مراد به ورته معلوم وی. دا پنځه سوه آیات دی.

او د کومو احادیثو نه چه احکام راوځی هغه به ورته هم معلوم وی متناً و سنداً. دا درې زره احادیث دی. په دے زمانه کښې د سند تحقیق مشکل دے بلکه محال دے. چه د راوی نه په ترحضور صلے الله علیه وسلم پورے قول را ویان ورته جرحاً او تعدیلاً معلوم وی او کل موضوعی احادیث به ورته هم یاد وی. دا هم په دے زمانه کښې نه شی کیدے.

امام مالک صاحبؒ او امام صاحبؒ په یوه زمانه کښې وو. او امام شافعی صاحب ورستے دے. امام شافعی صاحبؒ یو دا سے قول نه دے کړے. چه هغه د دواړو اماما نو نه خلاف وی چه خرق الاجتماع لازم شی. او هم دغه سے امام احمد حنبل صاحبؒ دے. انحصار د مذاهب په څلور کښې څو نړه د عقولو نه بالا تر دے مبنی دے په حکمت الٰهی باندې (نور الانوار)

مونږه احنافو چه مذهب د امام صاحبؒ مختار کړے دے نو څو نړه په تتبع سره د امام صاحب مذهب احادیثو او قرآن سره او فق وه نو مونږه ځکه مختار کړ.

انورشاه صاحبؒ فرمائی چه په کوم ځائے کښې امام صاحبؒ منفرد وی. او فتوی فقهاؤ په قول د نورو اماما نو کړے وی. نو په

د سیت سعطت بنظف مستدلاً (؟) ... اتبعت هدهاکم تقلید. تسهیل. حاشیه بخاری ص۱۴۰ ... احل له جمع بین المذاهب او اهل حدیث انتخاب من المذاهب کوی. شاه ولی الله نوطاف ... تفضیل تقلید

شاه صاحب فرمائی په امور تقليدية [illegible] په [illegible] (والاشباه) په موجوده زمانه کښې چه دا څلور اربعو تقليد نه کوی نو صفه فاسق دے . (مجموعة الرسائل)

دغه ځائے کښې ما ته د امام صاحبؒ په مذهب کښې دا يو نکته معلومه شويدی چه دغه اسرار په نورو مذاهبو کښې نه وی - مثلاً امام صاحبؒ وائی چه تکبير وشه د ايام تشريق دے د اختر د عصر پورے وائی - او مفتىٰ به قول دا دے چه تکبير وشه د ديارلسے د عصر پورے وائی دا اختلاف مبنیٰ دے په دوه روايات باندی - په جهر کښې نو اب کنړل به د ايام تشريق نه بدعت دے - نو پس د عصر د عيد نه په يو روايت کښې ثواب دے - او په بل روايت کښې چه حضور صلے الله عليه وسلم جهر د تکبير کړے دے د عصر د عيد پورے - نو دا جهر پس د عيد نه بدعت شو - وما تردد بين بدعة وسنة فيترك نو ځکه امام صاحب په يو روايت د عصر د عيد باندی عمل اوکړو - ما ارق قوله -

وانزلنا اليك الذكر لتبين للناس ما نزل اليهم ولعلهم يتفكرون ٥ ۴۴ - الذکر قرآن - لتبين حديث - لعلهم يتفکرون اجماع وقياس -

فلا تضربوا لله الامثال - ۷۴ - کفار روے چه په دنيا کښې سړے لوئے بادشاه ته رسی په ذريعه د اقارب د هغه سره - په دغه شکل اولياء دی - نو باری تعالیٰ په دوی رد کوی چه دا قياس مع الفارق دے - مخلوق نه دی خبر نو هغه سړے خبروی په ذريعه د سړو او الله تعالیٰ خو خبر دے (عثمانی)

نو امثال جمع د مَثَل شوه - يا مه جوړوئ الله تعالیٰ له مقابل نو امثال جمع د مِثْل شوه - تائيد: فلا تجعلوا لله اندادا (بقره: ۲۲)

ان الله يأمر بالعدل - ۹۰ - ای بالتوحيد - (ابن عباسؓ)

دا امور د فعيه د عذاب دی چه شرک[1] مه کوئ ظلم[2] مه کوئ احسان[3] کوئ -

الفحشاء - يو رذالت دے چه پيدا کيږی د قوة شهوانی نه -

قال رب انی ظلمت نفسی - ۱۶ - المعاهدة التی تحرم دم الحربي عام للقالی والحالی فان موسیٰ لم یعاهدهم قالا فلذا سمیّ دم القبطي عمل الشیطٰن واستغفرمنه (نوادر ص۱۰۱)

فائده :- اجتهادی غلطی دَ پیغمبرانو راځي او په هغې گرفت هم کیدے شي - او که هغې اصلاح کیدے شي - په خلاف دَ غیر پیغمبرانو -

فلمآ اراد ان یبطش الخ - ۱۹ - موسیٰؑ اراده وکړه چه قبطي اُو وهي او زور نئے کوله خپل ملګري ته نو هغه ګمان اوکړو چه ما وَ وهي نو حال ښکاره کړ -

قال ارید ان انکحک احدی ابنتیّ هاتین - الخ - ۲۷ - مراد معینه ده - او بالغه جینئ خپل مهر پلار ته بخلے شي -

فلما قضٰی موسی الاجل الخ - ۲۹ - قال ابن عباسؓ قضٰی اکثرهما واطیبهما (بخاری ص۳۶۹)

واضمم الیك جناحك من الرهب - ۳۲ - هر خائف چه لاس په زړه کیدی نو خوف زائل کیږی (جمل)

اجرهم مرتین - ۵۴ - ځکه چه ایمان بالذات په انبیاء نو ایمان بالتبع دے په بنی علیه الصلوٰة والسلام او بالعکس نو حاصل شو ایمان په هر یو مرتین نو اجر ئے هم مرتین شو (شیخ اکبر فی الفتوحات)

و یدرئون بالحسنة السیئة - ۵۴ - احنف بن قیسؓ ته چا کنځل کول هغه ورته اووے چه دلته کنځل خلاص کړه دَ خلقو مخکښے را ته کنځل مه کوه زۀ فوجي افسریم نوکران به دے بے عزته کړي -

مالك بن دینارؒ ته چا اووے چه اے مکاره نو هغه اُووے - چه دغه ځما اصلی نوم دے - او خلق راته هسے حضرت صاحب وائي -

ابراهیم ابن ادهم نه یو سپاهي تپوس اوکړو دَ ښار هغه مقبرے ته ئے اشاره اوکړه - چه دا ښار دے - هغه ورته اووے چه ته لاما بو دے

هٰذا من عمل الشیطٰن (۱۵) دا جګړه ستا سو یا دا ظلم ستا سو اے قبطیانو ۱۲

ظلمتُ نفسی (۱۶) کمی ئے اوکړه دَ ځان سره او س به دَ وطن نه ځم تائید کهف ۳۷ -

فاغفرلی (۱۶) اے مولا ما پانړ سره واچوه دَ دښمن نه ر شیخ سرهندی)

په غلطئ اجتهادی بانی خو تواب ملا دینے ئے دَ وجه دَ سعي نه او په صحیح کښے دوه ثوابه دی دَ حق او دَ سعي ۱۲

لے دا جواب دَے دَ سعید بن جبیر چه تپوس کړے وه دَ ابن عباسؓ نه دَ مودے دَ موسیٰ علیه السلام کله چه یهود دَ حیرے دَ سعید بن جبیرؓ نه تپوس او کړے دَ مودے دَ موسیٰ علیه السلام

۱۲ ۱۲ ۱۲

اِنّ خیر مَن استاجرت - الخ - ۲۶

عمرؓ په او بنلو قبل مکل دخارف دوجه نه نو علیؓ اووے چه امیر المؤمنین دے ایت بیه مصداق وه -

ابراهیم بن ادهم دالی څه درے خلله خوشحاله شوے یم په جهان کښے یو توقی ځما په کمیره پورے توق کولے نوځه خوشحاله شوم چه


څه دېر عاجز یم په دے جهان کښے په جوماتِ کښے ناجوړه پروت وم نو موذن اووے چه اوځه نو ځما د وتلو طاقت نه وو نو ځنګه دلګه

توق کوے. نو دغه سړی مات کړا او روان ئے کړ تهاڼړے ته۔ دَ کلی خلق ئے استقبال له راغله۔ سپاهی پټوس اوکړ دَچا نه چه دا څوک دے؟ هغه ور ته اووے چه ولی الزمان ابراهیم بن ادهمؒ دے۔ نو معافی ئے ترے اوغوښته۔ هغه ور ته اووے چه کله تا ذهٔ او وهلم نو ما باری تعالیٰ ته سوال اوکړ چه اے مولا د دمره ثواب ده لره ور کړه لکه چه دے ما لره راکړے دے (کیمیا سعادت لحجۃ الاسلام الامام الغزالیؒ)

معلومه شوه چه تکلیف دَچا انعام دے دَ باری تعالیٰ په دے کنا هونه معاف کیږی (دَ تکلیف په وخت دا دعا مجربه ده)

ام يجيب المضطر اذا دعاه ويكشف السوء (نمل ۶۲) په سوء سره به ذهنی اشاره او کړم چه فلانی تکلیف ته۔ په خالی ځائے کښے په لهجی سره وئیل ډیر تاثیر کوی۔ څو چه تکلیف زیات وی نو تاثیر ئے زیات وی۔ (غیب)

ان قارون كان من قوم موسىٰ الخ۔ ۷۶۔ (نسب نامه)



فائده:۔ یعانیه دَ عمران تره وه یا په هغه وخت کښے دا نکاح جائز وه یا یعانیه دَ لاوے نوسئ ده نو دَ عمران دَ تره یا دَ تره لور شو

قصه فرعون دَ بنی اسرائیل نه قارون ممبر منتخب کړے وه نو دَه ډیر مال جمع کړے وه۔ نو هر کله چه دَ دریاب نه پورے وا ته نو دَ قارون اقتدار ختم شو۔ نو دَه په چل مال فخر کاوه۔ او په موسیٰؑ

قالت احدٰهما یا ابت استاجره (۲۶) هوښیار درے ته وُو یو ه دا لور دَ شعیب علیه السلام چه دوے طلب او کړ دَ پلار نه دَ مزدور کولو دَ موسیٰؑ۔ دویم موسیٰ علیه السلام چه هغه دَ خلوت او کړو باعث ته چه هارون علیه السلام ځما سره معاون او پیغمبر کړه دریم حضرت ابوبکر صدیقؓ چه هغه دَ مسلمانانو دَ پاره عمرؓ خلیفه مقرر کړو (شیخ سرحد)

د ځینه زنکم او بهرے زنا او کړم ۳۔ ځما په پوستین کښے سپکے دومره وے چه دو بغتو او د هغے فرق نه کیدو نو څه خوشحاله شوم په ځیل عجز څکه په عاجز دالله تعریف راځی۔ (طریقه تحدیثیم)

دَ کیصنه اووے چه دالله د دوستانو نوعونه دی، ده ته اووے چه ما نوم کښے شته، هغه اووے چه نا نو ده ته اووے چه ځما ځم په نوکرانو کښے اوشه هغه تا اووے چه ښه، بیا هغه سړے نے دَ رغ هغه کاغذ در دره تو ده ته تپوس او کړو هغه

بانډِ به ورلره حسد ورته۔ نو یوځل ئې رنډۍ ته د سرو زرو تالے
ورکړچه په موسیٰؑ باندِ تهمت اولږه وه۔ نو رنډۍ راغله او موسیٰؑ
بیان کاوه قوم ته د زنا متعلق او رنډۍ ورته اوازورکړ چه ځما د
بیکانۍ شپے اجرت راکړ نو موسیٰؑ په غصه شو او هغې لره ئې سخت قسم
ورکړچه واقعی ستا ځما سره اجرت شته؟ نو رنډۍ اوډیریده او اقرار
ئې اوکړ چه ما ته قارون ویلی دی نو موسیٰؑ الله تعالیٰ ته په سجده شو 23
چه (ان کنت لك نبیا فاغضب لی) نو باری تعالیٰ اووے چه ستا اختیار دے
نو موسیٰ علیه السلام زمکے ته حکم اوکړ چه خذیه نو زمکے ډے او نیو
نو قارون اووے پس د ډیرے زارئ نه چه ته ځما د مال د پاره ما وخنے
نو موسیٰ علیه السلام حکم اوکړ او دغه ټول مال د قارون په سر
د لئ شو او په خکته روان دے۔

ولا تنس نصیبك من الدنیا ۔ ٧٧۔ قال علیه الصلوة والسلام
یقول العبد مالی مالی و هل لك[1] من مالك الا ما اکلت فافنیت اولبست
فابلیت اوتصدقت فامضیت ۔ یا کفن[2] ۔ قیل اطلب[3] بدنیاک الاخرة۔

فخسفنا به و بداره الارض الخ۔ ٨١ ۔ بنی علیه الصلوة والسلام
فرمائی چه یو سړے پخوا متکبر وه نو په زمکه کښے ننخ شو نو روان دے
په خکته تر قیامته پورے ۔

نو فل وائی چه ما یو سړے اولیده ډیر خائسته نو ما تعجب اوکړ
نو حغه اووے چه باری تعالیٰ ما ته تعجب کوی۔ نو ما اولیده چه کمیده
نو د ملخ پشانتے شو۔

ویکان ۔ ٨٢۔ مرکب دے د وی برائے تعجب نه او د کانّ للتشبیه
ده ۔ مستعملیږی په وخت د ندامت کښے ۔

لولا ان من الله الخ ۔ په حدیث شریف کښے دی چه یو سړے نیکی
کوی او بل ورته کږیږی ۔ نو د دواړو ثواب یو شانتے دے ۔ او یو
سړے گناه کوی او بل ورته کږیږی نو د دواړو گناه یو شانتے دے ۔

(١) طلبان تاجر (٢) ثمانیة بخ (٢٧) چه مال او کټلے شے او کخیل احل پرورش کوله شے د اد جینئ مهر نه وه چه د امام صاحب د من هب نه خلاف ثابت شی چه دا خو نکاح په غیر د مال نه او شو (رشید سرحد)

(٢) د بسم الله په کتنئ

(٣) سوسیم ۔ هدایه چه وهم نو پوړے به شم۔

مشکوٰة ص١٥٩

لرادک الی معاد - ۸۵- بهتر انجام ته -

قصه :- بنی علیه الصلوة والسلام چه مدینے منورے ته تشریف راوړو نو په حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه باندِ تبه راغله په مدینه منوره کښے نو هغه داا و وے ؎

الالیت شعری هل ابیتن لیلة | بوادحولی اذخر و خلیل
اوهل اردن میاه مجنة | وهل یبدون لی شامة وطفیل

او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه او وے - چه ناجوړه وُه - چه ؎

کل امرء مصبح اهله | والموت ادنیٰ من شراک نعله

نو حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالیٰ عنها بنی علیه الصلوة والسلام ته حال او وے - نو بنی علیه الصلوة والسلام دَ مدینے منورے دَ پاره دعااوکړه - چه خدایه مونږ ته مدینه محبوبه کړے - او دَ صحت ئے کړے او مرضونه ئے ډیهودو کلو ته بوځه -

وماکنت ترجوا الخ - ۸۶ - معلومه شوه چه نبوة وهبی شے دَے او ولایت کله کسبی او کله وهبی وی - ؎

تبارک الله ما وحیٌ بمکتسب | ولا بنی علیٰ غیب بمتهم
(قصیده برده)

کل شیٔ هالک الا وجهه له الحکم والیه ترجعو ن - ۸۸-

دا مسئله دَ وحدت الوجود ده - ای لا موجود الا الله - یعنی په نزد دَ وجود دَ واجب وجود دَ ممکن کالعدم دے - ؎

کل ما خطر ببالك هو هالك | والله اعلیٰ واجل من ذالك (نوادر)

؎

کل ما فی الکون وهم اوخیال | اومرایا اوعکوس او خیال (رومی)
گر دید باشی که در باغ وراغ | بتابد بشب کرمک چون چراغ

دیکه وحدة الشهود دالی چه نه ده داقهاد ختم شی - (احسن الفتوی) ملخص

سو تلبه پیدا کی وی په باغ او ډاډگه چه دشپے کلیری چینچے دیوے پشان -

نو دۀ ته چا اووے چه وَلے دَ ورځے نه بنکاریږے؟ نو دۀ اووے چه ؎

کہ من روز و شب جز بصحرا نه ایم ولی پیش خورشید پیدا نه ایم
(سعدیؒ)

که هغه ورځ او شپه په صحرا کښے یم، لیکن په مخ د نمر کښے ښکاره نه یم۔

انت حسبی انت کافی لیس غیر (د اخیر مثنوی)

ختم شو قِصَص بفضله تعالیٰ

(۱ - ۷ - ۱۴۰۱ھ)

بضاعت نیاوردم الا امید خدایا زعفوم مکن نا امید

؎

که په حساب وی ځائے م نشته
او که په احسان وی دَ خوږه جانان به یمه

جمله معشوق است عاشق پردۀ - زندۀ معشوق است عاشق مردۀ
واجب مثل بر است محکم بجوجعا - این چنین فرموده مولانا ما۔

مارتونگ مولانا صاحب
(مرض خبیب سے سوچ)
۹۲ / ۸ / ۹

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

۲۹ سُوۡرَةِ عَنۡكَبُوۡت مَكّى دَے ۸۵

۹۵۰
۴۰
۹۹۰
۶۰
۱۰۵۰

✱✱✱✱✱✱✱✱✱✱✱

قبل مطففين وبعد الروم - زمانه دَ نزولِ هجرت حبشه نه لږ مخکښے - يعني دَ مکے معظمے اخير دوروالا ده دے لکه داسے خيال دے۔

ربط په تا سو به هم مصائب راځی چه صادق او کاذب ممتاز شی۔

خلاصه په حصه اوّل[۱] کښے دوه[۲] دعوے دی - دَ مؤمنا نو[۱] آزميخت به ضرور راځی چه صادق او کاذب جدا شی۔

منکرانو[۲] تا سو دَ باری تعالیٰ دَ عذاب نه نه شئ خلاصيدے۔

اولے[۱] دَرے قصے دَ اولے[۱] دعوے سره لړی يعني نوح ع۱۴ او ابراهيم ع۱۶ - او لوط ع۲۸ - دَ دے دعوے دَ پاره ډير تکليف تير کړه -

باقی قصے دَ دويے[۲] دعوے سره تعلق لری - يعني قوم شعيب ع۳۶ - او عاد ع۳۸ - او فرعون ع۳۹ او قارون او هامان ع۳۹ او ثمود ع۳۸ - دَ باری تعالیٰ دَ عذاب نه بچ نه شو -

په حصه ثانی[۲] کښے خلور دلائل عقليه دی اول ع۴۴ دويم ع۶۱ ثالث ع۶۳ رابع ع۶۳ - يو نقلی دَ امم سابقو نه ع۴۷ - او يو وحیٔ دے ع۴۵ - طريقه تبليغ ع۴۶ - امر مصلح ع۴۵ - او اعلان دے ع۶۴ چه منکرانو په دُنيا غره مه کوے۔

په آخير کښے اعادهٔ مضمون اول ع۶۹ برائے مراعات النظير - په درميان دَ دواړو حصو کښے دعوی سورة ده چه -

مثل الذين اتخذوا من دون الله اولياء کمثل العنکبوت الخ ع۴۱ -

مختصره خلاصه دَ غير الله بلنه بے کاره ده نو دَ الله تعٰ نه حاجات غواړئ - دَ دے مسئلے منونکو يو ځے

حکمه چه برکات ورکړے يو ځے الله تعالیٰ دے

په منلو نه خلاصیږئ بلکه محنت به کوئ - لکه نوح (۱) او ابراهیم (۲) او لوط (۳) (چه محنتونه کړی وُه)

او اے نه منونکو تا سو د عذاب الٰهی نه نه شئ بچ کیدے لکه فرعون، قارون، هامان وغیره (چه د عذاب نه بچ نه شو) او عقل هم دا خبره غواړی -

ولقد ارسلنا نوحا الخ - ۱۴ - پادری فنډر اعتراض کوی چه په تورات کښے دی چه هرکله طوفان راغے نو نوح علیه السلام د شپږ سوو (۶۰۰) کالو وه او پس د طوفان نه دریے سوه پنځوس (۳۵۰) کاله پاتے وُه او د قرآن نه معلومیږی چه طوفان پس د نهه نیم سوه (۹۵۰) کالو نه را غلے دے -

جواب :- په قرآن کښے دا نشته چه فلانکی عمر کښے طوفان راغلے د ے نو د تفصیل او اجمال په درمیان کښے تعارض نه وی - البته د تورات او د ابو سعود په درمیان کښے تعارض شته - نو کیدے شی چه په تورات کښے تحریف وی - یا روایت د ابو سعود ضعیف وی -

ابو سعود کښے دی کان عمر نوح الفا و خمسین (۱۰۵۰) عاما بعث علی رأس اربعین (۴۰) سنة ودعی قومه تسعمأة وخمسین (۹۵۰) وعاش بعد الطوفان ستین (۶۰) سنة - ولعل ماعلیه النظم الکریم للدلالة علی کمال العدد (وتفخیمه)

وزین لهم الشیطن اعمالهم الخ - ۳۸ - قال الامام القرطبی سمعت شیخنا الامام ابا محمد بثغر الاسکندریة یقول ان الشیطان یقال له البضاوی یتمثل للفقرآء المواصلین فی الصیام فاذا استحکم منهم الجوع واضر بادمغتهم یکشف لهم عن ضیاء ونور حتی یملأ علیهم البیوت فیظنون انهم قد وصلوا وان ذلک من الله ولیس کما ظنوا (قرطبی) جز ۱۰ ص ۳۲۳ - قرطبی نے سورہ کہف میں لکھا ہے زیارات اقتحمتہ ونذ منہ -

کمثل العنکبوت - ۴۱ - عن علی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

وخلت انا وابو بکرؓ الغار فاجتمعت العنکبوت فنسجت بالباب فلا تقتلوهن (الا ازاله ص۱۹۷)

اتل ما اوحی الیك الخ - ۴۵ - امر برائے القاء دے لکه اقرأ ابن خضیر - یعنی ارمان تا خپل قرأت جاری ساتلے وے - مشکوٰة ص۱۹۶

ان الصلوٰة تنهٰی عن الفحشآء والمنکر - منع بالتسبیب ده یا بالاقتضاء (عثمانی) کوم نماز چه سرے د فحشآء نه نه منع کوی هغه د نماز صورت دے نه حقیقت (مجدد الف ثانی)

د فحشآء او منکر نه مراد تکالیف د کفارو دی (شیخ) تائید مجد ص۹۶

یو خان چه شرابی وه او یو صحیح نمازے ادا کړے وه نو چیر عمر تے نه تهجد نه وه قضا شوے (حکایات اولیاء)

والذین جاهدوا فینا الخ - ۶۹. په دے کښے اشاره ده ده طریقے د سلوک ته چه مرتب پے ولایت کسبی دے چه بهتر دے د ولایت وهبی نه چه هغه مرتب دے په طریقے د جذب باندے - د ولایت کسبی مثال لکه وصال د معشوق نه سره شو په خلوت کښے - او د ولایت وهبی مثال لکه زیارت د معشوق شو د بازار نه دا عام وته ملاویږی او په خلاف د اول نه -

بعض صوفیه فرمائی چه ولایت بهتر دے د نبوة نه - یعنی ولایت د نبی بهتر دے د نبوة د نبی نه - نه چه مطلق ولایت بهتر دے د نبوة نه - ځکه چه ولایت راجع په اتباع د نبی سره او ولایت د نبی تعلق د ده وی د باری تعالیٰ سره دا په موت سره نه ختمیږی - او نبوة تعلق د نبی دے د مخلوق سره نو کله چه وفات شی نبی نو افاده بالذات مخلوق ته ختمه شی او افاده بالواسطه شروع شی هم دغه مقصد د قول د امام غزالی صاحبؒ دے په تقدیر د صحت سره من یستمد فی حیاته یستمد بعد مماته -

ختم شو عنکبوت بفضله تعالیٰ - (۷ - ۷ - ۱۴۰۱ھ)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۳۰۔ سُوْرَةِ رُوْم مَكِّى دَهٔ ۔ ۸۴

قبل العنكبوت وبعد الانشقاق۔ زمانه دَ نزول
كال دَ هجرت حبشه۔

ربط پس دَ ازمائش نه په بارى تعالىٰ تاسولره فتح دركړى۔

خلاصه دلائل عقليه۔ امورِ دفعيه عذاب۔ (۱) ظلم مكوئے۔ (۲) شرك مه كوئے۔ (۳) احسان كوئے۔

په درميان كښے بطور ثمره دوه ځله ارشاد دے چه دَ كومے مسئلے دَوجه نه تاسو كامياب شوى يئ په هغے مضبوط شئ او اعادهٔ اعلان فتح۔

په آخر كښے اعادهٔ اعلان فتح ثانيا براۓ مراعات النظير۔ نور تبعى مضامين دى۔

غلبت الروم ۔ ۲۔

قصه:۔ فارس په روم برے اوكړو مشركان خوشحاله شو ځكه چه فارسيان هم مشركان وو۔ او روميان چه اهلِ كتاب وو دَ دوى په لړئ مسلمانان خفه شو۔ نو داحكم چه راغے نو مسلمانان خوشحاله شو۔ او ابو بكرؓ اُبى بن خلف سره شرط اوكړو چه كه په دريو كالو كښے روميا نو برے اوكړو نو ته به لس اوښان مال راكوے ورنه زه به دركوم۔ نو نبى عليه الصلوٰة والسلام ورته اووے چه كلو نه نهه كړه او اوښان سل كړه۔

سبب دَ غلبے دَ روميانو دا شو چه كله فارسيانو برے اوكړو نو دَ كسرىٰ جرنيل فرحان نام وه هغه په تخت ناست وه او شراب ئے اوسكل نو اوئے وے چه ماته ئے داسے مزه راكړه لكه چه زه دَ كسرىٰ

په تخت ناستیم نو دا خبره کسریٰ ته اورسیده هغه د فوج سپه سالار شهرمان نام چه د فرحان رور وه مشر- ته خط را اولیږه چه فرحان مړکړ. نو دهٔ ورته اووے چه دے بے بدلٰه جرنیل دے- نو هغه درے ځله د قتل حکم راولیږه او دهٔ دا جواب ورکړو- په آخیر کښے هغه حکم راولیږه چه فرحان به سپه سالار شی نو چه هغهٔ ته سلامی اوشوه - نو هغهٔ ته ئے بل حکم را اولیږه چه شهرمان مړکړ نو دهٔ چه د قتل اراده اوکړه نو شهرمان ورته هغه احکام ښکاره کړه- نو دوی د کسریٰ خلاف شو او قیصر روم سره ئے معاهده اوکړه په یوے خیمے کښے شهرمان او قیصر روم صلح اوکړه په ذریعه د ترجمان او ترجمان ئے مړکړ- نو عین د بدر د فتح په موقع روم په پارس برے اوکړ- دا تاریخ انسائکلوپیډیا اوبرناټا انګریز مؤرخینو تفصیلا لیکلی دی (عثمانی)

فسبحان الله حین تمسون -الخ- ۱۷-

نکته د تعین د اوقات خمسه وُ د پاره د صلوٰة

(۱) فجر:- د وجے د حصول د حیاة نه بعد النوم -الظهر(۲):- د وجے د حصول د اسباب د عیش نه - العصر(۳):- د وجے د تلافی د غفلت نه په سبب د نوم بعد الظهر- المغرب(۴):- لا تمام نعم النهار- العشاء(۵):- لتضیین الخاتمة (مولانا عبد الحلیم صاحب قمرالاقمار کښے)

(۲) قانون دے چه تغیر راشی نو رجوع کیدے شی مغیر ته - لکه استسقاء وغیره نو فجر(۱) کښے تغیر راغے چه عالم رڼرا شو- او په ظهر(۲) کښے په جرم عظیم د شمس کښے زوال راغے - او په عصر(۳) کښے په رڼرا د شمس کښے تغیر راغے- او په مغرب(۴) کښے شمس پناه شو- او په عشاء(۵) ضوئی هم ختمه شوه- نو ځکه په دے اوقات کښے رجوع ده مغیر د دے تغیر ته چه باری تعالی دے (عثمانی)

لقوم يتفكرون - ۲۱ - په دے کښے ترقی ده د اعلیٰ نه ادنیٰ ته یعنی فکر مند سړے توحید معلوموی د دے دلائل نه فکر پریده نو چه علم ئے وه نو پوره دے - او علم پریده نو چه سمع[23] ئے وی نو پوره ده - سمع ئے پریده نو چه عقل[24] د چا وی نو د باری تعالیٰ وحدانیت د دے دلائل نه معلومه ولے شی نو معلوم شو چه د مشرکانو به عتیبا نو نه فکر شته او نه علم او نه سمع او نه عقل -

فانك لا تسمع الموتیٰ الخ - ۵۲ - دا تسلی ده یعنی د دومره بیانا تو نه بعد که نه منی نو دوی پریده ځکه په دوی مُهر وهلے شوے دے دوی د مړو پشان دی ته ئے نه اوری -

د سماع الموتیٰ متعلق اجمالی تحقیق دا دے چه بدن بالکل نه آوری لکه چه د دے ایات او د نورو ایا تو نه معلومیږی ځکه چه سماع مطاوع دے د اسماع متعدی د پاره نو مطلب دا دے چه سمع نشته جو اسماع هم نشته - نفی د اسماع مستلزم دے نفی د سمع لره - آوریده د روح کار دے -

باقی د امام صاحبؒ او د شافعیؒ صاحب خلاف په دے کښے دے چه روح عند القبر دے په نزد د شافعیؒ او دا د روح علیین او سجین دے - او د امام صاحبؒ په نزد روح عند القبر نه دے علیین او سجین د جنت او د دوزخ دیو مقام نوم دے او روح هلته کښے دے - په دے دلالت کوی قصه د اصحاب کهف او د عزیرؑ، بل په معراج کښے نبی علیه الصلوٰة والسلام د آدم علیه السلام بنیؑ او کتلؓ طرفته ارواح لیدلی وو - او د هغه خفګان او خوشحالی هم په دے دلالت کوی چه روح عند القبر نه دے -

مشکوٰة ص۵۲۱

(۱) په بدر کښے نبی علیه الصلوٰة والسلام اوفرمایل په حق د کفارو کښے - انهم لیسمعون - اوقول عائشهؓ لره دینه انکار کوی

اوفرمائی چه دالِيَعْلَمُوْنَ دے (بخاری ج ۲ ص۵۶۷) او په داوی اشتباه راغلے دہ۔ بل دا دحضورؐ معجزه وه۔

قال قتادةؓ احیاهم الله تعالیٰ نقمة و حسرة (عینی) یا دا تنبیه ده حاضرینو ته۔ فقهاء فرمائی چا چه قسم اوکړو چه زهٔ به د ذید سره خبرے اونه کړم او پس د مرګئے خبرے اوکړے نو نه حانث کیږی ځکه چه مړے فهم نه شی کولے۔ لیکن عبد الحیٔ صاحب فرمائی چه عدم حنث د وجے د عرف نه دے۔

سجاد بخاری جواب کوی چه د عرف هم یو دلیل دے د دلائل د شرعے نه۔

(۲) په حدیث شریف کښے راځی انه لَيَسْمَعُ قَرْعَ نعالیهم اذا انْصَرَفُوْا (مسلم) فتح القدیر فرمائی دا مختص دے په اول وضع د قبر پورے ځکه چه کوم نص خلاف د عقل نه راشی نو هغه مختص وی په خپل مورد پورے۔ بهتر جواب دا دے چه دا د منکر نکیر د سرعت امدن بیان دے (کوکب دری) سوال د منکر نکیر په برزخ کښے دے او قبر هم د برزخ نوم دے۔ نه هغه کنده چه مونږه کتلے ده۔ په دے کنده کښے فراخی نشته او د دے په قرب کښے خوښه فصل وی او د برزخ یو مثال مارکس په دنیا کښے ساه واخلی نو سبزی به ختم شی۔

فتعاد روحه فی جسده۔ د فی جسده لفظ په اکثر روایات کښے نشته۔ سوال جواب حق دی ثواب او عذاب حق دی۔ البته د عذاب قبر په کیفیت کښے خلاف دے۔ برزخی معامله موقوف علی السمع ده۔ (از شیخؒ)

عوام ته د زیارت قبور مسنون طریقه خودل مناسب دی ځکه چه په مسئله د سمع کښے فائده نشته بلکه د قوت مضامین شوکیو گمان دے (نانوتویؒ) جمال قاسمی م۱۱

---

(۱) فهذا التاویل جدید بان یضحک به بصائر د مولوی صاحب حمدالله۔ ص۶۸

بلکه تاویل د مولوی حمدالله صاحب دیر لایق دے چه مونږ ته دریے خندا اوکړی۔ (عزیر)

(۲) ثم ان گور ده که گوران رود

(۳) اعز نوی ۱۴۹

(۴) هر یو داپس سید ورکے په بورئ کښار د قمعونو د خلقو۔ (عثمانی)

مبنی الاستعارة علی التشبیه فشبه الکفار بالموتیٰ فقال له انك لا تسمع الموتیٰ فالکافر
مشبه والمیت مشبه به ووجه الشبه عدم السمع فهو المیت حقیقی وفی الکافر (۲۰،۳۰۳)

ان الضا بتة عدم السماع لکن المستثنیات فی الباب کثیرة (فتح الملهم)

قال ابوحنیفةؒ لشخص مستمد من القبور کیف تکلم اجسادا لا یستطیعون جوابا ولا یملکون شیئًا ولا یسمعون صوتا وقرأ ما انت بمسمع من فی القبور (فاطر ۲۲) (کتاب الغرائب)

ته نه شے اوره ولے مړو ته ځکه چه اسباب ختم دی او کن مافوق الاسباب کرامتًا ستا خبره خدائے پاک مړی ته واوروی له دینه مسلمانان انکار نه شی کولے - (عثمانی)

التشبیه باعتبار الغرض اما مقبول له وهو الوافی بافادته کان یکون المشبه به اعرف شیٔ بوجه الشبه فی بیان الحال نحو زید کالاسد او مردود وهو بخلافه ای یکون قاصرا بافادة الغرض کتشبیه زید بالاسد فی الابخریة - (از تلخیص)

ختم شو دوم بفضله تعالیٰ

ادعاءً یعنی سمع الکافر نازل بمنزلة عدمه مثل لاریب فیه فالریب نازل منزلة عدمه وکذا الکافر مثل الاصم والاعمیٰ فی عدم السمع وعدم الرویة وَهکذا لایستوی الاحیاء وَلا الاموات فاطر ۲۲

اسباب العلم للمخلوق ثلاثة الحواس السلیمة والخبر الصادق وَالعقل - (شرح عقائد نسفی ص۱۱)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

۳۱- سُوۡرَةُ لُقۡمٰنَ مَكِّیۡ دَۓ-۵۷

****

بعد الصافات و قبل السبا - زمانہ نزول دورِ متوسط دَ مکے معظمے -

ربط سورۃ روم کښے فرمائلی وه چہ اللہ تعالیٰ بہ ضرور فتح درکوی بشرطیکہ تاسو په توحید مضبوط شوئے - نو په دے سورة کښے بیان دَ توحید دے علی وجه الکمال نو دا سورة دَ اول تتمہ ده -

خلاصه په ابتدا کښے تمهید مع الترغیب دے - بیا زجر دے چه کفار دَ خلقو په ذهن ونو کښے شبهات اچوی - دلائل[۸] عقلیه بعض دَ غیب دانی او بعض دَ کارساز ے - دلیل[۱] نقلی دَ لقمان دے - ثمره[۲] دے -

لقد اٰتینا لقمٰن الحکمة - ۱۲ - لقمان ابن باعواء من اولاد اٰزر ابن اخت ایوبؑ وعاش حتی ادرک داوٗدؑ واخذ عنه العلم وترک الفتیا وقال الا اکتفی اذا کفیت -

چا ورته او وے چه څهٔ رسولے ئے دے منصب ته نو هغه او وے صدق الحدیث والصمت عما لایعنینی (ابن کثیر)

الحکمة - العلم[۱] النافع والعمل الصالح والاخلاص لله ام (حدیقه)
(۲) استکمال النفس الانسانیة باکتساب العلوم النظریة (ابوسعود)
ہر چیز کو اپنی مقام پر صحیح سمجھنا - (شیخؒ)

و صاحبهما الخ - ۱۵ - دا حکم هله دے چه حربیان نه وی -

تائید: انما ینهاکم الله عن الذین قاتلوکم فی الدین (ممتحنه - ۹)

ان الله عنده علم الساعة الخ - ۳۳ - دَ شیطان دَ دهوکو جواب
(۱) قیامت نشته - جواب: ان الله عنده علم الساعة - او کله راشی

ربیت / ہمہ دانا یا ن ہمیں گفتہ یقین: بہستہ دانا رحمة للعالمین: (رومی)
تو دو عاقلانو ویلی دی چه عاقل دالله پاک رحمت دے - - -
وذی القرنین لم یعرف نبیا کذا لقمان فاحذر عن جدال (امالی)

علم دقیامت د الله سره دے او که باران بند کړی نوبیا به څه کوے، او په تقدیر اکتفا نو پیدا شیا څه نه کوے او ته رسیگی هم معلوم نه دے سوولے دین نه کوه۔

ولے ملارد زینت د ژوند په باران دے او "وینزل الغیث" یعنی د باران اختیار د خدائے تعالیٰ دے نو که ئے بند کړی نو بیا به څهٔ کوئے۔

(۲) اکتفا و کړه په تقدیر۔ جواب:۔ دنیا دار ته او وایه چه اکتفا و که په تقدیر نو هغه به جواب ردکړی چه زهٔ خپل تقدیر په تدبیر کښے وینم نو تهٔ هم محنت کوه او علم غیب الله سره دے۔ ویعلم ما فی الارحام۔

(۳) چه بوډها شوے نو نیکی به او کړے۔ جواب:۔ ما تدری نفس ماذا تکسب غدا وما تدری نفس بایّ ارض تموت۔ دا پنځه علمه دی مختص په باری تعالیٰ پورے۔

(۱) غیوب قیامت۔ الله عنده علم الساعة۔

(۲) غیوب ماضیه۔ وینزل الغیث۔ مضارع په معنی د ماضی استمراری سره دے۔

(۳) غیوب حالیه۔ ویعلم ما فی الارحام۔

(۴) غیوب مستقبله۔ وما تدری نفس ماذا تکسب غدا۔

(۵) غیوب مکانی۔ وما تدری نفس بایّ ارض تموت۔ (عثمانی)

الاٰیة نزلت فی الحارث بن عمرو اتی النبی صلے الله علیه وسلم فسأله عن الساعة وقال ان ارضی جدبة متی ینزل الغیث وترکت امرأتی حبلی فمتی تلد وأذکرًا تلد أم انثیٰ ولقد علمت این ولدت فبأیّ ارض اموت فانزل الله تعالیٰ هذه الاٰیات۔ (التبیان)

تمام شو لقمٰن بفضله تعالیٰ

۹ - ۷ - ۱۴۰۱ ھ

خدایا بعزت کرخوارم مکن بذل گناه شرمسارم مکن

بسم الله الرحمن الرحيم

۳۲-سورۃ سجدہ مکی دہ-۷۵

بعد المؤمنون و قبل الطور- زمانه دَ نزول ابتدائے
دور متوسط دَ مکے معظمے-

ربط اعادۂ نفی شفیع قهری فی البرکة-

خلاصه دلیل توحید عقلی -۴- دَلیل نقلی تفصیلی د موسیٰؑ
نه - ۲۳- په ابتدا کښے تمهید مع الترغیب چه نزول
دَدے سورة دَرب العلمین نه دے - په درمیان کښے تبعی مضامین
یعنی تخویف و بشارت- په اخر کښے دلیل عقلی برائے ثبوت قیامة
نیز دلیل عقلی برائے ثبوت توحید - ۲۷-

فلا تکن فی مریة من لقآئه - ۲۳- مه کیږه په شک دَملاویدلو دَکتاب
نه تاته[1] یا موسیٰؑ[2] ته- یا ملاقات[3] ستا نه دَموسیٰؑ سره په معراج کښے-

وجعلنا منهم ائمة یهدون بامرنا- الخ -۲۴- معلومه شوه چه امامت[1]
کونکے یواځے الله تعالیٰ دے- او امامت[2] ملا ویړی په محنت سره - لما صبروا
او په[3] توحید سره - وکانوا بآیاتنا یوقنون - او دَ امام[4] کار یه دَخدائے
- الیٰ نه رسول وی مخلوق ته- یهدون بامرنا-

فاعرض عنهم وانتظر انهم منتظرون - ۳۰- ای لا تبال بکلامهم
فلا حاجة الی النسخ- بعض دا ایات منسوخ دے په ایات دَ سیف سره
لهٰذا خیال دے دَه قدمیز - قد مضی تحقیق النسخ بما لامزید علیه -

(تم شو بحمد الله بفضله تعالیٰ
۹ - ۷ - ۱۰۰۱ھ)

کښیه حساب وی ځائے م نشته
او کښیه احسان وی خوابږه جانان بسمه -

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

۳۳ سُوۡرَةِ اَحۡزَاب مَدَنِيۡ دَے - ۹۰

****

بعد ال عمران وقبل الممتحنه زمانه نزول ۵ھ هجری -

ربط چاته د شفیع تهری ویلو نه شفیع قهری نه جوړیږی لکه څنګه چې پخپله د مورد ویلو نه مور نه جوړیږی او پردی هلک ته د ځوئ ویلو نه ځوئ نه جوړیږی -

خلاصه لس قوانین برائے مؤمنین - شپږ قوانین برائے نبی کریم ع اووه قوانین برائے ازواج مطهرات - په ابتداء او انتها کښے زجرات برائے منافقین کوم چه د دے شرک یعنی شفیع قهری منل او د دے بد رسم یعنی متبنیٰ ته ځوئ ویل حقیقةً او ظهار والا ښځے ته ابدا حرامه ویل - درفع د پاره ئی جهاد نه کاؤ النه په مؤمنانو باندے ئے طعنونه لږول -

مقاصد سورة (۱) نفی شفیع قهری - (۲) رفع متبنیٰ - (۳) رفع حرمة المظاهر منها ابدا -

یا ایها النبی اتق الله الخ - ۱ - نفی شفیع قهری - کفار و نبی علیه الصلوة والسلام ته او وے چه څمونږ د معبودانو شفاعت تسلیم کړه باقی خپل تول تبلیغ کوه - د دے په جواب کښے دا حکم راغے یعنی د کفارو خبره مه منه بلکه رد کوه په شفیع قهری باندے

ماجعل الله الخ - ۴ - داعلت دے د ماقبل د پاره - یعنی په بدن کښے خو دوه زړه نه نشتے چه په یو د الله تعالیٰ عبادت کوئے - او په بل د شفیع قهری - (رباعیت)

(۱) درین راه حاصل جز یکدلی نیست ، دو دل بودن بجز بے حاصلی نیست

(۲) یکی بین ویکی دان ویکی جو ئے ، یکی خواه ویکی خوان ویکی گوئے

له خازن ج ۳ ص ۵۰۰ ۱۲

(۱) په دے لاره کښے حاصل صرف یک دلی ده ؛ او دوه زړونو والا کیدل بے حاصلی ده -

(۲) یو او وینه جا په یو او گنړه یو طلب کړه یو ونه او غواړه یو او وایه -

قال ابو معمر جمیل بن اسد ان لی قلبین اعقل بکل واحد منھا افضل من عقل محمد ؐ -

وماجعل ازواجکم الخ- دا دَ ما قبل دَ پاره نظیر اول دے۔

وماجعل ادعیآئکم الخ نظیر ثانی دے -

اُدعوھم لِاٰباۤئھم الخ - ۵ -

قصه:- زیدؓ په جاهلیت کښے چا پت کړے وه او خرڅ کړے ئے وه نو دَ خدیجےؓ سره وه - نو چه دَ بنی صلے الله علیه وسلم سره دَ هغے نکاح او شه نو هغے دے دَ بنیؐ دَ خدمت دَ پاره پیش کړ- نو یو قافلے دے دلته اولیده نو دَ ده پلار ته ئے حال بیان کړ او پلار ئے ډیر پریشان وه نو هغه خپل ځوئی او رور را اولیږل سره دَ رقم شمکے معظمے ته - دوی بنی علیه الصلوٰة والسلام ته گذارش اوکړه چه د رقم واخله او زیدؓ ازاد کړه - بنی علیه الصلوٰة والسلام اوویے چه رقم ته حاجت نشته - دَ زید صاحبؓ نه ئے تپوس اوکړ چه دَ دوی سره ځے نو هغهُ اووے چه نا - ته ځما پلار ئے دوی م نه دی پکار نو بنی علیه الصلوٰة والسلام خوشحاله شو - او دے ئے خپل متبنیٰؓ کړو - نو دا حکم نازل شو - نو بنی علیه الصلوٰة والسلام ور ته اُووے چه ته ځمونږ ه رورے - نو په ځائے دَ زیدؓ بن محمدؐ - زیدؓ بن حارثهؓ ویل شروع شو - نو دَ دهٔ دَ صدمے لرے کولو دَ پاره باری تعالیٰ دَ دهٔ نوم په قرآن کښے واغست -

فلمّا قضی زید منها وطرا - ۳۷ - او بنی علیه الصلوٰة والسلام دَ زینبؓ نکاح دَ زیدؓ سره اوکړ او هغه دا رخصت کړه او بنی علیه الصلوٰة والسلام په نکاح واغسته - مقصود دا رسم لرے کول دی - چه متبنیٰ حقیقی ځوئی گنړلے کیده -

النبیّ اولیٰ بالمؤمنین الخ - ۶ - قانون اوّل[1] برائے مؤمنین یعنی که بنی علیه الصلوٰة والسلام رسمونه ورانوی نو هغه ستا سو

۱ - یو روایت دے چه خپله دے تله وو - ۲ -

نضیر
کعب بن اسد
بنو قریظہ۔
حیی بن احطب
بنو نضیر

خیرخواہ زیات دے د نفسونو ستاسونہ۔ او ازواج مطھرات د حضورؐ ستاسو میندے دی نۂ په میراث کښے بلکه په شفقت کښے۔

واذ اخذنا من النبیین میثاقهم الخ۔ ۷۔ قانون اول[۱] برائے بنی کریم صلی الله علیه وسلم یعنی ما د پیغمبرانو نه وعده اغستے ده چه دوی به د باری تعا احکام خلقو ته رسَوی۔

یاایها الذین اٰمنوا اذکروا الخ۔ ۹۔ قانون دوم[۲] برائے مؤمنین 24

یعنی دا خطره مه کوئے چه دسمونه ورا نول خو د تمام خلقو سره دُشمنی ده۔ په احزاب کښے څنګه باری تعالیٰ تاسو له فتح درکړه۔

قصه:۔ هرکله چه بنی نظیر د احد نه بعد وعده ماته کړه نو بنی علیه الصلوة والسلام دوی د ما حول د مدینی منورے نه اوشړل خیبر ته نو دوی په عربو کښے اوګرځیده او لوئے مسلح فوج ئے تیار کړ د قریش او بنی فزاره او غطفان نه دولس زره۔ او مسلمانان درے زره وُو۔ او په مدینه منوره کښے هم منافقان وو۔ او په بنی قریظو باندِ هم تسلی نه وه نو بنی علیه الصلوة والسلام د اصحابوؓ نه مشوره واغسته۔ نو سلمان فارسی د خندق تجویز پیش کړ۔ چه د کوم طرفنه د دشمن د راتلو خطره ده هلته به خندق جوړ شی۔ نو بنی علیه الصلوة والسلام په لسو لسو کسو پسے څلویښت ګزه ځائے تقسیم کړو او اصحابوؓ به وے۔ ے

لولاه ما اهتدینا ولا صدقنا ولا صلینا
والمشرکون قد بغوا علینا اذا ارادوا فتنة ابینا
نحن الذین بایعوا محمدا علی الجهاد ما بقینا ابدا

په ایمان به دوی جنګ کړو۔

او بنی علیه الصلوة والسلام به جواب ورکاوه ے

اللهم لا عیش الا عیش الاخرة فاغفر للانصار والمهاجرة

او بنی قریظو هم خپله وعده ماته کړه۔ د سلمان فارسی په ځائے کښے پرخه را اوخته نو بنی علیه الصلوة والسلام لا پا او درے[۳]

غوزاره ئے اوکړه او پرخه ماته شوه ۔ او په هرغوزار به بڅري اُلوَتې او مدینه منوره به رڼا کیده او مسلمانانو به الله اکبر وے ۔ نو نبي علیه الصلوٰة والسلام اووے چه د اوّل[1] غوزار سره ما د کسرٰی د بنګلے منارے اولیدے ۔ او په دوّیم[2] غوزار سره ما د قیصر د بنګلے منارے اولیدے او په دریم[3] غوزار سره ما د صنعاء د بنګلو منارے اولیدے دا مقامات به الله تعالیٰ مسلمانانو ته حواله کړي ۔ جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمائي چه نبي[4] هغه پرخه ماتوله نو ما په نبي علیه الصلوٰة والسلام سخته اولږه اولیده ۔ نو زه لاړم کورته او ورغوے م حلال کړه ۔ او یو اوګے وربشے ئما ښځے اوړه کړے نو زه واپس راغلم بني علیه الصلوٰة والسلام ته نو هغه اهل خندق ته اواز اوکړه نو ټولو ته دغه دعوة اورسیده او ختم نه شو ۔ نبي علیه الصلوٰة والسلام د زنانو او د څوکۍ د پاره حسان صاحب مقرر کړے وه ۔ یو یهودي جاسوس راغے هغه د صفیه رضی الله عنها د لاسه مردار شو ۔

پښتنې د دا زړو خلقو کيسه ده ... يکسيپاده خختې صفحه ترې وړه "

د نبي علیه الصلوٰة والسلام په انصار رضی الله عنهم و باندې ترس راغے ۔ نو د کفارو سره ئے صلحه کوله خو انصار رضی الله عنهم تیار نه شو ۔ نعیم ابن مسعود رضی الله عنه مسلمان شو هغه اووے نبي علیه الصلوٰة والسلام ته چه زه څه چل جوړه وُمه ۔ نو لاړه یهودو ته چه که په دے جنګ کښے فتحه اوشوه نو غنیمت به اهل مکه واخلی او که شکست اوشو نو دوی به لاړ شي او تاسو به د مسلمانانو په پنجه کښے پاتے شئ ۔ نو ضرور د دوی نه حفاظتي دسته واخلئ ۔ بیا لاړه کفارو د مکے پسے ۔ چه یهودو د نبي سره بیا لار اغستے ده ۔ او ستا سو نه بعض کسان هغوی ته حواله کوی سوچ اوکئ ۔

نو ابوسفیان رضی الله عنه یهودو پسے سړے اولیږه چه جنګ کو، چه خبره ختم شي ۔ نو یهودو ورته اووے چه مونږه له حفاظتي دسته راکړئ

نو اهل مکه بدګمانه شو۔

سعد بن معاذ رضی الله عنه چه جنګ له تللو نو زغره ئے لنډه وه اواوئے وئے چه لا بأس بالموت اذا حان الاجل نو عائشې صدیقې اووے چه آرمان دَدهٔ زغره اوږده او کړه وے۔ نو ابن عرقه پے ګُذار او کړو نو په رګ دَمټ ګذار برابر شه او اوئے وے خذه وانا ابن عرقه۔ نو ده ورته اووے عرق الله جبینک فی النار۔

یو ځوان اووے حذیفه ابن یمان رضی الله عنه ته چه ارمان مونږه نبی علیه السلام لیدلے وے نو مونږه به ئے ډیر خدمت کړے وے نو هغه ورته اووے چه شاباش خو مونږه هم خدمت کړے دے په خندق کښے نبی علیه الصلوة والسلام اووے من یأتنی بخبر القوم[1] ادخله الله الجنة دَ دوه[2] ځله ئے دا اعلان او کړو په دریم[3] ځلے ئے اووے علی ان یکون معی فی الجنة نو ډَچا طاقت نه وُه او زهٔ دیخنه پروت وَم نو نبی علیه الصلوة والسلام ماته فرمان او کړو چه لاړ شه خو غلے خبر راوړه او نور بس نو چه لاړم ګنګسیه حمام کښے نو ابوسفیان اور ته ناست وُه نو ما ځان برابر کړو غُذار ته بیا مے غلے غشے ترکش کښے کیخوده نو ابوسفیان اووے خبردار خوګ دے هر یو سړے دے خپل قریب او نیسی۔ نو یو سړی ځما لاس اونیوه نو ما دَ بل سړی لاس اونیوه نو هغه اووے چه زهٔ یم نو ځما نیونکی خیال او کړو چه ما دَ خپل ملګری لاس نیولے دے۔ الخ

ابوسفیان اووے چه یهود وغدر او کړو مونږ به صبا ځو۔ ما نبی علیه السلام ته حال راوړو هغه خوشحاله شو او زهٔ اوده شوم او نبی علیه السلام په ما خپل کمبل واچولو ځکه په ما باندے یخنی داغله کله چه ما خبره راوړه سحر نبی علیه الصلوة والسلام ماته اووے قم یا نومان نو دَ شپے سخته هوا چلیدله وه او کفار تختیدلی وُه۔ نبی علیه الصلوة والسلام اووے چه بیا به مونږه

---

[1] شیعه وائی دا څنګه اصحاب دی چه دَ نبی علیه السلام خبره نه منی جواب دا خو عرض دے امر نه دے او کله چه هغه امر او کړو نو فوراً حذیفه رضی الله عنه پاڅید و۔۱۲ تحفه اثنا عشریه (ص۳۶۴)

ورلیږي څو۔

نبي علیه الصلوٰة والسلام غسل کولو نو جبریل علیه السلام ورته
اووے چه ماخو فوجي وردي نه ده ویستلے۔ او اشاره ئے اوکړه
بني قریظو ته څکه چه دوی د کفارو دامداد تیارے کړے وه نو نبي
علیه الصلوٰة والسلام اعلان اوکړ چه (لا یصلین احدکم العصر الا
في بني قریظه) په لارے کښے اصحابؓ مختلف شو۔ چا د عصر نماز بے
وخته په بني قریظو کښے اوکړ د صریح نص د وجے نه۔ او چا اووے
مقصود د حضورؐ تعجیل دے نو نماز ئے پخپل وخت ادا کړ۔ نو نبي
علیه الصلوٰة والسلام د دواړو نه سکوت اوکړ۔ معلومه شوه
چه مجتهد په حقه وي اګر که غلط شي نو یو ثواب ورته ملاویږي
بني قریظه قلا بند شو ابولبابهؓ د صلح د پاره لاړو او هغوی
ته ئے اووے چه صلح مرګ دے نو خفه شو نو ځان ئے ستنے پورے
اوتاړه۔ او د تبوک د تخلف د وجے نه ئے هم ځان تړلے وه په
استوانې توبے پورے نو توبه ئے قبوله شوه او نبي علیه الصلوٰة
والسلام دے اوسپړه۔ بني قریظو د سعد بن معاذؓ چه د اوس
مشروه او د دوی ورسره په جاهلیت کښے ډلی وه خبره او منله
نو سعد صاحبؓ راغے او مریض وه نو ده حکم اوکړ چه د دوی
مقاتلین دې مړه کړے شي او نسآء او ذراري به مریان شي او مال به
ئے غنیمت شي نو نبي علیه الصلوٰة والسلام اووے (لقد حکمت بحکم
الله تعالیٰ) ما به ورسره ډیر خه سلوک کړے وے که دوی ذه
منصف مقرر کړے وے۔ نو دغښیے او شوه او سعد صاحبؓ دعا اوکړه
چه اے الله که د قریشو جنګ باقي وي نوما مه وجنه ورنه نو د دے
زخم نه ما شهید کړ نو زخم او شلید ه او دے شهید شو۔
منافقانو اووے چه د ده جنازه سپکه وه نو نبيؐ اووے چه ځکه
سپکه وه چه ملائکو پورته کړے وه۔

بخاري ج ۲ ص۵۹۱

لم یعنف واحدا منهم ۱۲

دبنو نضیر او د خزرج ډلی وه او مشرئے سعد بن عبادہ وو۔ ۱۲

او د بني قریظو ډلی وه۔

وكفى الله المؤمنين القتال - ۲۵- په خپل سروا غسته الله تعر چنګې د مؤمنانو-

قصه :- اسمٰعیل شهیدؒ په تبلیغي دوره رامپورته تلو- نو د رامپور علماؤ د مقابلې اراده اوکړه نو د شاه عبدالعزیز صاحبؒ شاګرد راغي د خبره ولو د پاره چه هلته تله مناسب نه دی - نو شاه صاحبؒ ورته اووے چه پر وا نشته که هغوی حقه ویله نو مونږ ه منو او که هغوی مقابله کوله نو دلیل عقلي او نقلي مونږ سره شته - نو د دوی سره مقابله علماؤ شروع کړه - درے[۳] ورځے مقابله اوشوه او هغوی لا جوابه شو- نو شاه صاحب څلور سوالونه اوکړه - دوه[۲] عقلي او دوه[۲] نقلي نو د هغو هغه مشر ملا تاریخ اوغوښته - سحر نماز کښې تاخیر اوشو نو چه خلقو اوکاته نو هغه ځان قتل کړے وه - (حکایات اولیاء ص۱۰۸)

يا ايها النبى قل لازواجك الخ - ۲۸- قانون دویم[۲] د پاره د بنیٔ

قصه :- ما حول د مدینے منورے چه فتح شو نو په مهاجرینو باندې تقسیم شو او د انصارو ځایداد هغوی ته واپس شو نو په دوارو وخو یقو سهولت راغي او د نبي عليه الصلوٰة والسلام په کورونو کښې هغسے سختي وه- نو ازواج مطهراتو د سهولت درخواست اوکړه - نو نبي عليه الصلوٰة والسلام تے نه خفه شو- نو په خلقو کښې نشر شوه چه حضورؐ خپلے بیبیانےؓ رخصت کړے- نو په اصحابو دا خبره ګرانه شوه خصوصا په ابو بکرؓ او عمرؓ باندې نو دوی خپلے خپلے لونړه او زورلے او نبي عليه الصلوٰة والسلام یو میاشت د هجران حلف کړے وه نو په یو کم دیرشمه[۲۹] ورځ بنی ۴ راکوز شو او دغه میاشت کمه وه - او عائشےؓ صديقے ته ئے اووے چه زه یوه خبره کوم خو ته به تا دی نه کوئے او د ابئ دا دا نه به اذن غوا ړے نو دا آیات ئے ورته پیش که نو هغے اوُوے

پهٔ مارئے قطبیه تهمت ولګید و د دے د ترهٔ د دوی سرهٔ نو نبیؐ علیؓ ته اووے چه اذهب فاضرب عنقهٔ ځکه د نبیؐ یقین شوے وو نو علیؓ ناځاپه هغهٔ ولید و چه د هغهٔ ننګ کمسو شوے هو. اِنّهٔ مجبوبؓ مالهٔ ذکرؓ. نو علیؓ هغهٔ لرهٔ قتل نهٔ کړو ځکه علت د قتل موجود نهٔ ووؤ اګرچه صریح نص موجود ووؤ نو ده عمل ونکړو په دزیت د حدیث نهٔ په روایت د حدیث - ۱۲ (ازمقام ابي حنيفه مع الزيادة ۲۳۳)

محمد، عبداللہ، عبدالمطلب، ہاشم، عبدمناف، قصی، کلاب، مرة، کعب لوی، غالب، فہر، مالک، النضر، کنانہ، خزیمہ، مدرکہ، الیاس، مضر، نزار، معدہ، عدنان

چہ مشو دیته ضرورت نشته را فیك استشیرا بوی) زهٔ خدائے تم او دَ هغه رسول علیه السلام غوره کوم او ټولو بیبیانو رض داسے او کړه -

یانسآء النبیّ من یأت منکنّ بفاحشة مبینة الخ - ۳۰ -

عام مفسرین دَ فاحشے نه معروف فاحشه اخلی - او شیخ صاحب فرمائی چه فاحشه داده چه تاسو او وائی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دَ خپل اختیار مالک دے نو ځکه ئے دَ خپلے متبنیٰ دَ ښځے سره نکاح او کړه او تا بعداری داده چه دوی او وائی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام مامور من الله دے.

او هم دغسے تحقیق دے په " فلا تخضعن بالقول - ۳۲ - کښے -

یعنی عام مفسرین وائی چه په نرم انداز سره خبرے مکوئے لکه بازاری زنانه نو منافقان به غلط طمع او کړی - او شیخ رح فرمائی چه نرمه مهٔ وائی چه حضور علیه السلام دَ خپل اختیار مالک دے نو منافقان به دا طمع او کی چه اوس دوی دَ توحید خدمت نه شی کولے ځکه چه پخپل کور کښے مختلف شو -

وما کان لمؤمن ولا مؤمنة الخ - ۳۶ - زینب بنت امیه بنت عبد المطلب چه بالغه شوه نو نبی اراده او کړه دَ هغے دَ نکاح دَ زید رض سره نو په هغوی داخبره گرانه شوه - بیا دَ دے فرمانِ الٰهی دَ وجے نه منقاد شو او نکاح او شو نو زید رض با ندِ داغ دَ غلامئ وه نو کله زینب رض دَ ده خدمت کولو - نو زید صاحب رض په بار بار نبی علیه السلام ته او وے چه یا رسول الله علیه السلام ځما او دَ زینب څهٔ مناسبت دے - او اراده ئے دَ فراق کوله او نبی علیه الصلوٰة والسلام به منظوری دَ فراق نه کوله ځکه چه دوی مخکښے هم خفه وو - او کله طلاق اوشی نو بیا به دلجوئی دَ دوی په بله طریقه سره نه کیدی ترڅو چه نبی علیه السلام پخپله په نکاح سره نه وی قبوله کړے - او کله داسے اوشی نو خلق به وائی چه دَ خپل ځوئی دَ ښځے سره ئے نکاح او کړه - او الله تعالیٰ ته منظوره وه چه دا رسم وران شی - نو

عمر، خطاب، نفیل، عبدالعزیٰ، رباح، عبداللہ، قرط، رزاح، عدی، کعب

ابوبکر، ابوقحافہ، عثمان، عامر، عمرو، کعب، سعد، تیم، مرة

عثمان، عفان، ابوالعاص، امیہ، عبدشمس، عبدمناف

علی، ابوطالب، عبدالمطلب

علی - عبدالمطلب، عثمان - عبدمناف، عمر - کعب، ابوبکر - مرة

اودئ فرمائل - "وتخفی فی نفسك ما الله مبديه وتخشى الناس و الله احق ان تخشاه -۳۷- مراد ارا ده د نکاح ده - او دَ دے نکاح پیشین گوئی هم شوے وه پاتے شوه د محبت خبره حغه بعید ده - فافهم -

یاایها النبی انآ احللنا لك ازواجك التی اتیت اجورهن (۵۰) قسم اول وماملکت یمینك قسم ثانی[۲] وبنات عمك الخ قسم ثالث[۳] وامرأة مؤمنة الخ قسم رابع[۴] -

سبب کثرت ازواج

(۱) چه د مختلفو قومونو سره رشته او شی چه سبب د نشر د اسلام دے -

(۲) او چه احکام د زوجینو ضبط شی په سبب د کثرت د ازواجو سره -

(۳) جسمانی طاقت د بنی د څلوېښتو[۴۰] جنتیانو وه - او د یو جنتی طاقت د دنیا د سلو[۱۰۰] کسانو قدر دے نو څلور زره[۴۰۰۰] تنه جوړ شو - او د یو متوسط سړی د څلورو ښځو د تحمل طاقت کولے شی نو که بنی علیه الصلوة والسلام شپاړس زره[۱۶۰۰۰] ښځے کړے وے نو دا سے به وے لکه چه یو کس څلور[۴] ښځے اوکړی -

سره د دینه بنی علیه الصلوة والسلام نکاح کړے دے په پنځویشتم[۲۵] کال د څلویښتو[۴۰] کالو د کو نیے سره د هغے په تقاضی سره (۴) هر نکاح د بنی د مجبورئ د وجے نه شوی دے (تفصیل)

نسب د حضرت د پلار د طرفه :- محمد بن عبدالله بن عبد المطلب بن هاشم بن مناف -

او د مور د طرفه :- محمد بن امنه بنت وهب -

دوه[۲] میاشتے د پید ائش نه مخکینئے پلار وفات شو - په شپږم[۶] کال ئے مور وفات شوه - په اتم[۸] کال ئے نیکه وفات شه - نو چه د نهو[۹] کالو شه نو ابو طالب سره بصرے ته لاړ - بحیرا راهب قافلے لره دعوت اوکړ بنی علیه الصلوة والسلام چه راغے نو سورے د

ئے په مور ده د رضاع کښے حلیمه سعدیه ئے کره وه حلته د بنی علیه السلام شق الصدر اوشو نو ځکه ئے واپس څپل مور کره راوستو ورنه هغوی پرے ویرېدو ځکه نو ۱۲

فقد کان لمحمد سبعة اولاد الاربعة اناث ثلاثة ذکور وکانوا فی الترتیب فی الولادة هکذا،
القاسم، فزینب فرقیه ففاطمه فام کلثوم فعبد الله ویلقب بطیب وطاهر فابراهیم

اُونے دۀ ته کوږ شه - راهب دَ نبی علیه السلام نه تپوس اوکړ دَدین نو حضورؐ اوفرمائل چه تفصیل راته معلوم نه دے - البته دین دَ خدائے تعالیٰ په دنیا کښے توحید پکار دے او قوم م مشرک دے او تاسو هم غلط یئ -

په دے کښے اووه کسه سواره راغله دَ نبی علیه السلام په تلاش کښے نو راهب ورته اووے چه دلته هغه نبیؐ نشته -

راهب ابو طالب ته اووے چه وراره دے کور ته بوزه یهود به ئے هلاک کړی نو ابو طالب کور ته واپس شو -

په پنځلسم[15] کال نبی علیه السلام دَ خدیجےؓ[1] سره نوکر شه - دا مالداره کونډه وه - دَ نرو کار (غاروو) ورته حواله شه - بیا ئے دَ میسره سره شام ته اولیږه دَ تجارت دَ پاره - هلته حنطورا راهب اُووے میسره ته چه دا سردار دَ عالمین واپس کړ دَ یهودو نه خطره ده - نو سامان دَ تجارت هغه په غنیمه منافع خرڅ کړه او واپس شو نو دَ بشارت دَ پاره نبیؐ اولیږلے شو - او خدیجےؓ دَ کور دَ پاسه وه چه دَ بهره یو ښائسته مهمان راځی - دے مذ دوره او لیږلی دَ دعوت دَ پاره نو هغه محمدؐ وه - دَ دے په زړه کښے عشق پیدا شو - نو دَ ابو طالب په مشوره سره ئے دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام سره نکاح اوشه - نو دے خپل ټول مال نبی علیه الصلوٰة والسلام ته حواله کړو - او هغهؐ دَ خدائے په لاره کښے خیرات کړ -

(1) خدیجهؓ چه وفات شوه نو نبی علیه الصلوٰة والسلام خواب اولیده چه دَ ریخمو په کپړه کښے یو جینۍ ده - او ملک ورته وائی چه دا ستا بی بی ده - هغه عائشه صدیقهؓ[2] وه - په مکه مکرمه کښے ئے نکاح شوے دے په اووم[7] کال او په مدینه منوره کښے واده شوے ده په نهم[9] کال - او په اتلسم کال کونډه شه

وکلهم من خدیجه الا ابراهیم من ماریة القبطیه وماتوجمیعًا فی حیاته الا فاطمة فماتت بعده بستة اشهر - جمل سورة رعد عند قوله ولقد ارسلنا رسلًا جلالین ص
دحضرت خدیجےؓ عمر څلویښت کاله او دنبیؐ پنځویشت کاله وو، پنځویشت کاله رفاقت ئے دنبیؐ سره شوے ده

سوده بنت زمعه دده زوج سکران بن عمرو وو، حبشې ته ئې هجرت کړے وو
نو ځکه چه دوئ واپس شو مکې ته نو ده ۓ وفات شو او د خوله بنت حکیم په مشوره سره ۳۲۲

(۳) حفصه رضی الله عنها بنت عمر رضی الله عنه کونډه شوه۔ نو د عثمان ښځې بی بی ام کلثوم رضی الله عنها د نبی ﷺ لور مړه شوه۔ نو عمر صاحب رضی الله عنه عثمان رضی الله عنه ته اووے چه دا واخله نو هغه انکار او کړو او ابوبکر الصدیق رضی الله عنه سکوت او کړو نو نبی علیه الصلوٰة والسلام اووے چه حفصے رضی الله عنها لره به خدائے د عثمان رضی الله عنه نه ښه خاوند ورکړی او عثمان رضی الله عنه لره به خدائے د حفصے رضی الله عنها نه ښه ښځه ورکړی۔ نو حفصه رضی الله عنها ئې پخپله په نکاح واغستله او عثمان رضی الله عنه له ئې خپله بله لور رقیه رضی الله عنها په نکاح سره ورکړه۔

(۴) ام سلمه رضی الله عنها چه کونډه شوه نو منتظم ئې نه وه نو نبی علیه الصلوٰة والسلام په نکاح واغسته۔

(۵) د زینب قصه د نکاح قرآن کړیده۔

(۶) ام حبیبه رضی الله عنها د ابوسفیان لور وه خاوند ئې مرتد شه په حبشه کښې نو نبی علیه الصلوٰة والسلام دا په نکاح واغسته۔

(۷) حضرت جویریه رضی الله عنها په قید کښې راغلے وه نو د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ترس راغے نو آزاده ئې کړه او په نکاح ئې کړه۔

(۸) صفیه رضی الله عنها د خیبر د بادشاه لور وه خطره وه چه اصحاب ﷺ به مختلف شی نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ځان ته په نکاح کړه۔

دا رنګې سوده (۹) رضی الله عنها او میمونه (۱۰) رضی الله عنها او زینب بنت خزیمه (۱۱) رضی الله عنها او اسماء بنت (۱۲) رضی الله عنها
بنت حارث
نعمان خو دوی لره شرافت د صحبت نشتے۔

خدیجه رضی الله عنها او زینب رضی الله عنها بنت خزیمه د وفات د نبی ﷺ نه مخکښې وفات شوے
ام المساکین
وے۔

دړے (۳) د نبی علیه الصلوٰة والسلام وینځے وے د صحبت۔ ماریه قبطیه (۱) رضی الله عنها
ریحانه (۲) رضی الله عنها شمعون رضی الله عنها

څلور (۴) هلکان دی د نبی علیه الصلوٰة والسلام عبدالله (۱) - طیب (۲)
طاهر (۳) د خدیجې رضی الله عنها نه او ابراهیم د ماریې نه۔ ټول واړه وفات شوی
دی۔

مشوره سره دده نکاح اوشوه د نبی ﷺ سره۔
۲ دده نوم رمله دے۔
۳ دده نوم زینب دے صفیه ورته ځکه وائی چه نبی ﷺ د غنیمت نه ځان د پاره غوره کړے وه بنت حیی بن اخطب د سردار د بنو نضیر۔
۴ دا وینځه نیولې شوه وه دده د ... د خپلے وینځے د بنی مصطلق آزاده کړے۔

اوجینکئ خلور دی۔ فاطمه[۱] رض دحضرت علی رض بی بی۔ زینب[۲] رض د ابوالعاص بی بی۔ ام کلثوم[۳] اورقیه[۴] دحضرت عثمان رض بیبیانے دی۔ نسل صرف دفاطمے رض باقی دے۔

لا یحل لک النسآء من بعد الخ۔ ۵۲۔ پس[۱] دد ے افراد نه وسته نو ایات منسوخ دے په توؤی الیک من تشآء سره (۵۱) یا[۲] پس د دے اقسا مو ار یتوو نه نو ایات[۴] منسوخ نه شو۔

یاایها الذین اٰمنوا لاتکونوا کالذین اٰذوا موسیٰ الخ۔ ۶۹۔ تکلیف موسیٰ ته ئے رساؤ په اتهام[۱] د زنا سره یا په اتهام[۲] د قتل سره۔ یا[۳] دوی بربنډ لمبل او موسیٰ ع حیا ناک وه د دوی سره ئے نه لمبل نو دوی اووے چه په ده برګے دے یا ادر دے۔ نو موسیٰ ع لمبل سره د ننګ نه یو ائے اوجامے ئے په کټه ایخے وے نو کټه جامے اوتختولے نو دے وریسے روان شو او وئے وے ثوبی ثوبی حجر او کټهئے اووهله او دوی د موسیٰ بدن مبارک صاف اولید و سره د ننګ نه۔

انا عرضنا الامانة الخ۔ ۷۲۔ (۱) پیش م کړ امانت چه تکالیف شرعیه دی آسمانو نو او مزکے او غرونو ته یعنی د د ئے مناسبت م معلوم کړ د آسمانونو وغیره سره نو دوی منع وکړه (طبعًا) او په رته کړ دغه امانت انسان په ده کښې استعداد وه۔ ځکه چه دے جهول دے لیاقت د علم په کښې شته او ظالم دے لیاقت د عدل په کښې شته۔ او په شریعت عمل کیږی په علم او عمل سره۔ انجام ئے دادے چه عذاب به ورکی هغه چالره چه ظاهرے عمل کوی نه باطن او هغه چالره چه ظاهراً باطنا نه منی۔ او مهربان دے باری تعالیٰ په هغه چا چه منی ظاهراً او باطنًا (شاه ولی الله علیه الرحمة)

(۲) ما پیش کړ امانت (شریعت) آسمانونو او زمکے او غرونو ته

آیت
ان الله وملئکته الاٰیة (۵۶)
آن محمد افتخار مرسلین
آن محمد رحمة للعٰلمین
آن محمد حاذق امراض ما
آن محمد ذائق امراض ما
آن محمد اطمینان قلب ما
آن محمد داستان جوند ما
تو بگوای مسلم پرهیزگار
الصلوٰة بر محمد صد هزار (رومی)

د ابولهب خوئے خپله ښځه د نبی ... لور له طلاق ورکړو ... او ابوالعاص کفار ته جواب ورکړو چه زه خپله ښځه نه طلاقوم نو نبی تر دینه خوشحال شو د اد هغه د ایمان سبب شو په بدر کښې دے قید شو نو زینب خپل ښاروده په فدیه کښې ورلیګو، نو نبی هغه واپس کړو او ابوالعاص ئے ازاد کړو په دے شرط چه زینب را ولیږه نو هغه وفا وکړه۔ بقیه بر ۳۸۲

دوی منع اوکړه اَوْوُ یریده - او دا امانت پورته که انسان (ادم ع)
جنس انسان ظالم دے چه نا فهمانی کوی الخ - بز

(۳) ماپیش که امانت (کوم شے چه د څه کارد پاره پیدا اوی) غرونو وغیره
ته نو دوی منع وکړه دَخیا نت نه (حمل الامانة ای خانها) خازن -
ازجاج - اوخیا نت او که انسان - تائید؛ فقال لها وللارض
ائتیا طوعًا او کرهًا قالتا اتینا طائعین (حم السجده: ۱۱)

بز قال الله تعالی لآدم ع انی عرضت الامانة علی السمٰوٰت والارض
والجبال فلم تطقها فهل انت اٰخذها فقال یا رب وما فیها قال
ان احسنت جوزیت وان اسأت عوقبت فقال بین اذنی و
عاتقی قال الله تعٰ اما اذا تحملت فسأعینك واجعل لبصرك
حجابا فاذا خشیت فارخ علیه حجابا - (خازن)

آنکه دوش کوه بارش برنتافت	سطوت او زهرهٔ گردون شگافت
بنگر آن سرمایهٔ آمال ما	گنجد اندر سینهٔ اطفال ما

(علامه اقبال)

تمام شو احزاب بفضله تعالی

۲۸ - ۷ - ۱۴۰۱ھ

(وفات ابنی محمد موسیٰ کریو کال او څه میاشتے عمر کښے)

فکنیتی ابوموسیٰ وکنت احبه حبا شدیدا اللهم اجعله لی فرطا ومات بعده محمود الرحمٰن بهذا المرض وبهذا العمر اللهم اجعله ایضا فرطا وقد مات قبلها ابنی من امرأتی ام انور ابن اخر اسمه محمد اکبر اللهم اجعله لی فرطا -

ولد لی ولد محمد عاصم ۱۴۰۹ھ ۱۵ شعبان ۴ - ۱۰ - ۳ - صوم (۳) ۱۲

ولدت لی بنت اسمها همام ۳۰ صفر ۱۴۱۲ھ، ولد لی ولد اسمه محمد ابوهریرة ۲۷ شعبان ۱۴۱۶ھ

ومات قبلها ابنی اسمه خبیب بعد مرض مدید -

بقیه از صفحه ۳۸۰
پیا دشام په سفر کښې مسلمانانو ددوی نه سامان واخستو او ابوالعاص مدینې منورې ته وتښتیدو نو زینب ورله تمامان درکړو او نبی ع ددهٔ سامان دهٔ ته واپس کړو او ده بیا مکې معظمې ته لاړو او د کفارو امانتونه دهٔ واپس کړل او بیا مسلمان شو او مدینې ته یې هجرت وکړو نو نبی ع ددهٔ بی بی دهٔ ته حواله کړه - ۱۳۰ انحاشیه نفقة العرب

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

۳۴- سُوۡرَۃُ سَبَاۡ مَکِّیۡ دَ ے - ۵۸

بعد لقمان وقبل زمر - زمانۂ نزول دورِ اول یا دورِ متوسط ابتدا - دَ مکے معظمے -

ربط رفعیه شبهات چه وارد یدی په نفی دَ شفیع قهری بانډې -

خلاصه دَ داؤد[۱] ع۱۰ - او سلیمان[۲] ع۱۲ - او جنات[۳] ع۱۴ - او ملائکو[۴] ش۲۲ رفعیه شبهات - دلائل عقلیه څلور[۵] دی - یو[۶] دلیل نقلی دَ مخکینے کتابونو منونکو نه دے - یو[۷] دلیل دَ حق دے - اَتَه[۸] طریقے دَ تبلیغ دی - باقی تبعی مضامین دی -

فلما قضینا علیه الموت ما دلّهم علی موته الخ - ۱۴ سبأ

داعبارت النص دے په دے کښے چه جنات عالم الغیب نه دی اشارة النص دے په دے کښے چه په سلیمان علیه السلام بانډې باری تعالیٰ دَ مرګ حکم کړے دے او سلیمانؑ دَ خپلِ عصا نه ارضه نه شوه دفع کولے - او سلیمانؑ پس دَ مرګ نه دَ خپلے جُسے تحفظ نه شو کولے دَ ارتاو یدونه - او دلالت النص دے په دے کښے چه سلیمان علیه السلام پس دَ مرګ نه نۀ ځان ته فائده رسَولے شوه - او نۀ ئے ضرر دفع کولے شو - او په دے کښے چه دَ بل چا نۀ ئے هم ضرر نۀ شو دفع کولے او نۀ ئے فائده رسَولے شوه - او په دے کښے چه کل انبیآء او اولیآء چا ته فائده او نفع مافوق الاسباب نۀ شی رسَولے - البته ماتحت الاسباب نسبت دَ نفع او دَ ضرر نه دَ ان تکیدے شی - اګرچه خالق دَ هر شی یواز ے باری تعؒ : ے - دَ دینه معلومیږی خسران دَ هغه اموات نه طمع لری او خوف تے نه کوی او "الحی الذی لایموت"

لے په بصائر دَ محمد الله مولوی صاحب کښے په مرو ن اعداء هم و ینصح ن اولیاء هم رفا فهم ؛ سلیمان علیه السلام خو امداد نۀ شی کولے فنا الله المشتکی ۱۲

مرتهنا صم ۱۱ ۱۹ لحق غسا ن بلاش م و انمار بیثرب و جذام بتهامه و الازد بعمان - ابو سعود ۳۲ ج ۴ م -

د پرے لغت دے - (غریب)

الادآبة الارض - الارضة اضيف الى فعلها يقال ارضته الارضة الخشب ارضا (ابو سعود)-

ولقد كان لسبأ الخ - ۱۵ - ارتاد مورخ يوربين او اکا ترشیس یونانی مورخ دغسے تحقیق کړے دے لکه قرآن (عثمانی)

سيل العرم - سیلاب د ذور - یا د[1] بند[2] - سد مآرب دنلک ۱۵۰ فت اوپلن ۵۰ فت وه - (اشعار سباء) قال سباء-

(۱) سيملك بعدنا ملكًا عظيمًا	نبی لا يرخص فی الحرام
(۲) ويملك بعده منهم ملوك	يدينون القياد بكل دام
(۳) ويملك بعدهم منا ملوك	يصير الملك فينا باقتسام
(۴) ويملك بعد قحطان نبی	تقی مخبت خير الانام
(۵) يسمى احمد ياليت انی	أعمر بعد مبعثه بعام
(۶) فاعضده واحضره بنصری	بكل مدجج وبكل رام
(۷) متى يظهر فكونوا ناصريه	ومن يلقاه يبلغه السلام

ولا تنفع الشفاعة عنده الا لمن اذن له الخ - ۲۳ -

فالمشرك انما يتخذ معبوده لما يحصل له به من النفع والنفع لا يكون الا فيمن فيه خصلة من هذه الخصال الاربعة - اما مالك لما يريده العابد منه - فان لم يكن مالكا كان شريكا للمالك فان لم يكن شريكا له كان معينا له وظهيرا - فان لم يكن معينًا وظهيرًا كان شفيعا عنده - فنفى سبحانه تعالى المراتب الاربعة[1] مرتبا منتقلا من الاعلى الى دونه فنفى الملك والشركة والمظاهرة والشفاعة التي يطلبها المشرك واثبت شفاعة لا نصيب فيه للمشرك وهي باذن الله تعالى فكفى بهذه الآيات نورا وبرهانا - (شيخ الاسلام ابن تيمية)

وما انفقتم من شيئ فهو يخلفه الخ - ۳۹ -

(۱) وليمه - دواده خيرات (۲) الخرس دبچی د پیدا کیدو په ورځ خیرات -

وجفان كالجواب[1] (۲) پہ جفنه مونږ کي زیات خلق ډکیږی او په قصعه مونږ کی لږ کسه او په صحفه[2] مونږ کی پنځه کسه او په مأكله[3] مونږ کی دوه کسه او په صحفه مونږ کی یو تن لګه په پېښتو کښے دی خانګ خانګے کا شنبه[4] کا تسرے کونډاه مولنا ادریس صاحب ۱۲ ۱۳

القيان - القصاص
دام - خون
مدجج - تیاره دار
رام - برابر لار

احبوكة اسم
اعلوطة

(۳) الوکیرہ دکوټې د بناء خیرات۔ (۴) الوخیمه د مصیبت خیرات۔
(۵) العقیقه - په اوومه ورځ د ټچي خیرات او یا په خوارلسمه او یا
په یویشتمه - د هلک دپاره دوه نرې څاروی چه قربانۍ ته کیږي یا
یا یو یاکو لوئ څاروی او اومه حصه - او د جینۍ دپاره یو نر ے
څاروے یا اوومه حصه د لوئ څاروی - (۶) الاعذار - د سنتو
د ټچي خیرات پس د شفاء د شکرئے دپاره -(۷) النقیعه - د
مسافر کورته د را تلو خیرات - (۸) المادبة - دپاره د مهمان
اول ورځ ښه طعام - بیا دوه ورځې د خپل کور طعام - بیا دوسته
طعام ورلره مستحب دے خو پکار ده مهمان له چه بیا ځي (حاشیه
بخاري ص ۹۰۶ ج ۲) بتغیر -
(۹) الهدیة - یو بل ته راړلے ورکول - (۱۰) التصدقة - غرباء ته خیرات
کول د الله تعالیٰ دپاره مطلق یا مقید - البته د مقید حضورؐ صفت
نه کوی - او چه سړے د کږي مثلاً نذرا و کړی او بیا ئے حلال کړي
نو څا نله په تے نه نه خوری او نه به ئے خپلو بچو لره ورکوی - او
په ذبحه سره چه څومره په قیمت کښې تاوان راغے نو دغه تاوان
به ورکوی رمارتونلک بابا۶)
(۱۱) الوشوة - د غیر مشروع کار دپاره ذی اقتدار ته څه ورکول
د احرام دی اغستونکے او ورکونکے او دلال (۳) درے وارہ ملعون دی
البته د خپل حلال مال د بچ کولو دپاره مال ورکول جائز دی -
او اغستونکے ملعون دے -

قال علیه الصلوٰة والسلام مامن یوم یصبح العباد فیه الا ق
ملکان ینزلان فیقول احدهما اللهم اعط منفقا خلفا ویقول
الاٰخر اللهم اعط ممسکا تلفا (بخاری) (مشکوٰۃ ص ۱۶۴)

(ابیات)

ہرکہ کارد گرد وانبارش تہی   لیکن اندر مزرعہ باشد بہی

څوک چه کرکونه کوي نو انبار تش شي، لیکن په کرکښې ډیره فائده ده -

له په دوه ورځ د سنتو دا خیرات هم جائز دے (رہنمائے مولوی صاحب)

واگہ درانبار ماند و صرفہ کرد | الپش و موش و حوادث باش خورد
نان دہی از بہر او نانت دہد | جان دہی از بہر او جانت دہد
ای خدایا منفقان را دہ خلف | ای خدایا ممسکان را دہ تلف

قالوا سبحانك الخ ۔ ۴۱ ۔ دا د ملائکو جواب دے ۔ او د اولیاء جواب (الفرقان: ۱۸) او د انبیاء جواب (مائدہ: ۱۱۶)

وما بلغوا معشار ما آتینٰهم الخ ۔ ۴۵ ۔ (۱) نہ دہ رسیدلی پخوانی قومونہ عشر د هغہ دلائلو تہ چہ ورکړی دی ما دے اهل مکو تہ ۔
(۲) نہ دی رسیدلی اهل مکہ عشر د هغہ نعمتو نو تہ چہ ما ورکړی وُو پخوانو قومونو تہ ۔ تائید: لقد مکّنّٰهم فیما ان مکّنّٰکم فیه (احقاف: ۲۶)

وما یبدء الباطل وما یعید ۔ ۴۹ ۔ (۱) نہ اول پیدا کول کولے شی معبودان باطلہ او نہ دوبارہ پیدا کول کولے شی ۔
(۲) نہ بہ ظاہر شی دین باطلہ او نہ بہ بیا معادشی پس د حجة قرآنی نہ ۔

فی شك مریب ۔ ۵۴ ۔ پہ شک کینے چہ سرے بے قرارہ کوی ۔

ختم شو سورة سبا بفضلہ تعالیٰ
(۲۸ ۔ ۷ ۔ ۱۴۰۱ھ)

حیل بینهم وبین ما یشتهون ۔ ۵۴ صفۃ شی چہ دوعائے غواړی ۔ او د دوعا نہ بہ سخت منع شی صفۃ شہ (۱) ایمان تہ مقبول (۲) نجات (۳) واپسی دنیاتہ (۴) لذات (۵) عزتونہ ۔ (ازعثمانی)

(۱) صفۃ غلہ چہ پہ انبار وغیرہ کینے پاتے شی نو میږے او منږ کان وغیرہ خوری ۔
(۲) کہ د ورلہ وړکوے دالله د پارہ نو صفۃ بہ تالہ پاکہ د ورکړی دړکړی ۔ او کہ روح درکوے صفۃ لرہ نو صفۃ بہ تالہ همیشہ زندگی درکړی ۔
(۳) اے خدایا سخیانو لہ بدلہ ورکړہ ۔ اے خدایا بخیلانو لہ هلاکت ورکړہ ۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۳۵۔ سُوْرَۃِ فَاطِر مَکِّی دَہ۔ ۴۳

بعد الفرقان وقبل مریم۔ زمانہ نزول دور متوسط دَ مکے معظمے دے۔

